# په افغانستان کې قضايي بياکتنه

## يو نيمګړی عمل

غزال حارس

غبرګولی ۱۳۹۲

**د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد**
څېړنپاڼه

# په افغانستان کې قضايي بیاکتنه

## یو نیمګړی عمل

غزال حارس

غبرګولی ۱۳۹۲

هغه نظریات چې په دغه څېړنه کې وړاندې شوي په لیکوال پورې اړه لري او د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې د نظریاتو منعکس کونکې ندی.


| | |
|---|---|
| :ISBN | ۹۷۸-۹۹۳۶-۶۲۸-۸۸-۵ |
| د خپرونې کوډ | P ۱۷۲۳ |
| ژباړه | داکتر نظام الدین کتوازی |
| د پښتې طرح | احمد سیر علمیار |



© ۱۳۹۵ د خپراوي حقونه د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې (AREU)

یوازې د سوداګریزو موخو لپاره په نورو لیکنو کې د دغې خپرونې نکل او یادونه کېدای شي یا له سره تولیدېدای شي او په دې شرط چې د خپرونې د لیکوالانو او سرچینې نومونه په کې یاد شي. په دې خپرونه کې څرګند شوي نظرونه د لیکوالانو دي او حتمي نه ده چې د امریکا د متحده ایالاتو د سولې انسټیټوت (USIP) او AREU د نظرونو استازیتوب وکړي. ځینې حقونه یې خوندي دي. کومو ځایو کې چې دغه خپرونه بیا وړاندې کېږي، ساتل کېږي یا په الیکترونیکي ډول لېږدول کېږي نو هلته باید د www.areu.org.af (AREU) وېبپاڼه لینک ورکړل شي. له دغو اجازو پرته د خپرونې بل هر ډول کارولو لپاره باید په لیکلې بڼه له مرستیالو خپرونکو، افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره AREU څخه اجازه واخیستل شي. اجازه د دغه ایمیل: areu@areu.org.af یا دې شمېرې ۹۳۰۲۰۲۲۱۲۴۱۵+ له لارې لاسته راوړلی شئ.

# د لیکوونکې په باره کې

غزال حارس د اساسي قانون پر تطبیق باندې د څارنې د خپلواک کمیسیون کمیشنره او د افغانستان دامریکایی پوهنتون (AUAF) دقانون د پروفیسر مرستیاله ده. غزال حارس په دې پوهنتون کې د اساسی حقوقو درس ورکوي. دافعانستان په امریکایی پوهنتون کې له کار څخه مخکې، غزال حارس د افغانستان د کلیو د پراختیا پروگرام د تصدۍ اجرائیوی رئیسه وه. دا پروگرام د کلیو د پراختیا او بیا ودانونې په وزارت کې د ملي لومړیتوب پروگرام دی. غزال حارس د ۲۰۱۴م کال د ولسمشریزو ټاکنو په وخت کې د افغانستان د عادلانه ټاکنو د بنسټ ( فیفا ) مشره وه او په ۲۰۰۵م کال کې یې په پارلماني ټاکنو کې د ټاکنو د څارنې د سازمانونو د دندې په تقویه کولو کې فعال رول درلود. غزال حارس د هنګري په بودا پست کې د مرکزي اروپا په پوهنتون کې د ریسرچ په څانګه کې کار کاوه. هلته دې د اساسي قانون په محاکمو، د هغوی د واک د حدودو او په مرکزي او ختیځې اروپا کې د دغو محاکمو د بریاوو او ناکامیو په باب څېړنې کړې دي. غزال حارس د لندن پوهنتون د ختیځو او افریقایي څېړنو په څانګه (SOAS) کې د ماسټرۍ تر علمي درجې پورې تحصیلات کړي دي.

# د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداري (UERA) په اړه

د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد په کابل کې د څېړنې یو خپلواک بنسټ دی چې په ۲۰۰۲م کال په افغانستان کې د نړیوالې ټولنې له خوا جوړ شو. د افغانستان د څیړنی او ارزونی واحد موخه د شواهدو پر بنسټ د لوړ کیفیت او په پالیسی پوری اړوند څیړنی برابرول او په فعاله توګه د دغو څېړنو د پایلو نشرول او همداسی د شواهدو پر بنسټ د څېړنې او زده کړې د کلتور خپرول دی. د پنسیلوانیا د پوهنتون د راپور پر بنسټ، د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد په افغانستان کی د یوو څیړنیز بنسټ په توګه دلوړ مقام لرونکی دی او په منځنی آسیا کی د څیړنیزو بنسټونو په منځ کی په شپږم کچه کی ځای لری. د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد د خپلې موخې دلاسته راوړلو لپاره د پالیسیو جوړونکو، مدني ټولنې، څېړونکو او زده کونکو سره کار کوي چې دوی د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد له څېړنو او کتابتونه کار واخلي او د څېړنې په برخه کی خپله وړتیا لوړه کړي او د نظریاتو د څرګندولو، د شننو، او بحثونو لپاره لاره هواره کړي. د افغانستان د څیړنی او ارزونی واحد د مشرانو د بورډ لخوا چی د مرستندویه ادارو، سفارتخانو، ملګرو ملتونو، ځینی نوروسازمانونو، مدنی ټولنی او دخپلواکو کارپوهانو استازی په کی شامل دی، اداره کیږی.

**تمویلونکی:**

د دی اداری تمویلونکی د سویدن نړیواله انکشافی اداره (SIDA) او لاندی نور نړیواله بنسټونه دی:

The European Commission (EC), United States Institute of Peace (USIP), Norwegian Institute of International Affairs (NUPI), Overseas Development Institute (ODI-UK), Promundo (US), Sustainable Development Policy Institute (SDPI), Regional Environmental Centre for Central Asia (CAREC), Institute of Development Studies (IDS) and Swiss Agency for Development and Cooperation(SDC), School of Oriental and African Studies (SOAS), Economic and Social Research Council United Kingdom (ESRC-UK) and South Asian Association for Regional Cooperation (SAARC).

همدا راز دا اداره د لاندی نړیوالو بنسټونو غړیتوب هم لری:

Resolve Network,Secure Livelihoods Research Consortium (SLRC), Global Challenges research Fund (GCRF), A Conflict Sensitive Unpacking of The EU Comprehensive Approach to Conflict and Crisis Mechanism (EUNPACK)

# د متحده ایالاتو د سولې د انستیتوت (PISU) په اړه

د متحده ایالاتو د سولې انستیتوت د افغانستان له حکومت او مدني ټولنې له بنسټونو سره همکار کوي چې د قانون د واکمني د ټینګولو، د تاوتریخوالی او توند لاریتوب ضد، د سوله ییزو زده کړو د پراخولی، او د ښې حکومتولی او فساد ضد هڅو له لارې د بې ثباتي اساسي لاملونو ته پام و اړوي. د غه راز د متحده ایالاتو د سولې انستیتوت په افغانستان کې اوسنیو جګړو پوری اړوندو لاملونو په اړه پالیسی څیړنی تقویه کوی.

# مننه

غواړم له مرکه ورکوونکو څخه مننه وکړم، چې د دې څېړنې لپاره يې وخت او ارزښتناک معلومات راکړل. دغه راز، په اروپايي مرکزي پوهنتون کې د قانون له پروفيسر، ريناتي او تخ، د اساسي قانون پر تطبيق د څارنې دخپلواک کميسيون له مرستيال، پوهاند لطف الرحمن سعيد، د افغانستان په امريکايي پوهنتون کې د پروفيسر له مرستيال، پوهاند شعيب تيموري او د امريکا د متحده ايالاتو د سولې له انستيټيوټ څخه مننه وکړم، چې د دې ليکنې د لومړنيو نسخو په باب يې تبصرې کړې دي.

تر ټولو مهم، غواړم د افغانستان د څېړنې او ارزونې د واحد (AREU)، په ځانګړې ډول، له ډاکټرې اورځلا نعمت، د دې واحد مشرې، نادر نادري د واحد د پخواني مشر څخه د دوی د مرستو له امله مننه وکړم؛ او له آغلې لي ويلفريدا پيلونګو څخه تشکر وکړم، چې د څېړنې په بهير کې يې زياتې هڅې کړې او زغم يې ښودلی دی. په هر حال، په دې ليکنه کې د هرې نيمګړتيا مسؤوليت زما پر غاړه دی.

غزال حارس

جون ۲۰۱۷

د مسؤوليت رفع کول:

دغه ليکنه يو څېړنيز کار دی او د معتبرو علمي منابعو موندنې او له عمده معلوماتي مرکو څخه معلومات وړاندې کوي. سره له دې، چې د اساسي قانون پر تطبيق د څارنې دخپلواک کميسيون غړيتوب لرم، هڅه مې کړې ده، چې په دغې ليکنې کې عينيت (اصليت) او بې طرفي وساتم او له هر ډول تبعيض څخه ډډه وکړم. بيا هم، که چېرې د دې ليکنې په کومه برخه کې په غير عمدي ډول نه يم توانېدلې چې بې پلوي حفظ کړم، زه بخښنه غواړم.

# وړاندیز

د افغانستان د څیړنی او ارزونی واحد ویاړ لری چی د قضایی بیا کتنه: یونیمګړی عمل تر عنوان لاندی دا څیړنه چی د اساسی قانون په هکله د دوڅیړنیزو موضوعاتو څخه یو موضوع ده سږکال وړاندی کړی.

د افغانستان د څیړنی او ارزونی واحد د امریکا د متحده ایالاتو د سولی د انستیټیوټ له مالی مرستی او همکاری څخه مننه کوی. د دی کار په لومړی پړاو کی د افغانستان د څیړنی او ارزونی واحد کارونه د اساسی قانون د اصلاحاتو په موضوعاتو متمرکز وو. د کار په جریان کی روښانه شول چی ددی څیړنی لمن باید د ۲۰۰۴ کال اساسی قانون ته هم وغزول شی. په اوسنی پړاو کی دغه دوه وړاندی شوی څیړنی چی د ساحوی څیړنی، د اړوند خلکو سره د صلاح او مشوری او خلاصو خبری اتری، ددی څیړنی بیا کتنی او همداسی د افغانستان د څیړنی او ارزونی د کاری سیستم، چی لوړ کیفیت یقینی کوی ، په پایله کی ترلاسه شوی دی، تاسو ته وړاندی کیږی.

په اوسنی پړاو کی د افغانستان د څیړنی او ارزونی واحد د امریکا د متحده ایالاتو د سولی د انستیټیوټ په همکاری څیړن پوهانو او دخلاصو خبرواترو دمجالسو دګډونکونکو چی په کی پوهانو، سیاستمدارانو، لوړپورو دولتی چارواکو، او د مدنی ټولنی استاذو ګډون درلود او د تعاملی او پراخو خبرو اترو له لیاری د پوهی درامنځته کیدو په موخه جوړ شوی و چی ددی څیړنی د لا غنی کیدو سره مرسته وکړی،سره غوند کړی وو.

داڅیړنه غزال حارس چی د اساسي قانون پر تطبیق باندې د څارنې د خپلواک کمیسیون کمیشنره او د افغانستان په امریکایی پوهنتون (AUAF) کی دقانون استاذه ده، لیکلی ده.

د افغانستان د څیړنی او ارزونی واحد دیوو کامیاب څیړنیز مرکز په توګه چی علمی څیړنی تر سره کوی او د اساسی قانون په هکله یی داڅیړنه چمتو کړی ده ویاړ لری چی د شواهدو پربنسټ دا څیړنه وړاندی کړی تر سو د اساسی قانون داجراکولو په هکله د بحث او خبرواترو فضا رامنځته شی.

هیله لرم چی دا څیړنه د مینه والو په معلوماتو کی د زیاتوالی لامل وګرځی او هغوی په افغانستان کی د اساسی قانون داصلاحاتو نه ملاتړ وکړی.

په درناوی



داکتر اورځلا نعمت
د افغانستان د څیړنی او ارزونی رئیس

# د موضوعاتو لیکلړ

د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې (AREU) په اړه ..... ب

د متحده ایالاتو د سولې د انستیتوت (USIP) په اړه ..... ب

مننه ..... ج

وړاندیز ..... د

څېړندود ..... و

سریزه ..... ۳

۱. قضایي بیا کتنه څه شي ته وایي؟ ..... ۴

۲. د افغانستان د اساسي قانون په تاریخ کې قضایي بیا کتنه ..... ۶

۳. د ۲۰۰۴ کال په اساسي قانون کې قضایي بیا کتنه ..... ۸

۳.۱ په افغانستان کې د قضایي بیا کتنې کوم ډولونه عملي کیږي؟ ..... ۹

۳.۲ په قضایي بیا کتنه کې مجزا (تجزیه شوي) قواعد، تردیدونه او ورکې اجزاوې ..... ۱۰

۳.۳ د اساسي قانون د تفسیر واک ..... ۱۳

۴. قضایي بیا کتنه: ۱۲ کلنه تجربه ..... ۱۶

۴.۱ د قضایي بیا کتنې قانوني چوکاټ او کړنلارې ..... ۱۷

۴.۲ د قضایي بیا کتنې لپاره ارجاع ..... ۱۸

۴.۳ دقانوني او سیاسي دلیل ترمنځ د توازن نشتوالی ..... ۲۲

۴.۴ د قضایي بیا کتنې په باب د ځینو نظریاتو شننه ..... ۲۴

۴.۵ د افغانستان له اساسي قانون سره د نړیوالو معاهدو او تړونونو د تطابق بیا کتنه ..... ۲۸

۴.۶ قضایي بیا کتنې او د اساسي حقوقو ساتنه ..... ۳۰

۵. د اساسي قانون څارنه ..... ۳۲

۵.۱ د اساسي قانون پر تطبیق د څارنې د خپلواک کمیسیون قانوني چوکاټ ..... ۳۳

۵.۲ د څارنې د رسالت اجراء کول ..... ۳۶

پایله ..... ۳۸

اخځلیکونه ..... ۴۱

# څېړندود

دغه څېړنه د میزې څېړنې او لومړنې معلومات، علمي مقالو، د کنفرانس د راپورونو او نورو علمي منابعو څخه استفاده شوې ده، چې په مجموعي ډول د اساسي قوانینو او په ځانګړې ډول د افغانستان په اړه لیکل شوي دي. په مرکو کې دا لاندې مسلکي کسان شامل وو: د سترې محکمې غړي او کارکوونکي، د اساسي قانون پر تطبیق د څارنې د خپلواک کمیسیون غړي، پوهان، قاضیان او قانونپوهان او مسلکي اشخاص. دغه لیکنه په نورو هیوادونو کې د قضایي بیاکتنې، د هغې د هدف او عملي بڼې د تیوریکي مطالعې او د افغانستان د اساسي قانون په تاریخ کې د قضایي بیاکتنې او د ۲۰۰۴م کال د اساسي قانون لاندې د هغې د عملي بڼې د تجربې د مطالعې یو ترکیب دی.

# اجرائیوي لنډيز

قضايي بياكتنه د يوې محكمې يا ورته بنسټ ځواک دی، چې قوانين او عامه لايحې تر كتنې لاندې نيسي او له اساسي قانون سره د هغو د سموالي په باب پرېكړه كوي. كه څه هم مربري فون ماډيسن د امريكا په متحده ايالاتو كې د دې فعاليت پيل په گوته كوي، د دوهمې نړيوالې جگړې څخه په وروسته موده كې قضايي بياكتنې په اروپا كې عموميت پيدا كړ. له دغه وخت راهيسې دغه عمل د نړۍ په ټولو برخو كې په چټكۍ سره وده وكړه. نن ورځ، نږدې ټول اساسي قوانين قضايي بياكتنه له قانون سره د مطابق حكومت او د قانون د واكمنۍ د يوه بنسټيز عنصر په څېر پېژني. له دې امله قضايي بياكتنه د اوسنيو اساسي قوانينو په يوه حتمي جزء باندې بدله شوې ده.

د قضايي بياكتنې عناصر په افغانستان كې د شلمې پېړۍ په ډېرو اساسي قوانينو كې راڅرگند شوي دي. سره له دې هم، چېد ۱۹۸۷م كال اساسي قانون څخه پرته، هيڅيوه اساسي قانون قضايي بياكتنې ته په خپل متن كېځاى نه دى وركړى او نه يې كوم بنسټ ته داواک وركړى. په افغانستان كې له جگړو څخه وروسته د ۲۰۰۴م كال اساسي قانون دغه قانون تر بياكتنې لاندې ونيو او سترې محكمې او د اساسي قانون پر تطبيق باندې د څارنې خپلواک كميسيون ته يېواک وركړ، چې په ترتيب سره له اساسي قانون سره د تصويب شويو قوانينو او عامه دعوو له مطابقت څخه ډاډ ترلاسه كړي. د اساسي قانون د تطبيق په لومړنيو كلونو كې، كومه ستونزه نه ده ليدل شوې او قوانين د چيک او بيلانس لپاره د قوي تدابيرو په څېر ستايل شوي دي. يوازې په څو كلونو كې په قضايي بيا كتنې پورې د اړوندو احكامو په متن كې كمزورتيا د افغانستان په اساسي قانون كې هغه مواد وو، چې تر ټولو زيات د يحثوړ وو. قضايي بيا كتنه د اساسي قانون په متن كې نه يوازې پېچلباو په پراخ مفهوم پاتې شوه، بلكې ثابته يې كړه، چې د هغې بنسټيزه كول هم په عمل كې يو ستونزمن كار دى؛ دواړو بنسټونو چې واک ورته وركړل شوی، هيڅكله قضايي بياكتنه نه ده عملي كړې.د يو شمېر قضيو مطالعه د قضايي بياكتنې په ترڅ كې د سترې محكمې بې ثباتي څرگندوي. په ډېرو پرېكړو كې محكمې د قانوني دلايلو په ځاى سياسي هغو ته تمايل ښوولی. دغه بېلگې همدا راز ښيي، چې د قضايي بياكتنې د اجراء ډول او نمونې هغه په يوې خطرناكې وسيلې بدله كړې ده، چې د حكومت د اجرائيه قوې د گټو په خدمت كې لوبېږي. په دې برسېره، هغه طريقه چې په ترڅ كې يې قضايي بياكتنه په افغانستان كې عملي كېږي داسې وسيله نه ده، چې د وگړو بنسټيز حقونه وساتي. دغه شرايط د يوه بنسټ په څېر د قضايي قوې كمزوري څرگندوي چې بشري حقونه وساتي.

دغه راز د اساسي قانون پر تطبيق باندې د څار د خپلواک كميسيون رول د اساسي قانون د ارزښتونو او اصولو په ساتلو او د دولتي بنسټونو په ذريعه ددغو اصولو له ماتولو څخه په مخنيوى كې ډېر اغېزناک نه و. د اساسي قانون پر تطبيق د څارنې خپلواک كميسيون له پيل څخه د دولت د اجرائيه، مقننه او قضائيه قوو تر منځ له شخړو څخه رنځيدلې. كه څه هم كميسيون يوښكارهځواكدرلود: په اساسي قانون څارنه او يوشخړهييزځواک، د اساسي قانون تفسير، كميسيونډېرځله وروستى ځواک كارولی، بې له دې، چې يو حكومت د اساسي قانون پر بنسټ او په دې ذريعه د قانون واكمنې د خپل اساسي واک په څېر تقويه كړي.

## سپارښتنې:

په افغانستان كې د اساسي قانون د تطبيق ۱۲ كلنې تجربې د قضايي بيا كتنې د كشالې د حل لپاره كومک نه دى كړى. له دې امله افغانستان بايد له فرصت څخه استفاده وكړي او د اساسي قانون د تعديلاتو له لارې د لاندينيو گامونو په اخيستلو د قضايي بيا كتنې عمل او د اساسي قانون له تطبيق څخه نظارت تقويه كړي.

## په اوږد مهال كې:

۱. دولت بايد د اساسي قانون يوه محكمه تاسيس كړي چې په اساسي قانون كې د تېرې لسيزې برياوې خوندي وساتي. يوه خپلواكه محكمه بايد د دوو نهادونو په منځ كې د تفسير د صلاحيت پر سر سيالي ته د پاى ټكى كېږدي او د دې توان ولري چې له وروستيو او الزامي پرېكړو سره- د قضايي بيا كتنې، د اساسي قانون تفسير ، د اساسي قانون له تطبيق څخه د نظارت پوښتنو او د قضايي كتنې نورو اجزاوو ته ځواب ووايي او په افغانستان كې د اساسي قانون پر بنسټ د يوه قوي رژيم ظهور تقويه كړي.

## په نژدې راتلونکي کې:

۲. ستره محکمه باید سم لاسي لاس په کار شي چې د اساسي قانون د۱۲۱ مادې سره په تطابق کې د قانون یوه مسوده تیاره کړي کومه چې د قضايي بیا کتنې حدود او طرزالعمل بیانوي او هغه د تصویب لپاره ملي شورا ته وړاندې کړي.

۳. ستره محکمه باید هڅه وکړي چې قاضیان باید د قضايي بیا کتنې د مفهوم او نظري اړخونو، او د هغو طرزالعملونو او لارښونو په اړه چې له دوی سره سترې محکمې ته د قضايي بیا کتنې په غرض په ارجاع کولو کې کومک کوي، لازمې روزنې وویني.

۴. د قضایه قوې حقوقي استدلال په ټولو قضیو او خصوصاً د قضايي بیا کتنې په قضیو کې باید تقویه شي او په قانوني استدلال ولاړ وي نه په سیاسي انګېزو. ستره محکمه باید یقیني کړي چې قضايي فیصلې په استدلال او منطق ولاړې، ثابتې او په عام ډول د لاس رسي وړ وي.

۵. قضایه قوه باید نورې هڅې وکړي چې قضايي خپلواکي، داخلي ظرفیت او سپېڅلتوب تقویه کړي. ستره محکمه باید تدابیر ونیسي چې د محکمې بې طرفي تامین کړي او په خاص ډول د قضايي بیا کتنې په قضیو کې او د دې ډاډ ورکړي چې قضايي بیا کتنه د کنترول د یو میکانیزم په ډول ثابت شي نه د اجرایه قوې د ګټو لپاره.

۶. ستره محکمه او د اساسي قانون پر تطبیق د څارنې خپلواک کمیسیون باید په زیاته همکاري او همغږۍ کې کار وکړي څو یقیني کړي چې دوی د اساسي قانون برتري ساتي او په افغانستان کې د قانون د واکمنې سره مرسته کوي. د دوو نهادونو په منځ کې منفي رقابت یوازې د اساسي قانون نظام کمزوری کوي. دواړه نهادونه باید په لېکلي ډول د اساسي قانون د تفسیر او د اساسي قانون د بیا کتنې د صلاحیتونو په اړه په ترتیب سره د سترې محکمې او د اساسي قانون پر تطبیق د څارنې د خپلواک کمیسیون سره موافقه وکړي.

۷. د اساسي قانون پر تطبیق د څارنې خپلواک کمیسیون باید په خپل اختصاصي قانون کې تعدیلات وړاندې کړي تر څو حقوقي چوکاټ مشخص کړي او د خپل صلاحیت حدود په ښه ډول تعریف او ترسیم کړي. اجرایه ، مقننه او قضایه قوې باید د اساسي قانون پر تطبیق د څارنې خپلواک کمیسیون د صلاحیتونو په هکله یوې دوې اړخیزې موافقې ته ورسیږي.

۸. د اساسي قانون پر تطبیق د څارنې خپلواک کمیسیون باید د اساسي قانون له تطبیق څخه د نظارت او د هغو له نقض څخه د څارنې اغېزمن میکانیزمونه ایجاد کړي. کمیسیون باید د اساسي قانون د نقض په صورت کې ډېر فعالیت وکړي او په منظم ډول له دولتي نهادونو سره اطلاعات تبادله کړي څو داساسي قانون له ښه تطبیق څخه ډاډ تر لاسه شي.

# سریزه

قضايي بياكتنه د يوې محكمې يا ورته نهاد ځواك دی چې قوانين او عامه لايحې تر كتنې لاندې نيسي او له اساسي قانون سره د هغو د سموالي په باب پرېكړه كوي. كه څه هم مربري فون ماډيسن د امريكا په متحده ايالاتو كې د دې فعاليت پيل په گوته كوي، د دويمې جهاني جگړې څخه په وروسته موده كې قضايي بياكتنې په اروپا كې عموميت پيدا كړ. له دغه وخته راهيسې دغه عمل د نړۍ په ټولو برخو كې په چټكۍ سره وده وكړه. نن ورځ، نژدې ټول اساسي قوانين قضايي بياكتنه له قانون سره د مطابق حكومت او د قانون د واكمنۍ د يوه بنسټيز عنصر په څېر پېژني. له دې امله قضايي بياكتنه د اوسنيو اساسي قوانينو په يوه حتمي جز باندې بدله شوې ده.

د قضايي بياكتنې عناصر په افغانستان كې د شلمې پېړۍ په ډېرو اساسي قوانينو كې راڅرگند شوي. سره له دې هم، چې له **۱۹۸۷** كال اساسي قانون څخه، هيڅ يوه اساسي قانون قضايي بياكتنې ته په خپل متن كې ځای نه دی وركړی او نه يې كوم نهاد ته دا صلاحيت وركړی. په افغانستان كې له جگړو څخه وروسته د **۲۰۰۴** كال اساسي قانون دغه قانون تر بياكتنې لاندې ونيو او سترې محكمې او د اساسي قانون پر تطبيق باندې د څارنې خپلواك كميسيون ته يې صلاحيت وركړ چې په ترتيب سره له اساسي قانون سره د تصويب شويو قوانينو او عامه دعوو له مطابقت څخه ډاډ حاصل كړي. د اساسي قانون د تطبيق په لومړينو كلونو كې، كومه ستونزه نه ده ليدل شوې او قوانين د چيک او بيلانس لپاره د قوي تدابيرو په څېر ستايل شوي دي. يوازې په څو كلونو كې په قضايي بيا كتنې پورې د مربوطو احكامو په متن كې كمزورتيا د افغانستان په اساسي قانون كې هغه مواد وو چې تر ټولو زيات د مناقشې وړ و. قضايي بيا كتنه د اساسي قانون په متن كې نه يوازې مبهم او په پراخ مفهوم پاتې شوه، بلكې ثابته يې كړه چې د هغې نهادينه كول هم په عمل كې يو ستونزمن كار دی؛ دواړو نهادونو چې صلاحيت ورته وركړل شوی هيڅكله قضايي بياكتنه نه ده عملي كړې.

د يو شمېر قضيو مطالعه د قضايي بياكتنې په ترڅ كې د سترې محكمې بې ثباتي څرگندوي. په ډېرو پرېكړو كې محكمې د قانوني دلايلو په ځای سياسي هغو ته تمايل ښوولی. دغه بېلگې همدا راز ښيي، چې د قضايي بياكتنې د اجرا ډول او نمونې هغه په يوې خطرناكې وسيلې بدله كړې چې د حكومت د اجرائيه قوې د گټو په خدمت كې لوېږي. په دې برسېره، هغه طريقه چې په ترڅ كې يې قضايي بيا كتنه په افغانستان كې عملي كيږي داسې وسيله نه ده چې د افرادو بنسټيز حقونه وساتي. دغه شرايط د يوه نهاد په څېر د قضايي قوې كمزوري څرگندوي چې بشري حقونه وساتي.

دغه راز د اساسي قانون پر تطبيق باندې د څارنې د خپلواک كميسيون نقش د اساسي قانون د ارزښتونو او اصولو په ساتلو او د دولتي نهادونو په ذريعه ددغو اصولو له ماتولو څخه په مخنيوي كې ډېر اغېزناك نه و. د اساسي قانون پر تطبيق د څارنې خپلواک كميسيون له پيل څخه د دولت د اجراييه، مقننه او قضائيه قوو تر منځ له شخړو څخه رنځېدلی. كه څه هم كميسيون يو صريح ځواك لري: په اساسي قانون څارنه او يو متنازع ځواك: د اساسي قانون تفسير، كميسيون ډېر ځله وروستي ځواك كارولی، بې له دې چې د اساسي قانون پر بنسټ يو حكومت او په دې ذريعه د قانون واكمنۍ د خپل اساسي صلاحيت په څېر تقويه كړي.

له دې امله ، دغه ليكنه استدلال كوي چې قضايي بيا كتنه په افغانستان كې د اساسي قانون د انفاذ په تېرو **۱۲** كلونو كې له ډېرو گواښونو سره مخ وه. په دغو ستونزو كې په عمده ډول په افغانستان كې د داسې يوه نهاد عدم تجربه وه چې د **۲۰۰۴** كال د اساسي قانون په متن كې ابهام دغه ستونزه زياته كړې وه. د قانوني چوكاټ نشتوالي او د قضايي بيا كتنې د پرمختگ لپاره په قضايي قوه كې د لېوالتيا نشتوالي په دې لار كې نورې ستونزې وې. په نتيجه كې د اساسي قانون بيا كتنه او پرمختگ په عمل كې وځنډېد او د اساسي قانون پر بنسټ د چيک او بېلانس د ساتلو يو فعال سيستم ظهور له ستونزو سره مخامخ شو. د اساسي قانون پر بنسټ اوسني ميكانيزمونه نه شي كولای هغه پراخېدونكي بحران ته ځواب ووايي چې د دې مسالې پر سر راپورته شوی دی.

دغه ليكنه په لومړۍ برخه كې د امريكا په متحده ايالاتو او اروپا كې قضايي بيا كتنې ته يو لنډ نظر اچوي، ور پسې په دويمه برخه كې په افغانستان كې د قضايي بيا كتنې د تاريخ يو لنډيز بيانوي. درېيمه برخه د اوسني اساسي قانون پر بنسټ د قضايي بيا كتنې عمل او د قضايي بيا كتنې په پرمختگ او ودې باندې د اساسي قانون د تعبير پر سر د مخالفتونو اغېزې او د اساسي قانون پر تطبيق د څارنې د خپلواک كميسيون نقش او اغېزمنتوب تر شننې لاندې نيسي. د ليكنې وروستۍ برخه په افغانستان كې د اساسي قانون په اړه وروستيو تجربو او ځينو مقاعسوي بېلگو ته په كتو سره د قضايي بيا كتنې د عملي ښه والي په غرض سپارښتنې وړاندې كوي.

# لومړۍ برخه: قضايي بيا کتنه:

## ۱. قضايي بيا کتنه څه شي ته وايي؟

قضايي بيا کتنه چې قانوني کتنه [۱] هم ورته وايي، د يوې محکمې يا هغې ته ورته واک لرونکي بنسټ [۲] ځواک دی، چې د ليکلي اساسي قانون پر بنسټ [۳] د يوه قانون سموالی تعينوي يا د يوه حکومت چلند تر ارزونې لاندې نيسي. په بله ژبه، اساسي قانون بيا کتنه د مقننه او اجرائيه اورګانونو لپاره د څارنې يو ميکانيزم دی، چې د خپل ځواک حدود مراعات کړي، لکه څنګه چې د اساسي قانون په ذريعه مشخص شوي دي. [۴]

قضايي بيا کتنه د امريکا په متحده ايالاتو کې په هغه وخت کې ډېر ارزښت پيدا کړ کله، چې سترې محکمې په (۱۸۰۳) کې وويل، چې حق لري له اساسي قانون سره د يوه قانون د مغايرت [۵] د اعلانولو په ذريعه د کانګرس ځواک محدود کړي. له دغه وخت راهيسې، قضايي بيا کتنه د امريکا د متحده ايالاتو د قضايي قوې يو اساسي عنصر وګڼل شو او د محکمو له خوا په غير متمرکز ډول په عمل کې پلې کېږي. سره له دې، د قضايي بيا کتنې دود په اروپا کې بدلون وليد. هلته دغه واک په يوه مرکزي بنسټ کې راټول شوي و: د اساسي قانون محکمې دغه ماډل، چې په عمده ډول د هانز کسيلين له خوا طرح شوی و، د لومړي ځل لپاره په ۱۹۲۰ کې د اطريش په اساسي قانون کې راڅرګند شو. [۶] له هغه وروسته آلمان، ايټاليا او فرانسې هم له دوهمې نړيوالې جګړې وروسته دغه ماډل غوره کړ. په اروپا کې نورو ډېرو دولتونو په وروسته مرحله کې [۷] دغه لار تعقيت کړه، چې د شکل او واکونو له پلوه سره توپير لري.

د قضايي بيا کتنې درې ډولونه دي: خاصه بيا کتنه، عامه بيا کتنه، او انفرادي قانوني شکايتونه. په يوه خاصه بيا کتنه کې د دعوا د اقامه کېدو څخه پرته د يوه قانون مطابقت له اساسي قانون سره تر بيا کتنې لاندې راځي. په عامه بيا کتنه کې په محکمه کې د يوې دعوې د اقامې په بهير کې له اساسي قانون سره د يوه قانون مطابقت ګواښل کېږي. د انفرادي قانوني شکايتونو په صورت کې، افراد شکايت کوي، چې د دوی اساسي حقوق د عامه قانون يا چارواکي له خوا نقض شوي دي. [۸] د امريکا په متحده آيالاتو کې، قضايي بيا کتنه د قضايي قوې اساسي دنده ګڼل کېږي، په دې شرط، چې د قانونيت ګواښ په محکمه کې د مرافعې غوښتنې په څېر مطرح شي. دا ډول قضايي کتنه "عامه" بيا کتنه ده. د امريکا په متحده آيالاتو کې هيڅ يوه محکمه نه شي کولای له اساسي قانون سره د يوه قانون په مطابقت باندې د مرافعې غوښتنې څخه پرته پرېکړه وکړي. په دې ډول، د عادي او حقوقي مرافعه غوښتنې په منځ کې يا د دعوې د دې

---

۱ د "اساسي قانون بيا کتنه" او د "قضايي بيا کتنه" اصطلاحات په دې ليکنه کې په مترادف ډول کارول شوي دي.

۲ د فرانسې د اساسي قانون شورا يو معروف مثال دی. د فرانسې د اساسي قانون د قضايي ماهيت په هکله وګورئ: ميشايل ايچ ډيويډ، "د قانون/ سياست تفريق (distinction)، د فرانسې د اساسي قانون شورا او د امريکا د متحده ايالاتو ستره محکمه، " د امريکا د مقايسوي قانون مجله ۳۴، شماره ۱ (۱۹۸۲).

۳ مارک تشنيت، "د قضايي بيا کتنې نوي شکلونه او د هغه په وړاندې د حقوقو- او ديموکراسۍ پر بنسټ ولاړو اندېښنو مقاومت"، د wake forest law ۳۸ (۲۰۰۳): ۱۴-۸/۳/۸ او ټام ګينز برګ، "د اساسي قانون مقايسوي بيا کتنه"، د امريکا متحده ايالاتو د سولې انسټيټيوټ، مفصل راپور، .http://www usrp.org ۲۰۱۱

۴ محمد هاشم کمالي، د افغانستان د اساسي قانون لس کلونه؛ موضوعات يې کوم دي؟ (کابل، افغانستان ، د څېړنې او ارزونې خپلواکه اداره، ۲۰۱۴) مخ۳۰.

۵ د سترې محکمې د فيصلې په يوه برخه کې راغلي: "دا د قضايي څانګې قلمرو او مسوؤليت دی چې قانون څه شی دی...... که يو قانون له اساسي قانون سره مغايرت ولري، که دواړه عادي قانون او اساسي قانون په يوه قضيه باندې د تطبيق وړ وي...... محکمه بايد فيصله وکړي، چې له دغو متنازعو قواعدو څخه کوم يو يې په قضيه باندې حکم کولای شي. دغه کار د قضايي څانګې د وظايفو يوه اساسي برخه ده. که وروسته بيا محکمه اساسي قانون ته ارزښت ورکوي، او اساسي قانون تر بل عادي قانون لوړاوی ولري، په دې حالت کې چې دواړه قوانين په موضوع باندې د تطبيق وړ وي. اساسي قانون ته ترجيح ورکول کيږي نه عادي قانون ته. " مربری او ماډيسن، ۵، د امريکا متحده ايالات ۱۳۷ (۱۸۰۳).

۶ ايس سټون سويټ، "ولې اروپا امريکايي قضايي بيا کتنه مسترده کړه؟ او ولې بې اثره ده؟" د ميشيګان د قانون بيا کتنه ۱۰۱ (۲۰۰۲-۳)، ۲۹-۲۷۲۵.

۷ دغه ډول محکمې په اطريش (۱۹۴۵)، ايټاليا (۱۹۴۸)، د المان فدرالي جمهوريت (۱۹۴۹)، فرانسه(۱۹۵۸)، پرتګال(۱۹۷۶)، هسپانيه(۱۹۷۸)، بلجيم(۱۹۸۵) کې تاسيس شوې او له کمونيستي دوران وروسته په چکوسلواکيا هنګري، پولنډ، روماتيا، روسيه، سلواکيا، بالتيک دولتونو او د پخوانۍ يوګوسلاويا په څو دولتونو کې جوړې شوې. اليس، سټون سويټ، له قاضيانو سره حکومتولي په اروپا کې د اساسي قانون سياست (اکسفورډ، نيويارک، اکسفورډ پوهنتون چاپ ۲۰۰۰)، ۳۱.

۸ همدا ماخذ ۴۴-۴۵.

دوو ډولونو په اړه د محکمې په کړنلارو کې توپير نشته.[۹] په اساسي قانون پورې د تړلو مسئلو په اړه د مرافعې غوښتنه محاکمو ته د دې فرصت ورکوي، چې "د هغو عيني شرايطو په د ننه کې چې مسئلې رامنځ ته کيږي" پرېکړه وکړي "د دې پر ځای چې په مجرد ډول په هغو قضاوت وکړي"[۱۰]

د قضايي بيا کتنې د اروپايي ماډل[۱۱] توپير په دې کې دی، چې دلته مدني قانون مرافعه غوښتنه د مدني، جنايي، تجارتي او اداري قضيو په کټګوريو وېشي. د موضوع پر بنسټ قضاوت دوديزې قضيې له هغو قضيو څخه بېلوي، چې په اساسي قانون پورې اړه ولري او د اختصاصي محکمو غوښتنه کوي، چې ځانګړې کړنلارې ولري.[۱۲] څرنګه چې د اساسي قانون محاکم خپلواک دي او له عادي مرافعې غوښتنو سره سروکار نلري، اروپايي ماډل د خاصو بيا کتنو لپاره پرانستی دی. په دې برسېره، په اروپا کې د دې محکمو تاسيس د اساسي قانون د محاکمو لپاره د هغوی د واک په اړه يو پراخ ډګر پرانستی دی. د اساسي قانون محکمې يو لړ نور واکونه اِعمالوي چې د امريکا د متحده آيالاتو په محاکمو کې د هغوی بېلګې نه ليدل کيږي. په دې واکونو کې د دولتي بنسټونو د کړنو بيا کتنه، د حکومت د اورګانو په منځ کې د اختلافونو رفع کول، د ټاکنو قانونيت په اړه پرېکړې نيول، له اساسي قانون سره د سياسي ګوندونو د مطابقت ارزول او نور واکونه شامل دي.[۱۳]

کېدای شي د يوه قانون قضايي بيا کتنه د قانون له انفاذ څخه مخکې وشي، چې مخکېنۍ بيا کتنه ده؛ يا د قانون له انفاذ څخه وروسته وشي، چې وروستۍ بيا کتنه ده.[۱۴] لومړۍ بيا کتنه چې په ځانګړو بيا کتنو کې تر سره کيږي، په فرانسه کې تر ۲۰۰۸م کال پورې جاري وه او نورو هيوادونو چې ورته اساسي قوانين لري، هم له دغه ډول قضايي بيا کتنې څخه کار اخيستی دی. دوهمه قضايي بيا کتنه چې د مشخصې قضايي بيا کتنې د يوه جزء په څېر اعمال شوې، د امريکا په متحده آيالاتو او هغو هيوادونو کې تر سره شوې چې ورته اساسي قوانين لري.[۱۵]

کله چې يو قانون له اساسي قانون سره مغاير وپېژندل شي، دهغه قانونيت په بېلا بېلو قضايي حوزو کې توپير کوي. لومړی، په ځينو هيوادونو کې، د امريکا متحده آيالات يې يوه بېلګه ده،چې قانون باطل نه اعلانيږي. سره له دې، د پخوانيو مقرراتو او پرېکړو څخه د پيروۍ پر بنسټ يا د هغه عرف پر بنسټ چې غير مدون قانون يې پيروي کوي، مخکېنۍ قضيه په راتلونکو ورته قضيو باندې د تطبيق وړ ګڼل کيږي.

دوهم په هغو ملکونو کې، چې د پارلمان لوړاوي ته ارزښت ورکوي لکه په فرانسه کې، محکمې ښايي يو قانون باطل نه کړي، بلکې دوی پارلمان ته سپارښتنې کوي، چې قانون لغوه کړي يا په هغه کې بدلونونه راولي. دربيم، په نورو قضايي محکمو کې، په عمده ډول په اروپايي هغو کې محکمې ښايي قانون يا د قانون هغه برخې، چې د دوی په نظر له اساسي قانون سره توپير لري په سم لاسي ډول لغوه اعلان کړي.[۱۶] دغه شرايط په خاصه او هم په عامه بيا کتنه کې لېدل کيږي. په وروستۍ بيا کتنه کې له دې امله رامنځ ته کېدای شي، چې د تدوين شويو قوانينو په قضايي واک کې له مخکېنيو مقرراتو او پرېکړو څخه په کلکه سره پيروي نه کيږي.

---

۹ کوستافو فرديناندلس دی اندرادي ، "مقايسوي اساسي قانون: قضايي بيا کتنه، " د اساسي قانون ژورنال ۳، شماره ۳ (۲۰۰۱)، مخ ۹۷۹.

۱۰ دونالد ، ايل ، هورو ويڅ، "د اساسي قانون محکمې : فرصتونه او خطرونه" ( د اساسي قانون ۲۰۰۳)، ويب مخ ۱۰

۱۱ ليکنه په عمده ډول د لويديځې اروپا د قضايي بيا کتنې په ماډلونو فوکس کوي.

۱۲ اندرادي ، "مقايسوي اساسي قانون: قضايي بيا کتنه. "

۱۳ دونالد هوروويتڅ، د اساسي قانون محکمې: د پرېکړو عالي مقام، د ديموکراسۍ ژورنال، شماره ۴، (۲۰۰۶)، ۱۲۸.

۱۴ ران هيرشل، "سياست د عدالت پر بنسټ"، اکسفورډ د سياسي علومو درسي کتاب کې، اډيټ: روبرت اي ګوډين ( اکسفورډ: د اکسفورډ پوهنتون چاپ، ۲۰۱۱) ۲۲۴.

۱۵ کمالي، د افغانستان د اساسي قانون لس کلونه: موضوعات کوم دي؟ مخ ۴.

۱۲ ايسنز بورګ، ( د اساسي قانون مقايسوي بيا کتنه) ۵۴.

# دویمه برخه: قضایي بیا کتنه په افغانستان کې

## ۲. د افغانستان د اساسي قانون په تاریخ کې قضایي بیا کتنه:

د قضایي بیا کتنې اجزاوې- له اساسي قانون سره د مطابقت فقرې، د تفسیر او تعبیر فقرې، د تناقض فقرې- د افغانستان د ۲۰ مې پېړۍ په ډېرو اساسي قوانینو کې را څرګندې شوې دي. سره له دې، هیڅ یوه اساسي قانون دغه ټولې اجزاوې یو ځای نه دي رانغاړلې. د دغو نیمګړتیاوو له امله، قضایي بیا کتنه هیڅ وخت د افغانستان د اساسي قانون په تاریخ کې په یوه تکراري عمل بدله نه شوه.

د افغانستان لومړني اساسي قانون په **۱۹۲۳**م کال کې یوه دولتي شورا تاسیس کړه – په احتمالي ډول مقننه اورګان. په دغې شورا کې منتخبو او انتصاب شویو وګړو[۱۷] غړیتوب درلود . اساسي قانون دې شورا ته واک ورکړی و، چې د قوانینو مسودې له نظره تیرې کړي، اساسي قانون تفسیر کړي او د اتباعو شکایتونه اجرائیه ادارو ته راجع کړي.[۱۸] داسې استدلال کیږي، چې د اساسي قانون د بیا کتنې پیل له دې اساسي قانون څخه شوی دی.[۱۹] سره له دې، یوه نږدې کتنه ښیي، چې داسې نه ده. لومړی، شورا د کابینې او د پاچا د یوې مشورتي حقوقي کمېټې په توګه کار کاوه. د شورا د قانون جوړونې واکونه ( او نور پور ته یاد شوي واکونه) د کابینې په منظورۍ او د پاچا په رضایت پورې مشروط و. له دې امله، شورا نه شو کولای، چې په خپلواک ډول پرېکړې وکړي او دریځ یې له اجرائیه قوې څخه ټیټ و. د دې معنا دا هم وه، چې دقیقې کتنې ( تدقیق په دري ژبه)[۲۰] د مخکینۍ بیا کتنې په څېر د قوانینو مسودې له نظره تیرولې او شورا په منظور شوي قانون هیڅ ډول کنټرول نه درلود. دوهم، د اساسي قانون متن ډېر عام شکل درلود. په اساسي قانون کې د قوانینو د مسودو د دقیقې کتنې غوښتنه شوې، خو په دې اړه روښتیا نلري، چې آیا له اساسي قانون سره د قوانینو مطابقت به هم په دقیق ډول تر کتنې لاندې راځي او که څنګه؟

د **۱۹۳۱** او **۱۹۲۴** کلونو اساسي قوانینو هم دې ته ورته د قضایي بیا کتنې بېلا بېل عناصر معرفي کړي دي. غوښتنه دا وه، چې د پارلمان له خوا هره منظوره شوې پرېکړه باید د اسلام له اصولو او دغه راز د دولت له عمومي پالیسیو سره توافق ولري.[۲۱] چې د تناقض فقره یې ساتلې، غوښتنه کوي. چې قوانین باید له هغو ارزښتونو سره توافق ولري، چې په اساسي قانون کې شتون ولري. دغه راز، دغه اساسي قانون ټول هغه قوانین د باور وړ ګڼي چې د دې اساسي قانون له نافذیدو څخه د مخه تصویب شوي وو، په دې شرط چې دغه قوانین له اساسي قانون سره په ټکر کې نه وي.[۲۲] په داسې حال کې چې دواړه اساسي قوانین په توافق او تطابق باندې ټینګار کوي، خو دواړه نه دي توانېدلي، چې یوه مسؤوله اداره معرفي کړي، کومه چې د تطابق او یا د هغې د نشتوالی د بیا کتنې واک ولري.

اساسي قوانینو، چې مخکې پرې بحث وشو په پټه خوله پارلمان ته دا مسؤولیت سپارلی، چې له اسلام او دولتي پالیسیو سره د قوانینو مطابقت یقیني کړي، د دې پر ځای چې دغه واک قضایي قوې یا بلې خپلواکې کمیټې ته ورکړي. د دوو لومړنیو اساسي قوانینو په اړه دغه وضعیت د تبرئه کولو وړتیا لري. دغه اساسي قوانین د قضا خپلواکي نه پېژني او په دې ډول محاکم د اجرائیه قوې د برخو په څېر پاتې شوي دي، چې د پاچا تر مستقیم کنټرول لاندې وه. سره له دې، د **۱۹۲۴**م کال اساسي قانون، د قضایي قوې خپلواکي منلې ده، خو دې قوې ته یې دا واک نه دی ورکړي، چې له اساسي قانون سره د قوانینو مطابقت تر بیا کتنې لاندې ونیسي. په دې حقیقت برسېره، چې د **۱۹۲۴**م کال اساسي قانون د فرانسې د اساسي قانون[۲۳] ځینې قواعد تعقیب کړي دي، خود قضایي بیا کتنې په اړه هیڅ احکام نلري. په دې ډول، په

---

۱۷ د افغانستان اساسي قانون، پاراګراف ۲ (۱۹۲۳)، ماده ۴۱.

۱۸ همدا ماخذ ، **۴۶**، **۴۲**، ۷۱، او **۴۵** مادې په ترتیب سره

۱۹ کمالي، د افغانستان د اساسي قانون لس کلونه: موضوعات کوم دي؟ **۵**

۲۰ د افغانستان په قانوني سیستم کې دننه "تدقیق" د یوه بنسټ د قانوني مسودو د "بررسۍ" صلاحیت توضیح کوي . د قانوني اسنادو د پروسې او تیارولو په اړه د قواعدو پر بنسټ، قانوني مسودې د عدلیې وزارت د تقنین ریاست ته راجع کیږي، څو ډاډ حاصل شي، چې مسودې په هیواد کې له موجودو قانوني سندونو ، اساسي قانون او ځینې وختونه له شرحي قانون سره سمون لري. سره له دې هم ، د تدقیق په پایله کې راغلي تعدیلات الزامي اړخ نلري او د پارلمان منظورۍ ته اړتیا لري. په دې ډول تدقیق په هغه مرحله کې تر سره کیږي، چې کله قانون لا د مسودې په شکل کې طرح وي او "بیا کتنه" افغانستان د اساسي قانون د ۱۲۱ مادې پر بنسټ له قوانینو او قانوني فرمانونو څخه کیږي.

۲۱ "د افغانستان اساسي قانون" (۱۹۳۱) **۲۵** ماده

۲۲ د افغانستان اساسي قانون "رسمي جریده ۹ " فقره (۱۹۲۴) ۱۲۸ ماده.

۲۳ رینر ګروتي، "د افغانستان په نوي اساسي قانون کې د قواوو تفکیک" زارو **۲۴** (۲۰۰۴) **۸۹۷** -**۹۱۵**.

لومړيو دريوو اساسي قوانينو کې داسې ميکانيزم نشته، چې له اساسي قانون سره د نورو قوانينو د مطابقت د بيا کتنې له لارې د اساسي قانون لوړاوی تائيد کړي. د ۱۹۸۷م کال اساسي قانون د لومړي ځل لپاره يوې شورا ته دا واک ورکړ، چې له اساسي قانون سره مطابقت تر بيا کتنې لاندې ونيسي. شورا واک درلود، چې د قوانينو، قانوني فرمانونو او د نړيوالو تړونونو مطابقت له اساسي قانون سره تر بيا کتنې لاندې راولي او ولسمشر ته د اساسي قانون د ټولو اړونده مسائلو په اړه مشورې ورکړي. دغه راز، شورا مسؤوليت درلود ټول هغه قانوني اسناد مطالعه کړي، چې د ولسمشر د منظورۍ لپاره راتلل او له اساسي قانون سره د هغوی توافق وارزوي.[24] په دې ډول، دې شورا هم د قانون له نافذېدو څخه مخکې هم له هغې وروسته د بيا کتنې ځواک درلود. دې شورا د يوه فعاله بنسټ په څېر کار کاوه او يو لړ په اساسي قانون پورې تړلو مسئلو ته يې ځوابونه ويل، که څه هم دغه مسئلې په عمده ډول د اجرائيه قوې له خوا راجع کېدلې. شورا دغه راز ټولې هغه پرېکړې له نافذېدو مخکې له نظره بيا تېرولې، چې د وزيرانو د شورا له خوا نيول کېدې څو له اساسي قانون سره د هغو د مطابقت په اړه ډاډ تر لاسه شي. لکه څنګه چې د شورا په قانون کې راغلي وو، د شورا ټول نظريات په رسمي جريده کې خپرېدل.[25] له دې سره سره، د دوو دلايلو له امله، شورا د بيا کتنې يو ښه ماډل وراندې نه کړ؛ لومړي: د شورا غړي په مستقيم ډول د ولسمشر له خوا ټاکل کېدل. دوهم، د شورا غړي ولسمشر ته مسؤول ګڼل کېدل.[26] په دې ډول، شورا د خپلواکې قانوني کمېټې په ځای يوه سياسي کمېټه وه، چې د اجرائيه قوې په چوکاټ کې فعاله وه. طالبانو هيڅکله يو ليکلی اساسي قانون نه دی معرفي کړې او نه يې کوم پخوانی اساسي قانون تائيد کړی. د تمې په خلاف طالبانو د کمونيستي دوران[27] د اساسي قانون د شورا قانون بيا معرفي کړ چې د ۱۹۸۷م کال تر اساسي قانون لاندې نافذ شوی و. طالبانو په دې قانون کې لږ تعديلات راوستل او غوښتنه يې دا وه، چې ټول قوانين، قانوني فرمانونه او نړيوال تړونونه بايد له " شريعت او قانون" سره مطابقت ولري.[28] سره له دې، د " قانون" کلمه په مقرراتو کې واضحه نه شوه. په دې برسېره، د طالبانو مشر يو فرمان صادر کړ، چې له مخې يې د مذهبي عالمانو يوې کمېټې واک پيدا کړ، چې د افغانستان د سترې محکمې د لاندې قوانين له اسلامي نقطې نظره تر بيا کتنې لاندې ونيسي.[29] دې فرمان يوه بله موازي کمېټه تاسيس کړه او روښانه يې نه کړه، چې آيا موجوده او يا که نوې قوانين تر بيا کتنې لاندې ونيول شي.

د پورته يادو شويو اساسي قوانينو تر څنګ د افغانستان نورو اساسي قوانينو د قضايي بيا کتنې په اړه کوم احکام نه درلودل او نه يې داسې کومه کمېټه معرفي کړې، چې دغه مطابقت په ګوته کړي. په دې برسېره، که څه هم د قضايي بيا کتنې ځينې عناصر په څو اساسي قوانينو کې لېدل شوي دي، په دې اړه هيڅ داسې شواهد نشته، چې وښيي دغه واکونه څنګه په عمل کې پياده شوي دي.

۲۴ "د افغانستان اساسي قانون" (۱۹۸۷) ۱۲۳ او ۱۲۴ مادې

۲۵ د شورا نظريات د رسمي جريدې په مختلفو ګڼو کې خپاره شوي دي. د عدليې وزارت په ويب پاڼه کې د لاس رسي وړ دي.

۲۶ د افغانستان اساسي قانون ۱۲۵ او ۱۲۲ او ۲ مادې. "د اساسي قانون د شورا قانون"، رسمي جريده، ګڼه ۲۸۲ (۱۹۸۸).

۲۷ "د اساسي قانون د شورا قانون" ( د طالبانو رژيم ) رسمي جريده، ګڼه ۷۹۷ (۲۰۰۱).

۲۸ همدا ماخذ، ۸ ماده.

۲۹ د سترې محکمې د ديني علماوو د قوانينو د بيا کتنې په اړه د افغانستان د اسلامي جمهوريت د مشر فرمان، رسمي جريده، ګڼه، ۷۸۸ ( ۱۹۹۹).

# ۳. د ۲۰۰۴ کال په اساسي قانون کې قضايي بیا کتنه:

څرنګه چې په تېرو کلونو کې قضايي بیا کتنه په عمل کې له ستونزو سره مخ وه، دې شرایطو د ۲۰۰۴م کال د اساسي قانون د تسویدوونکو لپاره داسې یوه غوره سابقه تر شا نه وه پرې ایښې، چې په ذریعه یې په عمل کې د قضايي بیا کتنې اغېزمنتوب یا د هغې په وړاندې ګواښونه وارزوي. که څه هم د قضايي بیا کتنې په اړه کافي تجربې نه وې شوې، د اساسي قانون د تسوید په کمیسیون (CDC) کې کارکوونکو په دې ټینګار کاوه، چې د اساسي قانون محکمه دې جوړه شي، چې اساسي واک یې قضايي بیا کتنه وي. دې کمیسیون د کمیسیون د غړو د ټاکلو پروسه تر غور لاندې ونیوله. کمیسیون د دوی په واکونو کې د قضايي بیا کتنې په واک برسېره نور ځواکونه هم شامل کړل، لکه د ټاکنیزو شکایتونو په اړه قضاوت او د دندو له اشغال څخه مخکې او وروسته د لوړ رتبه چارواکو د شتمنیو ثبتول.[30]

د اساسي قانون د بیا کتنې کمیسیون (CRC) چې د سي ډي سي د نظریې پر بنسټ رامنځته شوی و، د اساسي قانون په مسوده کې د اساسي قانون د محکمې په اړه د اوو مادو یو څپرکی معرفي کړ. د اساسي قانون د محکمې په اړه دې څپرکی یوه پرمختللې محکمه په نظر کې نیولې وه، چې واکونه یې د اساسي قانون په اوسنیو محکمو کې لېږدل کیږي. دې څپرکی لاندې مواد درلودل:

> اتم څپرکی- د افغانستان د اساسي قانون مسوده- ۲۰۰۳[1]
>
> **۱۴۱** ماده: د افغانستان د اسلامي جمهوریت د اساسي قانون عالي محکمه د دې چېتر له احکامو سره سم باید له اساسي قانون سره د قوانینو د مطابقت څارنه وکړي.
>
> **۱۴۲** ماده: د اساسي قانون عالي محکمه باید ۷ تنه غړي ولري، چې د ولسمشر له خوا ټاکل کیږي او د مشرانو جرګې له خوا منظوریږي او د ۹ کالونو د خدمت دوره لري. ولسمشر باید د دغو غړو څخه یو تن د رئیس په توګه وټاکي. د اساسي قانون د عالي محکمې تشکیلات او واکونه د قانون په ذریعه تنظیمیږي
>
> **۱۴۳** ماده: د اساسي قانون د عالي شورا غړي باید لاندیني وړتیاوې ولري:
>
> ۱. د افغانستان تبعه وي او د بل هیواد تابعیت ونلري.
>
> ۲. باید په قانون یا [اسلامي فقه] کې تحصیلات ولري.
>
> ۳. باید لږ تر لږه قانوني، قضايي یا د قانون ګذارۍ لس کلنه تجربه ولري.
>
> ۴. د عمر ۴۰ کاله یې پوره کړي وي.
>
> ۵. د بشریت ضد جرمونو ، جنایت په ارتکاب نه وي محکوم شوې یا له مدني حقوقو څخه محروم شوې نه وي.
>
> **۱۴۴** ماده:
>
> د اساسي قانون عالي محکمه باید لاندیني واکونه ولري:
>
> ۱. له اساسي قانون سره د قوانینو ، قانوني فرمانونو ، د دولتونو په منځ کې د معاهدو او د نړیوالو تړونونو د مطابقت بیا کتنه.
>
> ۲. د اساسي قانون، قوانینو او قانوني فرمانونو تعبیر.
>
> **۱۴۵** ماده:
>
> په داسې یوه قضیه کې چې یوه محکمه وو ایي، چې په قضیه باندې د تطبیق وړ قانون حکم له اساسي قانون سره توپیر لري، محکمه باید دا قضیه تعطیل کړي او موضوع د اساسي قانون محکمې ته راجع کړي.
>
> دغه حکم په هغه وخت کې هم د تطبیق وړ دی، که په قضیه کې یوه ښکیله خوا د دې تناقض ادعا وکړي؛ په دې شرط چې دغه ادعا د محکمې له خوا منظوره شوې وي. په یوه حالت کې که د افغانستان د بشري حقونو کمیسیون د قانون یو حکم په دې اساسي قانون کې له موجودو اساسي حقوقو سره په توپیر کې وپېژني، کمیسیون کولای شي موضوع د اساسي قانون محکمې ته راجع کړي.
>
> **۱۴۶** ماده:
>
> قانوني سندونه چې د اساسي قانون د عالي محکمې له خوا د اساسي قانون ماتوونکي پېژندل شوي وي له باور څخه بې برخې دي. د اساسي قانون د عالي شورا پرېکړه وروستۍ ده او د بیا کتنې تابع نه ده ، [او] په رسمي جریده کې له خپرېدو وروسته نافذه شمېرل کیږي.
>
> ---
>
> ۱. همدا ماخذ ، ۸-۲۹۶

---

۳۰ سرور دانش ، د افغانستان اساسي حقوق ( د افغانستان اساسي قانون ) دربیم چاپ. ( کابل: د ابن سینا د لوړو زده کړو انستیتوت؛ ۲۰۱۵)، ۲۸۹

دغه څېرکی يوه ډېره قوي محکمه معرفي کوي چې زيات شمېر واکونه لري، څو د اساسي قانون له لوړاوي څخه ډاډ حاصل او اساسي حقوق وساتل شي. څېرکي هغه خواوې چې کولای شي قضيې محکمې ته راجع کړي، نه دي محدودې کړې. څېرکی عادي اتباعو (د دعوې په جريان کې ښکېلې خواوې) او د بشري حقوقو کميسيون ته دا فرصت ورکوي چې د هغو قوانينو مطابقت له اساسي قانون سره وګواښي، چې اساسي حقوق ماتوي. د قانون د اصل د روښانتيا له بيا کتنې او د محکمې له وروستي تصميم څخه وروسته محکمې د اساسي قانون اړونده مسئلو د حل په باب وروستۍ محکمه جوړه کړه.

د قانون د اصل روڼتيا يو ځل بيا وکتل شوه

د سرور دانش، د CDC او CRC د يوه مهم غږې په قول، که څه هم CRC موارد له موافقې وروسته تسويد کړې، حکومت استدلال کوي او وايي، چې دغه کار ښايي په راتلونکي کې د حکومت د درې ګونو قواوو په منځ کې ستونزې را پيدا کړي.[۳۱] ځينو ويل، چې دهغه وخت انتقالي ادارې ببېره درلوده، چې محکمه ښايي په داسې يوه بنسټ واوړي لکه د ايران د پاسدارانو شورا او د سياسي سيستم د پرمختګ مخه به ونيسي.[۳۲] په دې ډول، انتقالي ادارې پرېکړه وکړه، چې د اساسي قانون محکمه په بشپړ ډول د اساسي قانون له مسودې څخه وباسي.

هغه واکونه چې د اساسي قانون د محکمې لپاره په اوو مادو کې په نظر کې نيول شوي وو، په يوه ماده کې خلاصه شول او سترې محکمې ته ورکړل شول. دغه مسوده له هغه وروسته د اساسي قانون لويې جرګې ته د منظورۍ لپاره وړاندې شوه. د اساسي قانون په لويه جرګه کې د ټولو لسو کاري کمېټو يوه اساسي غوښتنه دا وه، چې د اساسي قانون د محکمې حذف شوی څېرکی بېرته را شامل کړي. په همدغه حال کې په دغې غوښتنې تر ټولو زيات مختلف نظريات موجود وو. سره له دې، ګډون کوونکي دې موافقې ته ورسېدل چې د قضايي بيا کتنې واک سترې محکمې ته ورکړي او يو کميسيون رامنځته کړي، چې د سترې محکمې په ځای د اساسي قانون د تطبيق څارنه وکړي.

په پای کې، د افغانستان د اساسي قانون ۱۲۱ مه ماده رامنځته شوه. دغې مادې د لومړي ځل لپاره د افغانستان د اساسي قانون په تاريخ کې سترې محکمې ته واک ورکړ، چې له اساسي قانون سره د قوانينو د مطابقت ارزونه وکړي.

> **۱۲۱ ماده:** له اساسي قانون سره د قوانينو، قانوني فرمانونو، نړيوالو معاهدو او نړيوالو تړونونو د مطابقت بررسي کول او د هغو تفسير د حکومت يا د محکمو د غوښتنې په صورت کې د قانون د احکامو سره سم د سترې محکمې واک دی.

په دې برسېره، د اساسي قانون **۱۵۷** مې مادې د افغانستان د اساسي قانون پر تطبيق د څارنې کميسيون (ICOIC) ايجاد کړ:

> **۱۵۷ ماده:** د اساسي قانون پر تطبيق د څارنې خپلواک کميسيون د قانون له حکم سره سم تشکيلېږي

د اساسي قانون پر تطبيق د څارنې کميسيون د يوې رسمي کمېټې په حيث په نظر کې نيول شوې و، څو د نوي اساسي قانون د منظم تطبيق څخه ډاډ تر لاسه شي.[۳۳] په دې برسېره، که څه هم د اساسي قانون متن د دې کميسيون د واکونو په باب پوره روښانتيا نلري، د هغه له نوم څخه د اساسي قانون پر تطبيق د څارنې د خپلواک کميسيون واک استنباط (ترلاسه) کېدای شي، چې د دولتي بنسټونو او فعاليتونو کړنې له اساسي قانون سره وڅېړي.

## ۳.۱ په افغانستان کې د قضايي بيا کتنې کوم ډولونه عملي کيږي؟

د ۱۲۱مې مادې عبارت ښيي چې د افغانستان اساسي قانون د قوانينو، قانوني فرمانونو، نړيوالو معاهدو او نړيوالو تړونونو "خاصه" او "عامه" قضايي بيا کتنه مجاز ګڼي. د دې مادې پر بنسټ قضايي بيا کتنه په هغه وخت کې پلي کيږي، کله چې د لانديني محکمې تر غور لاندې د تطبيق وړ قضيه باندې له اساسي قانون سره د قانون د مطابقت د څېړنې غوښتنه وشي. خاصه قضايي بيا کتنه بيا يوازې د حکومت په غوښتنه تر سره کېدای شي.

---

۳۱ همدا ماخذ ۲۹۷.

۳۲ وګورئ: جان ډيمپنسي او الکساندرتير، "په افغانستان کې د اساسي قانون د تفسير په سر د مخالفتونو رفع کول" (د امريکا د متحده ايالاتو د سولې انستيټيوټ، مارچ ۲۰۰۹) او بارنيت او روبين، "د افغانستان د اساسي قانون جوړول"، د ديموکراسۍ ژورنال ۱۵، ګڼه ۳ (۲۰۰۴)، ۱۵

۳۳ محمد هاشم کمالي، د افغانستان اساسي قانون، ۲۰۰۴: تفسير له اسلامي نظره، "د امريکا د متحده ايالاتو د سولې انستيټيوټ، ۲۰۰۹."

په دې برسېره، دغه ماده یوازې د قانون له تصویب څخه وروسته قضایي بیا کتنې ته اجازه ورکوي. دغه ماده د نورو تر څنګ د قوانینو او قانوني فرمانونو د بیا کتنې غوښتنه کوي او د اساسي قانون لاندې د دوی تعریف، نافذو قوانینو ته اشاره کوي. که څه هم د قانون له تصویب څخه مخکې د بیا کتنې په اړه د عدلیې وزارت د قانوني اسنادو د برابرې او پروسې تر قواعدو لاندې یو ورته ماډل تطبیقوي لکه څنګه چې د قانون له تصویب څخه مخکې بیا کتنه یې عملي کوي. د دې قواعدو د ۳۷ مې مادې له مخې د ټولو قوانینو مسودې باید د قانوني تسوید انستیټیوټ له خوا له اساسي قانون سره د مطابقت په غرض په دقیق ډول وکتل شي.[۳۴] د نړیوالو معاهدو او تړونونو په اړه داسې څه روښانتیا نشته، چې څنګه او په کومه مرحله کې به دغه سندونه د محکمې له خوا تر بیا کتنې لاندې نیول کیږي. په اصل کې څنګه چې دواړه سندونه له اساسي قانون سره مطابقت ولري، بیا کتنه باید له تصویب مخکې او همداراز له دې مخکې، چې حکومت معاهده یا تړون لاس لیک کړي تر سره شي؛ څو د تناقضاتو په صورت کې د ملاحظو د اعلانولو فرصت پیدا شي. د دغه حالت بدیل دا دی، چې له اساسي قانون سره مطابقت د پارلمان له خوا د تړونونو د تصویب په وخت کې هم تر سره کېدای شي. سره له دې، د ۱۲۱مې مادې له مخې د پارلمان په ځواک محدودیت، چې د داسې یوې بیا کتنې غوښتنه وکړي او د۹۰مې مادې پر بنسټ د پارلمان د موقف د برداشت (تعبیر) له امله، چې پارلمان یوازې په عمومي ډول د یوه تړون د منلو یا مستردولو واک لري[۳۵] د پارلمان لپاره ناممکنه ده، چې دا ډول غوښتنه وکړي.

## ۳.۲ په قضایي بیا کتنه کې مجزا (تجزیه شوي) قواعد، تردیدونه او ورکې اجزاوې:

د ۲۰۰۴م کال اساسي قانون د حکومت د څانګو په منځ کې د چیک کولو او بیلانس ساتلو لپاره د پخوانیو اساسي قوانینو په پرتله ډېر میکانیزمونه درلودل. د نورو تر څنګ، ۱۲۱مې مادې د اساسي قانون لوړاوی ساتلې و او د حکومت د دوو نورو څانګو د ځواکونو د قضایي کنترول لپاره یې قوي تدابیر وړاندې کړي وه. د اساسي قانون پر تطبیق د څارنې خپلواک کمیسیون تر ۲۰۰۹م کال پورې نه وه تاسیس شوی؛ سره له دې هم، ۱۵۷مې مادې د اساسي قانون د څارنې احکام درلودل، چې د اساسي قانون منظم تطبیق او د هغه د ګام پر ګام تطبیق څارنه یې یقیني کوله.[۳۶]

د اساسي قانون په لومړیو کلونو کې، د ۱۲۱ او ۱۵۷ موادو په تطبیق کې کومې ستونزې نه وې او نه د هغو په مفهوم کې څه پیچلتیا موجود وه. سره له دې، د بهرنیو چارو د پخواني وزیر سپنتا له استیضاح (سپیناوي) نه وروسته په سیاسي نا کراره شرایطو کې دغه دواړه مادې د حکومت د څانګو په منځ کې د پرلپسې مخالفتونو په یوه موضوع بدلې شوې. د دې په پایله کې، که څه هم د کاغذ په مخ مهمې برياوې لاس ته راغلې، خو سیاسي مخالفتونو او ورسره د ۱۲۱مې مادې په متن کې پیچلتیا او ۱۵۷مې مادې د عمومیت ځانګړتیا دغه دوه مادې د افغانستان په اساسي قانون کې په داسې احکامو واړولې، چې د ډېرو مخالفتونو سبب شول. دغو مخالفتونو د واکونو پراخوالی او حتی په هیواد کې د ځواکونو په منځ کې یې د بیلانس مسئله له سوال سره مخامخ کړه.

په دې برسېره، څرنګه چې قضایي بیا کتنې د افغانستان په قانوني ټولنه کې زیات اهمیت پیدا کړ، نورې تشې، پیچلتیاوې او نایابې خواوې د افغانستان د اساسي قانون په اړوندو احکامو کې را برسېره شوې. د قضایي بیا کتنې احکام په اساسي قانون کې په متفرق ډول راغلي او د بېلا بېلو بنسټونو په منځ کې یې دغه ځواک وېشلی او یا یې داسې موضوعات له منځه ایستلي چې په اصل کې باید د قضایي بیا کتنې له ځواک سره تړاو ولري. لاندې د اساسي قانون څخه څو بېلګې راوړو.

۱. د حکومت د اعمالو بیا کتنه:

په داسې حال کې چې د قضایي بیا کتنې اساسي دنده له اساسي قانون سره د قوانینو د تطبیق بیاکتل دي، په ډېرو هیوادونو کې د اساسي قانون محکمې واک لري، چې د حکومت کړنې تر کتنې لاندې ونیسي.د نورو تر څنګ په دې ځواکونو کې دا واکونه شامل دي: د دولتې بنسټونو یا

---

۳۴ ۲(۱۵) ماده د قانوني سندونو د برابرولو او پروسس کولو سند، دقیقه کتنه داسې تعریفوي: "د متن او شکل له مخې د قانون په لومړنۍ مسوده کې د کلمو، اصطلاحاتو او عبارتونو دقیقه کتنه ده، چې له اسلامي شریعت، اساسي قانون [او] او له نورو نافذو قوانینو سره، بین المللي معاهدو او تړونونو ته په کتو، چې افغانستان ورسره تړاو لري او د ټولنې له معقولو دستورونو سره سموالی ولري." وګورئ "د قانوني سندونو د برابرولو او پروسیس کولو په باب" ۱۰۸۱ رسمي جریده (۲۰۱۲).

۳۵ شخصي کتبي رابطه: ښاغلی خدای نظر نصرت، د ولسي جرګې عمومي منشی، ښاغلی غلام حسن ګران، د ولسي جرګې پخوانی عمومي منشی او ښاغلی تیمور شا قویم، د مشرانو د جرګې د عمومي منشی مرستیال.

۳۶ کمالي "د افغانستان اساسي قانون ۲۰۰۴: تفسیر له اسلامي نظره."

چارواکو له خوا د بنسټيزو حقوقو په ماتولو باندې قضاوت کول، د زياتي حساب په موخه د عمودي او هم رتبه دولتي بنسټونو په منځ کې د اختلافونو حل کول، د ټاکنيزو اختلافاتو له منځه وړل، د ټاکنو د پايلو تصديق کول، د لوړ رتبه عامه چارواکو استيضاح يا د داسې استيضاح تصديق کول او د سياسي ګوندونو اړونده مسئلو په اړه قضاوت کول. د ۲۰۰۴م کال د اساسي قانون لاندې له اساسي قانون سره د يوه عامه بنسټ د کړنو د تطابق د بيا کتنې واک د ۱۵۷مې مادې له مخې د اساسي قانون پر تطبيق د څارنې خپلواک کميسيون ته ورکړ شوی دی. دغه حکم کميسيون ته د دې اجازه ورکوي، چې د اساسي قانون د ټولو احکامو په انفاذ څارنه وکړي او د هغو کسانو اعمال هم وڅاري، چې د دې حکم لاندې د هغو د اعمال واک لري. له دې مادې سره سم د اساسي قانون پر تطبيق د څارنې خپلواک کميسيون د دې لپاره مسؤول دی چې وګوري ايا دولتي بنسټونه يا د عامه رسمي دفترونو چارواکي اساسي قانون په سمه توګه تطبيق کوي؟ او ايا د دوی کړنې له اساسي قانون سره توافق لري او که څنګه؟ د کميسيون قانون، چې په ۲۰۰۹ کې تصويب شو هم په خپل واک ټينګار کوي، چې "د ولسمشر، حکومت، ملي شورا، قضايي قوې، ادارو، حکومتي او غير حکومتي سازمانونو او بنسټونو له خوا د اساسي قانون د احکامو د تطبيق او رعايت څارنه وکړي. "[۳۷]

په داسې حال کې چې ډېرو اساسي قوانينو دغه دوه واکونه يو ځای کړي او يوه بنسټ ته يې ورکړي دي. د افغانستان اساسي قانون هغه د دوو بنسټونو تر منځ ويشلي دي: قضايي قوه، چې د قوانينو تطابق بررسي کړي، او د اساسي قانون پر تطبيق د څارنې خپلواک کميسيون؛ لکه څنګه چې د ۱۵۷مې مادې له متن څخه استنباط کېدای شي له اساسي قانون سره د کړنو د توافق ارزونه کول. داسې معلومېږي، چې اصلي دليل د قضايي قوې ښکاره واک دی، چې اختلافات د دعوې د اقامې په شکل واوري او حل او فصل يې کړي يعني قضايي قوه نه شي کولای له اساسي قانون سره د دولتي بنسټونو د کړنو توافق په خاصه توګه وڅاري او تر بيا کتنې لاندې يې راولي. په هر حال، دا د اساسي قانون د بيا کتنې يوه بېلګه ده، چې د دوو مختلفو بنسټونو په منځ کې وېشلې ده.

۲. د تناقض فقره:

د افغانستان ډېر اساسي قوانين د تناقض يوه فقره لري. خو په دې برسېره، اساسي قوانين نه دي توانيدلي، چې يو معيار وړاندې کړي. د ۲۰۰۴م کال اساسي قانون همدارنګه له اسلام سره د قوانينو د مطابقت غوښتنه کوي. د اساسي قانون دريېمه ماده واک لري: په افغانستان کې هيڅ قانون نه شي کولای د اسلام د مقدس دين له احکامو او معتقداتو سره مخالف وي.

دغه ماده سپيناوی نه کوي، چې معتقدات او احکام په دقيق ډول څه شی رانغاړي؟ او نه له هغو سره د توافق لپاره کوم ميکانيزمونه او کړنلارې وړاندې کوي. په دې برسېره، دغه ماده هيڅ يوه بنسټ ته د دې واک نه ورکوي، چې دا ډول توافق تعيين کړي. څه شی چې موږ په عمل کې وينو هغه دا دی، چې پارلمان له دې مادې څخه استنباط کوي، چې دغه کار د دوی په واک کې شامل دی او له دې واک څخه يې د هغو قوانينو په مستردولو کې استفاده کړې، چې د دوی په نظر له اسلام سره په ټکر کې دي. محمد هاشم کمالي د ۱۹۲۴م کال په اساسي قانون کې د يوې ورته مادې په اړه بحث کوي او وايي:

> تجربې ښودلې چې خلک له اسلامي قواعدو سره حتی د ډېرو اختلافاتو موارد هم په مبالغه اميزه ډول اعلاموي او د ډېرو مهمو اختلافاتو په څېر يې ښيي. دغه ډول موارد د ۱۹۷۰ مې لسيزې په وروستيو کلونو کې په پارلماني مناقشو کې ليدل کيږي، د مثال په ډول د ماشومانو ودول او له يوې څخه له زياتو ښځو سره نکاح کول. کله چې ډېرو محافظه کاره استازو په دې هکله د حکومت له خوا د وړاندې شويو ريفورمونو سره مخالفت کاوه، دوی هغه په دې دليل مسترد کړ، چې ګويا له اسلام سره په مغايرت کې دي. په حقيقت کې، دوی وړانديز شوي اصلاحات د خپل منطق پر بنسټ درک کړي وو او د اسلام د دين د اصولو ماتونه يکې مطرح نه و. [۳۸]

دې ته د ورته طريقې يوه بېلګه د پارلمان له خوا په وروستيو کلونو کې پر ښځو د زور زياتي ضد قانون و، چې د اسلام ضد قانون ټاپه يې وخوړله. په پارلمان کې استازو د قانون د تصويب لپاره سخته مبارزه وکړه "د ماشومانو ودونه او جبري ازدواج بايد جرم ونه ګڼل شي، پناه ځايونه [ هغه ځايونه چې د کورنۍ د زورزياتي قرباني ښځې يکې اوسي] بايد لغوه شي، ښځې چې غواړي کار وکړي بايد له خپلو مېړونو څخه اجازه واخلي او له څو ښځو سره د ازدواج لپاره شرايط بايد لغوه شي. "[۳۹]

۳۷ که څه هم د پارلمان او ستري محکمې په منځ کې د کميسيون، د ځينو صلاحيتونو په اړه اختلاف موجود و، خو د څارنې صلاحيت له دغې جملې څخه نه و. وګورئ: ۸(۲) ماده "د اساسي قانون د تطبيق د څارنې د خپلواک کميسيون قانون" رسمي جريده، ګڼه ۹۸۲ (۲۰۰۹).

۳۸ محمد هاشم کمالي، "د افغانستان په اساسي قانون کې د اسلام او ښځو يادونه" عربي قانوني درې مياشتنی ۲۲ (۲۰۰۸) ۲۷۸.

۳۹ کريستين رورز، "د زيانونو مخنيوی، د اوس لپاره د ښځو په وړاندې د خشونت پر عليه قانون ". د افغانستان د تحليل ګرانو شبکه، ۱۸ مې ۲۰۱۳.

په دې حساب، اساسي قانون باید له شریعت سره د قوانینو د مطابقت د بیا کتنې واک یوه داسې مسلکي بنسټ ته ورکړی وای چې په اسلامي فقه کې تجربه ولري. په ایډیال ډول، دغه بنسټ ستره محکمه ده، چې د قوانینو یوه رښتینې څېړنه کوي او له سیاسي مداخلو او پېچلو تفسیرونو څخه مخنیوی کوي. بل بنسټ ته د دې واک ورکول هم د دولت د څانګو په منځ کې د بیلانس د ساتلو او چیک کولو لپاره یو قوي میکانیزم جوړوي.

۳. د قواعدو بیا کتنه:

حکومتي اداروته د پارلمان یا اساسي قانون له خوا مسؤولت ورسپارل کیږي، چې اداري قواعد صادر کړي، چې په عام ډول قواعد بلل کیږي. قواعد قوانین نه دي، خو د دوهمې درجې قانون ورته ویلای شو. سره له دې هم، قواعد د قوانینو په شان واک لري او د محکمې په ذریعه تطبیق کېدای شي. قواعد د ماتولو په صورت یاد توافق د نه شتون په حالت کې جزاګانې هم تعینوي.عمومي نظر دا دی، چې هره قاعده باید خپله مبداء په کوم بنیادي قانون کې ولټوي. په دې ډول حکومت کولای شي یوازې په هغه وخت کې قواعد صادر کړي، کله چې په یوه قانون کې داسې یو ښکاره حکم ځای شوی وي، چې له مخې یې حکومت اجازه ولري قواعد صادر کړي. په دې برسېره، محکمه کولای شي یوه قاعده لغوه کړي که چېرې له اصلي قانون سره په مغایرت کې وپېژندل شي. [40]

د افغانستان اساسي قانون د قانون جوړونې واک د افغانستان ملي شورا ته ورکړی دی. سره له دې، اساسي قانون د ۷۶مې مادې پر بنسټ اجرائیه قوې ته هم واک ورکړی، چې قواعد صادر او تصویب کړي:

> د هیواد د پالیسۍ د اساسي کرښو د تطبیق او د خپلو دندو د تنظیمولو لپاره، حکومت کولای شي مقررات وضع او تصویب کړي. دا ډول قواعد نه باید د هیڅ قانون له روحیې او متن سره ټوپیر ولري. د قانوني اسنادو د برابرولو او پروسیس کولو مقرره د مقرراتو یو لنډ او تنګ تعریف وړاندې کوي:

"د قواعدو یوه مجموعه د حکومت له خوا په دې غرض صادره شوې، چې د دولت د پالیسۍ اساسي کرښې په عمل کې پیاده شي، د [ وضعي ] قانون احکام په ښه ډول اجراء شي او د حکومتي بنسټونو او وزارتونو دندې تنظیم کړي. " [41] د دې تعریف له مخې، مقررات کولای شي د قانون د انفاذ او ښه تطبیق لپاره کړنلارې تعریف کړي یا کولای شي خپلواک قواعد معرفي کړي، چې د واک د پلې کولو لپاره میکانیزمونه مشخص کړي. د سیاسي ګوندونو د تاسیس او ثبت مقرره د لومړۍ مقررې یوه بېلګه ده. د تعلیمي اسنادو د ارزونې قواعد د دوهمې مقررې بېلکه جوړوي. [42]

اساسي قانون له قانون سره د هرې قاعدې ټکر منع کوي؛ سره له دې، اساسي قانون هیڅ یوه بنسټ ته واک نه ورکوي، چې له قانون سره د مقرراتو د سمون بیا کتنه وکړي. که څه هم د حکومت له خوا منظورېږي، مقرره خپل مشروعیت له پارلمان څخه تر لاسه کوي؛ که چېرې مقرره د یوه وضعي قانون په استناد جوړه شوې وي. که مقرره د قواعدو یوه خپلواکه مجموعه وي، په دې حالت کې مقرره خپل مشروعیت تعینوي. په ایډیال حالت کې، یوه خپلواکه اداره باید قواعد او مقررات تر بیا کتنې لاندې ونیسي. [43] د دې قواعدو بیا کتنه، په ځانګړي ډول د اتباعو د بنسټیزو حقوقو په اړه، د افغانستان په اساسي قانون کې نه ده ځای شوې.

۴. د قضایي بیا کتنې د قضیو په اړه د سترې محکمې د پرېکړو قطعیت:

یو بل مهم عنصر چې په اساسي قانون کې نه دی ځای شوی د قضایي بیا کتنې د پرېکړو په قطعیت پورې تړاو لري، که څه هم استدلال کیږي، چې د ۱۲۱مې مادې پر بنسټ د قضایي بیا کتنې پرېکړې قطعی ګڼل کېدای شي، خو ځینې موارد په دې پرېکړو کې پیچلتیا ته اشاره کوي. د دې روښانتیا د نشتوالي له امله پارلمان د سترې محکمې له خوا د قضایي بیا کتنې پرېکړې له پامه غورځولي. د پارلمان له خوا د محکمې د فیصلې مستردول، چې له اساسي قانون سره د اساسي قانون پر تطبیق د څارنې خپلواک کمیسیون د قانون د ځینو

---

وګورئ: مخ ۲۳-۳۴

۴۰ ادوارد پیج، د شمېر له مخې حکومت کول؛ مؤظف هیئتونه او د هرې ورځې پالیسي جوړونه ( اکسفورډ پورت لینډ؛ د هارت د مطبعې چاپ، ۲۰۰۱).

۴۱ د قانوني سندونو د برابرولو او پروسیس کولو مقررات: ۲ (۵) ماده

۴۲ "د سیاسي ګوندونو د تاسیس او ثبتولو مقررات". رسمي جریده ، ګڼه ۱۰۲۲ (۲۰۱۰) او "د تعلیمي سندونو د ارزونې مقررات" رسمي جریده ، ګڼه ۱۰۲۲(۲۰۱۰).

۴۳ په فرانسه کې، د مثال په ډول، له قوانینو او اساسي قانون سره د مطابقت د بیا کتنې صلاحیت سترې محکمې ته سپارل شوی: counseil detat

احکامو د مغايرت پر بنسټ نيول شوې وه، کېدای شي د يوې مهمې بريا په څېر وپېژندل شي. له بلې خوا پارلمان د اساسي قانون پر تطبيق د څارنې خپلواک کميسيون ته دا واک نه دی ورکړی چې د ۱۵۷مې مادې پر بنسټ الزامي پرېکړې وکړي. د ياد شوي کميسيون د ۱۸۷ قانون او ۹مه ماده هغه ته اجازه ورکوي چې يوازې " حقوقي نظريې " او "حقوقي مشورې " ورکړي. له دې امله، که څه هم بيايي بيا کتنه او څارنه تر سره شي، خو د دې قوي احتمال شته، چې هغه ونه منل شي. په ځينو مواردو کې پارلمان پخپله د اساسي قانون پر تطبيق د څارنې خپلواک کميسيون حقوقي نظريه له پامه غورځولې ده. د مثال په ډول، پارلمان له دې کميسيون څخه وغوښتل په دې هکله خپله نظريه ورکړي، چې آيا ولايتي شورا ته د دې ډول واک ورکول د اساسي قانون د اړونده احکامو سره مغايرت لري او که څنګه؟ د اساسي قانون پر تطبيق د څارنې خپلواک کميسيون په دې باور و، چې ولايتي شوراګانو ته د داسې ځواک ورکول د اساسي قانون له احکامو سره مغايرت نلري. سره له دې هم، پارلمان دغه نظريه ونه منله او ولايتي شوراګانې يې د څارنې له واک څخه په دې محرومې کړې، چې د اساسي قانون سره يې مطابقت نه درلود.

## ۳.۳ د اساسي قانون د تفسير واک:

يو عمومي باور دا دی، چې د اساسي قانون احکام همېشه ډېر روښانه نه وي او تفسير ته اړتيا لري. لکه څنګه چې چيمير ينسکي ويلي دي: [که] د اساسي قانون ټول احکام روښانه وي، د اساسي قانون تفسير به ستونزې راولاړې نه کړي...... د اساسي قانون په تفسير کې ستونزې څکه را پيدا کيږي، چې يو شمېر فقرې پېچلې او تعديل (بدلون) منونکې وي. اساسي قانون له [ پېچلو] عبارتونو څخه ډک دی...... د دې پيچلتيا په نتيجه کې د اساسي قوانينو په اړه يوه مرکزي پوښتنه دا ده، چې څوک بايد د غو احکامو ته معنی ورکړي او دغه کار بايد په څه ډول تر سره شي؟ [44]

د چميرينسکي د دوو پوښتنو په اړه- څوک بايد اساسي قانون تفسير کړي او د تفسير کوم ډول طريقې بايد وکارول شي؟ - که څه هم د تفسير د طريقو په هکله بيايي د نظر توپير موجود وي، څو اساسي قانون په ښه ډول تفسير شي، خو د دې پوښتنې په اړه چې "څوک " بايد قانون تفسير کړي د نظرياتو د اختلاف بېلګې نشته. د خواشينی ځای دی، چې افغانستان اوس هم له دې اساسي پوښتنې سره بوخت دی، چې له دوو بنسټونو څخه کوم يو بې د اساسي قانون د تفسير واک لري؟ د اساسي قانون د تطبيق په لومړنيو مرحلو کې، تفسير په ضمني ډول د سترې محکمې له واکونو څخه پېژندل شوی و او په دې اړه د نظرياتو اختلاف نه دی ليدل شوی. [45]

سره له دې، په ۲۰۰۷م کال کې د کابينې د وزير، رنګين دا دفرسپنتا د استيضاح په قضيه کې [46] ولسمشر د پارلمان پرېکړه د قانع کوونکو دلايلو د نشتوالي له امه ونه منله او ورپسې سترې محکمې د ولسمشر فيصله تائيد کړه. په دې کار سره د اساسي قانون اړوند دوې مهمې مسئلې راولاړې شوې:

۱. آيا ستره محکمه دا واک لري چې اساسي قانون تفسير کړي؟

۲. کوم بنسټ واک لري چې د اساسي قانون پر بنسټ د حکومت د څانګو په منځ کې اختلاف حل کړي؟

لاندينۍ برخه به دغو پوښتنو ته ځواب ووايي:

آيا ستره محکمه واک لري، چې اساسي قانون تفسير کړي؟

لکه څنګه چې مخکې وويل شول، د اساسي قانون د محکمې احکام د اساسي قانون له مسودې څخه وايستل شول؛ د دې په تعقيب واکونه د سترې محکمې او د اساسي قانون پر تطبيق د څارنې د خپلواک کميسيون په منځ کې ووېشل شول. د ستونزې رېښه د تسويد په بهير کې، په ځانګړي ډول د اساسي قانون په لويه جرګه کې راڅرګنده شوه. په دې جرګه کې د جرګې غړو د ۱۲۱مې مادې عبارت ته تغير ورکړ او

۴۴ اروين چميرينسکي، "د ناسمو پوښتنو دبيې پرېکول: د اساسي قانون او قضايي بيا کتنې د مطالعې په باب يوه مقاله " د تکسراس قانوني بيا کتنې ، ۲۲(۱۹۸۲-۱۹۸۴)، ۱۲۱۱.

۴۵ محمد هاشم کمالي، "د کرزي په کلونو کې د پارلمان او اجرائيه قوې په منځ کې اړيکې او د اساسي قانون د تفسير او قضاوت مسئله ؛ "کاري سندونه، ګڼه ۱۰(۲۰۱۵).

۴۶ د قضيې جزئياتو او سابقې لپاره وګورئ: "فريد حميدي او جاياکودي. د افغانستان د اساسي قانون پر بنسټ د قواوو تفکيف: د قضيې څېړنه (کابل: د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد ، ۵(۲۰)، ۳۱-۳۵. "

په پایله کې یې د اساسي قانون د تفسیر واک پېچلی پاتې شو، د اساسي قانون یو لیکونکی په یادوی: "د ۱۲۱مې مادې په عبارت کې یو مقدار پیچلتیا شته....... هغه کسان چې باور لري د اساسي قانون تفسیر د سترې محکمې په قضاوت کې دی استدلال کوي، چې د «دوی» په ضمیر –آنها په دري - کې د مادې په عبارت کې اساسي قانون هم شاملېږي، د ګرامز د قواعدو له نظره، که ومنو چې د "دوی" ضمیر د ۱۲۱مې مادې په عبارت کې اساسي قانون ته اشاره ده، دا به یوه جبري تفسیر ته نږدې خبره وي.[۴۷]

د سپنتا له قضیې وروسته، د اساسي قانون په ماده کې دغې پیچلتیا مختلف نظریات را پیدا کړل، لومړی: د سترې محکمې او اجرائیه قوې له خوا چې محکمه د بل بنسټ د نشتوالي له امله د تفسیر واک درلودی شي، ځکه د مادې په عبارت کې د " دوی " کلمې تفسیر د نورو قانوني اسنادو تر څنګ اساسي قانون ته هم اشاره کوي. دوهم: د پارلمان له خوا چې د اساسي قانون د تفسیر په هکله وضاحت نلري او له دې امله ستره محکمه نه شي کولای د دې واک ادعا وکړي.[۴۸] درېیم: د « اساسي قانون د څارنې د خپلواک کمیسیون» وروسته یې ویلي دي، چې د اساسي قانون له غوښتنې سره سم د نافذ قانون پر بنسټ تشکیل شوی او دغه قانون د پارلمان له خوا تصویبېږي نو ځکه پارلمان واک لري چې کمیسیون ته هر ډول واک ورکړي، په ځانګړي ډول کله چې بل بنسټ ته نه وی ورکړ شوی.[۴۹] د بل کوم بنسټ په باب فکر نه و شوی او نه داسې هوکړه شوې وه، لکه څنګه چې اوسنی وضعه څرګندوي، چې کوم بنسټ به د اساسي قانون د تفسیر واک ولري. په دې ډول، دغه تناقض د دولت د درې ګونو څانګو تر منځ د اختلاف په یوه پرلپسې موضوع واوښت. د دې خبرې یادول ضروري ده، چې که ډېر بنسټونه مسؤولیت ولري، چې اساسي قانون تعقیب او هغه پلی کړي، په دې صورت کې دغه بنسټونه باید د هغه د تفسیر واک هم ولري. له دې امله، تفسیر یوازې د قضایي واک په څېر نه دی منل شوی. د حکومت هره څانګه کولای شي اساسي قانون تفسیر کړي. په دې حالت کې به بې له شکه متنازع تفسیرونه راڅرګند شي. سره له دې، په داسې شرایطو کې، باید یو بنسټ دا واک ولري چې وروستی او الزامي تفسیر وړاندې کړي، داسې یو تفسیر چې د نورو بنسټونو لپاره الزامي اړخ ولري.[۵۰] د افغانستان په شرایطو کې د دې تیوری د پلي کولو په صورت کې، پارلمان کولای شي د قوانینو د تسوید او تصویب په ترڅ کې اساسي قانون هم تفسیر کړي، اجرائیه قوه هم د قانون د تطبیق په ترڅ کې همدغه ډول واک لرلای شي. په همدې ډول، ستره محکمه نه شي کولای قضایي بیا کتنه تر سره کړي تر څو، چې اساسي قانون تفسیر نه کړي او له اساسي قانون سره د قوانینو مطابقت تائید نه کړي. له دې سره سم، د اساسي قانون پر تطبیق د څارنې خپلواک کمیسیون هم نه شي کولای خپله د څارنې دنده اجراء کړي، تر څو د دې واک ونلري چې لومړی اساسي قانون تفسیر کړي. د سترې محکمې او د خپلواک کمیسیون په اړه، چې د تفسیر لپاره مناسب بنسټ دی، دوه مهم ټکی د یادونې وړ دی: لومړی ټکی هر یو بنسټ ته د اساسي قانون پر بنسټ د ځواک ورکول دي؛ او دوهم، ایا نور بنسټونه دې ته لاس رسی لري، چې د اساسي قانون د تفسیر تقاضا وکړي. په قضایي قوه کې، که څه هم محکمه کولای شي او باید د تفسیر دنده د قضایي بیا کتنې د هرې قضیې په اړه اجراء کړي، د دې قوې واک چې اساسي قانون په ټولو قضیو کې تفسیر کړي، د یوه لړ عواملو په ذریعه محدود دی. حتی که ومنو، چې ستره محکمه د ۱۲۱مې مادې د ضمني معنی له مخې واک لري، چې اساسي قانون تفسیر کړي، دغه واک بیا هم د وسعت او ارجاع له پلوه له محدودیت سره مخ دی. لکه څنګه چې ټام ګینز برګ ویلي:

> ۱۲۱مه ماده وایي، چې حکومت یا محکمې کولای شي له حکومت څخه وغواړي، چې قوانین او معاهدې له اساسي قانون سره د هغوی د مطابقت په غرض له نظره بیا تېرې کړي. دغې مادې، سره له دې محکمې ته په ښکاره ډول هغه عمومي واک نه دی ورکړی، چې له دې شرایطو څخه بهر اساسي قانون " تفسیر " کړي. په دې ډول که چېرې په دې هوکړه نه وې شوې، چې کوم بنسټ د اساسي قانون له مخې واک لري، د دې مسئلې د حل لپاره میکانیزم هم نشته.[۵۱]

په عمومي ډول، اساسي قوانین، چې له تېرو هغو څخه توپیر لري، غواړي "ښه" بنسټونه رامنځته کړي او د خپلو اتباعو لپاره ډېر حقوق ومني. دا ډول اصلاحات غوښتونکی اساسي قوانین په معمولي ډول داسې احکام په نظر کې ساتي، چې هیواد له هغه پخوا نه وي تجربه کړي. له دې امله، څه شی چې د کاغذ پر مخ لیکلي وي، ښایي پیچلتیاوې رامنځ ته کړي، په ځانګړي ډول د نوي اساسي قانون د تطبیق په لومړیو مرحلو کې. دا هغه شېبې دي چې د اساسي قانون د تفسیر ځانګړې مسئله – د هغو مسئلو په خلاف چې د چیک کولو د میکانیزم

۴۷ کمالي، د افغانستان د اساسي قانون لس حکمونه، موضوعات کوم دي؟ ۱۲.

۴۸ همدا ماخذ ۱۲.

۴۹ محمد امین احمدي ، "په افغانستان کې د اساسي قانون د تفسیر صلاحیت د اساسي قانون پر تطبیق د څارنې خپلواک کمیسیون ، "

۵۰ ډاکټر او له بش مایدوفسکي، د دویمې سنا عدالت، د المان د فدرالي جمهوریت د اساسي قانون محکمه، د کنفرانس جریان، په هایدلبرګ جرمني کې، جون ۲۰۱۲.

۵۱ ګینز بورګ "د اساسي قانون مقایسوي بیاکتنه " ۲.

اجزاوې دي- زيات ارزښت پيدا کوي. کله چې اساسي قانون پخوالي ته ورسيږي او مخکينۍ قضايي رويې موجودې وي، د دولت د قواوو په منځ کې د دوی د واکونو په اړه موافقې ته د رسېدو لپاره زيات امکانات او شفافيت را پيدا کيږي. په دې ډول، د دغه ډول غوښتنو لپاره اړتيا په کافي ډول راټيټيږي.

د تفسير دا ډول عملي بڼه محکمې ته او د دولت رسمي بنسټونو ته، دارنګه د څارنې اورګانونو لکه د بشري حقونو او ټاکنو کميسيوونو او مدني ټولنې ته د لاس رسي غوښتنه کوي. په تېرو ۱۲ کلونو کې، په افغانستان کې دې ډول تفسير ته ډېره زياته اړتيا وه. په هر حال، په متن کې پيچلتيا او د اورګانونو په منځ کې د توافق نشتوالي د حکومت اجرائيه قوې ته دا فرصت ورکړی، چې په جلا جلا ډول دوو بنسټونو ته مراجعه وکړي. او د اساسي قانون د تفسير د ضرورت په وخت کې له دوی سره نظريات تبادله کړي.

کوم بنسټ واک لری د اساسي قانون پر بنسټ د دولت د قواوو تر منځ اختلاف له منځه يوسي؟

د سپنتا له قضيې وروسته، مختلفو بنسټونو هڅې وکړې، چې د تفسير د واک په اړه د تناقض لپاره حل لار پيدا کړي. لومړی، سترې محکمې د محکمو د تشکيلاتو او واک په قانون کې وړاندې کړل، څو ثابته کړي چې د تفسير واک لري.[52] پارلمان بيا په قانون کې تعديلات ونه منل او قانون يې تصويب کړ، چې د حکومت له خوا جوړ شوی و او **۱۵۷**مه ماده يې د اساسي قانون پر تطبيق د څارنې د خپلواک کميسيون واکونه تعريفوي. په دې قانون کې، پارلمان دې کميسيون ته د تفسير واک ورکړ. که څه هم ولسمشر د دغه قانون په هکله د ويټوله حق څخه استفاده وکړه، پارلمان بيا هم د دوه پر درېيمې برخې اکثريت را يو سره قانون بيا تصويب کړ. ولسمشر له هغه وروسته قانون سترې محکمې ته راجع کړ، چې د ۱۲۱مې مادې پر بنسټ قضايي بيا کتنه تر سره کړي.

له پيل څخه ښکاره وه، چې د سترې محکمې قضاوت به دغه قانون بې باوره وګڼي، او دليل يې دا و چې قانون د محکمې په قضاوت کې مداخله کړې. په دې ډول له پرېکړې څخه د مخه، پارلمان د هرې بيا کتنې په اړه خپل مخالفت په ښکاره ډول څرګند کړ. دوی وويل، چې د محکمې بيا کتنه د ګټو ښکاره ټکر دی او محکمه نه شي کولای په هغه بيا کتنه وکړي او هغه قانون بې باوره وګڼي چې د دوی واک ته زيان رسوي. کله چې قانون په رسمي جريده کې خپور شو، د سترې محکمې پريکړه له قانون څخه د مخه صادره شوه او د قانون هغه ماده يې بې باوره وشمېرله، چې له محکمې څخه يې د تفسير کولو واک اخيستی و. سره له دې، محکمې چې په پارلمان باندې ډاډ نه درلود، چې له دې فيصلې وروسته به په قانون کې تعديلات منظور کړي، وړانديز وکړ چې د محکمې په باور اساسي قانون سره مغاير احکام لغوه کړي او د دې کار لپاره يې په لمن ليک کې خپل دلايل ذکر کړي وو. له دې امله، سترې محکمې د خپلې پرېکړې د تقويې لپاره په حقيقت کې د پارلمان د قانون جوړونې واک په دې ډول تر بريد لاندې ونيو، چې په قانون کې يې بدلون راوست. پارلمان دې پرېکړې ته اهميت ورنه کړ او په خپل دريځ باندې ودرېد او د اساسي قانون پر تطبيق د څارنې خپلواک کميسيون ته يې د تفسير واک ورکړ. په دې ډول، د يوې اوږدې او بې اغېزې پروسې په پای کې پارلمان يو قانون تصويب کړ، چې د ولسمشر له خوا د اساسي قانون ضد وبلل شو او سترې محکمې هم د اساسي قانون په ضد اعلان کړ، خو تر اوسه هم د قانون دواړه نسخې نافذې دي، د دې قانون په نافذېدلو سره يو حالت رامنځ ته شو، چې دوو بنسټونو د تفسير واک يې عملي کاوه. چارواکو له دواړو بنسټونو څخه په خپل وار له هغه بنسټ څخه استفاده کړې، چې د دوی په ګټه پرېکړې کوي.[53]

د بنسټونو په منځ کې ډيالوګ (بحث) د اساسي قانون يوه لويه تشه په ګوته کړه: د يوه ميکانيزم او د يوه بنسټ نشتوالی، چې د دولت د قواوو تر منځ د اختلاف لپاره حل لار پيدا کړي. کله چې د اساسي قانون اړوند پوښتنې يا مسئلې را پيدا کيږي او د حکومت د څانګو تر منځ د هغو په هکله موافقه نه وي، لکه په پورتنيو مثالونو کې چې وښودل شو، هلته د اساسي قانون پر بنسټ داسې يو بنسټ نه وي، چې په ځانګړي ډول د اختلافاتو د حل کولو او قضاوت کولو واک ولري.

په پای کې، د تفسير د واک پر سر د اختلاف شدت د افغانستان د اساسي قانون په سيستم کې د قضايي بيا کتنې ارزښت تر سيوري لاندې راوستې دی. په همدې بنسټ، ۱۲۱مه ماده د تفسير د فقرې په څېر پېژندل شوې نه د قضايي بيا کتنې د فقرې په څېر.

---

۵۲ ډيمپسي او تير، "په افغانستان کې د اساسي قانون په تفسير باندې د مخالفتونو رفع کول" ۴.

۵۳ د دې بېلګې د ټاکنو د خاصې محکمې په قضيه کې ليدل شوي، کله چې ولسمشر د محکمې د قانونيت په اړه له دواړو بنسټونو څخه نظريه وغوښته.

# دریمه برخه: د قضايي بیا کتنې نافذېدل

## ۴. قضايي بیا کتنه: ۱۲ کلنه تجربه

د اساسي قانون پر بنسټ بیا کتنه د پارلمان او د اجرائیه قوې د قانون جوړونې له واکونو څخه څارنه ده.[۵۴] د افغانستان د ۲۰۰۴م کال اساسي قانون په همدې موخې قضايي بیا کتنې ته هم ځای ورکړی دی. سره له دې، داسې وړاندوینه کېدله، چې قضايي بیا کتنه ښايي له ګوابنونو سره مخ شي. قضايي کتنه نه یوازې په پیچلې او عمومي بڼه کې پاتې شوه، بلکې د یوې ستونزمنې دندې په څېر پېژندل شوې وه، په ځانګړې ډول د سترې محکمې لپاره، ځکه دې بنسټ په تېرو وختونو کې د قضايي بیا کتنې هیڅ تجربه نه درلوده.

څومره چې په افغانستان کې د لسیزو جګړو قضايي قوې ته زیان اړولی دی، په تاریخي لحاظ د سیاسي مداخلو اوږد تاریخ او د اجرائیه قوې لاس بري هم د دولت د یوې خپلواکې او قوې ځانګې په څېر د قضايي قوې د پرمختګ مخه ډب کړې ده.[۵۵] له تمې سره سم، کله چې قضايي قوه د ۲۰۰۴م کال د اساسي قانون پر بنسټ رامنځته شوه، دغه ځانګه نه یوازې د دفترونو د ساختمان، لوازمو او اسنادو له لحاظه ډېره زیانمنه شوې وه، بلکې د مستعدو (وړو) قاضیانو او قضايي پرسونل له درکه یې نور ډېر زیان هم لېدلی و.[۵۶] د یوې اغېزمنې قضايي قوې لپاره، پراخو بدلونونو ته اړتیاوه څو په یوې خپلواکې او ظرفیت لرونکي قوې واوړي، لکه څنګه چې په اساسي قانون کې یې تعریف شوی دی.[۵۷]

بې له شکه، یوې نږدې پاشلې قضايي قوې د دې وس نه درلود، چې په سملاسي ډول د داسې سترو واکونو د پوره کولو له عهدې څه ووځي- د هغو واکونو په ګډون چې د دې ځانګې لپاره نوي وو. د دې حقیقت په رڼا کې، د قاضیانو د ظرفیت لوړول او د نوي قانون په اړه دوی ته د روزنې ورکول یو اساسي مخکینی شرط و، پخوا له دې چې قضايي قوه د څارنې د واک، لکه قضايي بیا کتنې او د اساسي حقوقو تقویه کولو په کارولو پیل وکړي. په دې برسېره، قضايي قوه مجبوره وه، چې خپله خپلواکي اظهار کړي څو د اساسي قانون پر بنسټ له خپلو واکونو څخه کار واخلي او نورې ځانګې محدودې کړي. که چېرې د اساسي قانون پر بنسټ د خپلو واکونو په ضد یا ورهاخوا عمل کوي. په دې وخت کې باور دا و چې وکتل شي قضايي قوه به وکولای شي، چې د ظرفیت د جدي ګوابنونو او د اجرائیه قوې له هڅو سره سره چې تر خپل نفوذ لاندې یې وساتي، د یوه قوي بنسټ په ډول پرمختګ وکړي او که نه؟ د اساسي قانون له خپرېدو څخه په وروسته کلونو کې، هغو ستونزو چې په عملي ډګر کې قضايي قوه ورسره مخ شوه ثابته کړه، چې د اساسي قانون پر بنسټ د ورسپارل شویو ځواکونو اعمالول ستونزمن کار دی.

په تېرو ۱۲ کلونو کې د قضايي قوې د عمومي اجراءاتو ارزونه به د دې لیکنې له حدودو څخه وتلې وي. له دې امله، لیکنه به په لنډ ډول د سترې محکمې له خوا د قضايي بیا کتنې تطبیق تر ارزونې لاندې ونیسي. په تېرو ۱۲ کلونو کې، د قضايي بیا کتنې یوه نیمګړتیا دا وه، چې د هغې په اړه یو نافذ قانون نه وتصویب شوی (د اساسي قانون غوښتنه) دغه راز، په دې اړه کړنلارې، د لاندینیو محکمو غوښتنې، معیاري قانوني استدلال او ثبات نه دي لیدل شوي. له دغو نیمګړتیاوو سره یو ځای، ډېرو پرېکړو ته د لاس رسي نشتوالي (په لاندې برخه کې به په مفصله توګه تر بحث لاندې راشي) ډېره ګرانه کړې ده، چې د بیا کتنو څرنګوالی هم د اصولو له مخې او هم د شکل له مخې وارزول شي. لاندې برخه به په لنډ ډول دغه نیمګړتیاوې تر بحث لاندې راولي.

---

۵۴ د افغانستان اساسي قانون (۲۰۰۴)، ۱۲ او ۱۵۷ مادې او د اساسي قانون پر تطبیق د څارنې خپلواک کمیسیون ۸ ماده.

۵۵ په مختلفو رژیمونو کې په قضا کې د سیاسي مداخلو د جزئیاتو لپاره وګورئ: وردک، د نړیوال کړکیچ ګروپ، د افغانستان په نیمګړې قضايي قوه کې اصلاحات، (کابل / بروکسل ؛ د نړیوال کړکیچ ګروپ، نوومبر ۲۰۱۰) ۴-۷.

۵۶ له جګړو څخه وروسته د قضايي قوې د حالت په اړه د جزئیاتو لپاره وګورئ: "له جګړو څخه وروسته په افغانستان کې د قضايي سیستم جوړونه" په افغانستان کې د دولت بیا رغونه او بین المللي مرستې LSE ان لاین څېړنې، .........

۵۷ وګورئ، د مثال په ډول، مارتین لو، "د افغانستان د قانوني سیستم د بین المللي بشري حقوقو له معیارونو سره د هغه د سموالی په باب وروستی راپور"، (د حقوق پوهانو بین المللي کمیسیون، ۲۰۰۴ وګورئ: مخ ۳۲ او د نړیوال کړکیچ ګروپ "د افغانستان د نیمګړې قضايي قوې اصلاحات."

## ۴.۱ د قضايي بيا كتنې قانوني چوكاټ او كړنلارې:

په عمومي ډول، اساسي قوانين د هر حكم لپاره، چې هغه يې ټاكي، مفصل مقررات نه بيانوي. د مختلفو لاملونو له امله اساسي قانون احكام په عمدي ډول د هغه د ليكونكو له خوا پېچلي پاتې كيږي او عمومي بڼه لري. يو لامل يې ښايي دا وي، چې د ليكونكو تر منځ د موافقې، معلوماتو او / يا د اختصاصي مهارتونو او پوهې نشتوالي وي.[۵۸] د عمومي او پېچلو احكامو د ځايولو بل لامل ښايي دا وي، چې د هغه ليكونكي په كافي اندازه وخت ونلري. د اساسي قانون ليكونكي ښايي ځينې پرېكړې راتلونكي ته پرېږدي؛ په دې نيت، چې د دوى اخلاف (ځاى ناستې) مقيد نه شي، په عمده ډول قانون جوړونه. د ليكونكو ترديد هم كېداى شي د پېچلتيا سبب وګرځي. له دې امله، د مسودې ليكونكي د دې پر ځاى چې بهير و دروي، راتلونكو قانون جوړوونكو ته يې پرېږدي، څوك چې احتمالي پايلوته په كتو سره ، د مسئلې د تنظيمولو هڅې كوي.[۵۹] دغه عمل چې د تعويق په نوم يادېږي، په ډېرو اساسي قوانينو كې ليدل كيږي، چېرې چې له احكامو سره د "قانون په ذريعه" يا د "له قانون سره په مطابقت كې" اصطلاحات كارول كيږي.

دغه عمل د افغانستان په اساسي قانون كې په عام ډول ليدل كيږي. د مثال په توګه دا ورته كړنه د قضايي بيا كتنې په مورد كې وكارول شوه. د مسودې ليكونكو په متن كې د قضايي بيا كتنې په اړه تفصيلات يا كړنلارې نه دي وركړې، چې ستره محكمه هغه پلې كړي. په داسې حال كې چې اساسي قانون د سترې محكمې واك مني چې قانون وڅېړي، خو په دې باب يې تفصيلات نه دي وركړي، چې قانون څنګه كولاى شي دغه واک تنظيم كړي. قانون، لكه څنګه چې د اساسي قانون په ذريعه تعريف شوى، "هغه شى دى چې د ملي شورا دواړه خونې يې تصويب او ولسمشر يې توشيح كړي."[۶۰] قانون كېداى شي د "حكومت يا د ملي شورا د غړو يا په قضايي قوه كې د هغې د قضايي چارو د تنظيم په برخه كې د سترې محكمې له خوا د حكومت په ذريعه پيل شي."

اساسي قانون د قضايي قوې يو له كليدي واكونو څخه د تفصيل لپاره پارلمان ( او اجرائيه قوې ) ته پرې ايښې. په دې ډول اساسي قانون په ښكاره توګه د حكومت د قواوو تر منځ د ګټو ټكر رامنځته كړ. اساسي قانون قضايي قوې ته اجازه وركړې، چې د دې ځواك لپاره د قانون وړانديز وكړي. دغه وړانديز بايد حكومت ته واستول شي او حكومت به هغه پارلمان ته وړاندې كوي. پارلمان واک درلود ، چې قانون تصويب كړي، چې په حقيقت كې يې هدف د پارلمان د قانون ګذارۍ د واک كمول و. په ايډيال(خيالي) حالت كې، پارلمان بايد په دې موقف كې پاتې نه شي، چې خپل څارونكى اداره كړي. د همدې دليل له مخې دغه واک بايد د اساسي قانون په ذريعه ښه تعريف شي. كه واک پارلمان ته وركړل شي، په هغه صورت كې قضايي قوه له دې واک څخه محرومېږي. په نويو اساسي قوانينو كې د دغه كړكېچ امكان زيات دى، چېرې چې اساسي قوانين هڅې كوي د ځان لپاره په دې ډول زيات واكونه په اختيار كې وساتي، چې د نورو قواوو واكونه محدودوي. په تېرو ۱۲ كلونو كې سترې محكمې هيڅ داسې كومه هڅه نه ده كړې، چې د قضايي بيا كتنې لپاره د يو قانون وړانديز وكړي. كه څه هم د قضايي قوې د تشكيلاتو او واكونو قانون عالي شورا ته دغه واک وركړى، خو په دې اړه هيڅ تفصيلات نلري، چې عالي شورا څنګه كولاى شي قضايي بيا كتنه تر سره كړي. په دې برسېره محكمې زيات شمېر مقررات، كړنلارې او لارښودنې چې څنګه د قضايي قوې كورنې امور تنظيم كړي، صادر كړي، خو د قضايي بيا كتنې په برخه كې يې يوه مقرره هم نه ده صادره كړې.[۶۱] په دې ترتيب قضايي بيا كتنه د سترې محكمې د عالي شورا چې نهه تنه قاضيان پكې غړيتوب لري او د سترې محكمې د پرېكړو نيولو عالي مقام دى، د واک په څېر پاتې شوى دى.[۶۲] په عملي ډګر كې، لكه څنګه چې د سترې محكمې د كاركوونكو له خوا واضح شوې، قضايي بيا كتنه له هنر څخه برخمنه نه وه.[۶۳] د دې لامل دا دې، چې عالي شورا قضايي بيا كتنه د اساسي قواعدو او كړنلارې سره سمو لارښودنو په نه شتون كې تر سره كوي.

---

۵۸ ماركوس بوكن فوردي، نورا هيدلينګ او وين لک واهيو، د اساسي قانون د جوړونې لپاره يو عملي لارښود، (ستوكهولم سويډن: بين المللي idea ۲۰۱۱)، ۴۹-۵۰.

۵۹ روزاليند ډيكس او ټام ګينز بورګ، د فيصلې نه كولو پرېكړه : د اساسي قانون د طرح لپاره ارجاع، د اساسي قانون بين المللي ژورنال ۹، ګڼه ۳-۴ (۲۰۱۱)، ۲۳۷-۲۴۱.

۶۰ د افغانستان اساسي قانون ۲۰۰۴ ، ۹۴ ماده.

۶۱ د قضا سالنامه، ( قضايي كلنى فعاليتونه ) د قضايي قوې د فعاليتونو او برياوو په باب ليكنه ، لومړى جلد ،( كابل: د افغانستان ستره محكمه ، ۲۰۱۴ )، ۸۷-۹۰.

۶۲ "د قضايي قوې د تشكيلاتو او صلاحيتونو قانون" رسمي جريده ۱۱۰۹ ( ۲۰۱۳ ) ۲۴ او ۲۸ مادې. سره له دې چې د سترې محكمې په تشكيل كې پينځه رياستونه شته چې د هر يوه په رأس كې يو رئيس وي او مشخص صلاحيتونه لري، خو هيڅ يو رياست د قضايي بيا كتنې صلاحيت نلري. دغه پينځه رياستونه يا څانګې دا دي: ۱- د عامه جرائمو دېوان ، ۲- د عامه امنيت ديوان ، ۳- د مدني او عامه حقوقو ديوان، ۴- تجارتي ديوان او ۵- د نظامي جرائمو او داخلي او خارجي امنيت پر ضد جرائمو ديوان.

۶۳ د سترې محكمې كارمندان ( د نومونو د نه ښودلو په شرط ) ، شخصي مكاتبې، جون ۲۰۱۲.

دې شرايطو ته په کتو سره، کله چې له سترې محکمې څخه غوښتنه وشي چې يو قانون د اساسي قانون پر بنسټ تر بيا کتنې لاندې ونيسي يا يې تعبير کړي، د سترې محکمې د تفتيش او تعقيب عمومي رياست د تائيد او اثبات لپاره يوه مسوده برابروي. مسئله به په دې ډول د سترې محکمې د يوې اونۍ د فعاليتونو په اجندا کې شامله شي، چې په پايله کې يې له زيات غور څخه يوه پرېکړه صادرېږي.[۲۴] د قواعدو او لارښودونو په نه شتون کې دغه عمل د سترې محکمې عالي شورا ته له حده زيات اختيارات ورکوي. په پايله کې، له يوې خوا، هغه طرز او طريقه چې په ترڅ کې يې محکمه قضايي بيا کتنه اجرا کوي، بې ثباتي او د محکمې په پرېکړو کې د بې طرفۍ نشتوالي رامنځ ته کوي. له بلې خوا، دغه طريقه د نورو قواوو د ځواک د محدودولو د وسيلې په څېر د قضايي بيا کتنې پرمختګ له خطر سره مخامخ کوي. تر ټولو مهم، دغه طريقه به په اوږد مهال کې د قضايي قوې، د هغې د ظرفيت او خپلواکۍ په اړه ناهيلي نوره هم ژوره کړي.

## ۴.۲ د قضايي بيا کتنې لپاره ارجاع:

د قضايي بيا کتنې په عملي کولو کې مهمه پوښتنه دا ده، چې محکمه څنګه د بيا کتنې لپاره غوښتنې تر لاسه کوي. په دې برخه کې هيوادونه ښايي له بېلا بېلو ميکانيزمونو څخه کار واخلي. په هر حال دغه ميکانيزمونه د قضايي بيا کتنې له ماډل سره تړلي دي. د مثال په توګه، د مشخصې بيا کتنې په قضيو کې، هغه خوا چې په محکمه کې يوه دعوه طرحه کوي، له اساسي قانون سره د يوه قانون ياد اجرائيه قوې د عمل سموالی ګواښي.[۲۵] په داسې ملکونو کې لکه د امريکا متحده ايالات هغه شکايتونه د محکمې له خوا اورېدل کېږي او قضاوت ور باندې کېږي چې محکمې ته د دعوې په څېر وړاندې شي. په نورو ملکونو کې، لاندينۍ محکمې دغه واک نلري او مجبور دي قضيه پورتنۍ محکمې يا د اساسي قانون محکمې ته راجع کړي. په خاصه بيا کتنه کې، له اساسي قانون سره د مطابقت غوښتنه د عام چارواکي له خوا کېدای شي ( لکه ولسمشر، ملي شورا، رسمي چارواکي، چې د دولتي يا نورو مراجعو په وړاندې د خلکو شکايتونه څېړي، خپلواک کميسيونونه او نور)، د اساسي قانون په شکايتونو کې د انفرادي شخص په غوښتنه کېږي، چې حقوق يې نقض شوي وي.[۲۶]

د ۱۲۱مې مادې سره سم، قضايي بيا کتنه د حکومت او محاکمو په ارجاع (غبرګون) پورې محدوده وي. نور بنسټونه نه شي کولای ( ځينې يې پورته يادشول) يو قانون له اساسي قانون سره د مطابقت د ثبوت لپاره راجع کړي. که څه هم له پارلمان څخه چې د قانون تصويبوونکې اورګان تمه نه کېږي، چې يو قانون له اساسي قانون سره د مطابقت د معلومولو لپاره راجع کړي، سره له دې هم دوی بايد اجازه ولري، چې يو قانوني فرمان، يوه معاهده يا يو تړون د چيک لپاره ولېږي، مخکې له دې چې د هغه په تصويب باندې رايې ورکړي. په دې برسېره، دغه ماده د اساسي قانون پر تطبيق د څارنې خپلواک کميسيون يا د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون يا بل هر بنسټ ته د دې اجازه نه ورکوي چې دا ډول غوښتنې وکړي، تردې که دوی پوهېږي چې يو قانون د وګړو اساسي حقوق نقض کوي. لاندې برخه به ارجاع ته يو لنډ نظر واچوي، چې د حکومت او محکمو له خوا د قضايي بيا کتنې لپاره له سترې محکمې څخه کېږي.

1. د محکمو په غوښتنه:

د لاندينيو محکمو له خوا د قضيو د ارجاع په اړه د اساسي قانون متن تفصيلات نلري. د يوه قانوني چوکاټ د نه شتون په صورت کې، نور داسې قواعد نشته چې واضح کړي محاکم څنګه کولای شي يوه قضيه سترې محکمې ته راجع کړي، او آيا په دعوې کې د ښکېلو خواوو په غوښتنه د لاندينۍ محکمې يو قاضي کولای شي، چې په يوه قضيه تطبيق کېدونکی قانون له اساسي قانون سره د سموالي د بررسي لپاره راجع کړي. په دې ډول، د قضايي بيا کتنې په تېره ۱۲ کلنه تجربه کې د لاندينيو محاکمو له خوا له اساسي قانون سره د کوم قانون د سموالي پوښتنه نه ده مطرح شوې. محکمو يوازې د اساسي قانون د ځينو مادو د وضاحت او تفسير غوښتنه کړې ده.[۲۷] که څه هم داسې ادعاوې شته چې لږ تر لږه يوه قضيه له اساسي قانون سره د سموالي د بررسي کولو لپاره سترې محکمې ته راجع شوې، بلکه د سترې محکمې د تفتيش

---

۲۴ د تفتيش او تعقيب د عمومي رياست له رئيسانو او کارکوونکو سره مرکې، د افغانستان ستره محکمه ۱۳ جولای ۲۰۱۲.

۲۵ د دې لپاره چې د دعوې يوه خوا دغه ډول شکايت محکمې ته وړاندې کړي، هغه بايد يو قانوني موقف ولري: د انفرادي شخص شخصي حق چې په محکمه کې خپل شکايت ثبت کړي. د دې لپاره چې انفرادي شخص دغه قانوني موقف تر لاسه کړای شي، شکايت کوونکی بايد د مطرح شوې مسئلې څخه په مستقيم ډول متاثره شوی او متفرر شوی ( شايد متفرر او متاثر شي) وي او مسئله بايد د قانوني چوکاټ په د ننه کې د حل او فصل کولو وړ وي.

۲۶ توماس فليز او چيريل سونراز، " په مختلفو حقوقي سيستمونو کې ځای شوي اساسي قوانين " وګورئ: د روټ ليج د اساسي قانون درسي کتاب، اډيټ، مارک وی توشنيټ، توماس فليز او چيريل سونداز ( ابينګدن، اوکسون، نيويارک، روټ ليج، ۲۰۱۳) ۲۲-۲۸.

۲۷ له قاضي عبد القدير عدالت خواه سره شخصي مکاتبه، د سترې محکمې د عالي شورا غړی، او ښاغلی محمد حسين خينجاني، د عمومي منشي مرستيال، ستره محکمه، اکتوبر ۲۰۱۲. وګورئ: د ۱۳۸۵-۸۹ کلونو لپاره د سترې محکمې د فيصلو، او لارښودونو متحد المال ليکونو مجموعه ( ۲۰۰۲-۲۰۱۰) ( کابل : د افغانستان د اسلامي جمهوريت ستره محکمه، ۲۰۱۱).

او تعقیب د عمومي ریاست له خوا راجع شوې وه. دې ریاست ادعا کړې، چې په بانکي معاملاتو کې د غیر منقول جایداد د خوندي تعامل قانون ۲۷(۲) ماده بانک ته اجازه ورکوي، چې تضمین د کریډیټ په ډول په قرض ورکړی، په هغه صورت کې چې محکمه د قضیې په اړه په ۲۰ ورځو کې د ننه خپله وروستۍ پرېکړه صادره نه کړي، د اساسي قانون د ۱۲۲مې مادې سره مغایرت لري. ۱۲۲مه ماده د قضایي اورګان د قضاوت ایسارولو ته د هیڅ قانون په ذریعه په هیڅ ډول شرایطو کې اجازه نه ورکوي. له دې امله، د ریاست په باور دغه حکم د قضایي قوې د پرېکړو په نیولو کې د محدودیت معنی لري او له سترې محکمې څخه یې غوښتي چې هغه د اساسي قانون پر ضد اعلان کړي.[۶۸] د دې خبرې یادونه ضروري ده چې ریاست قانوني واک نلري، چې قانون محکمې ته راجع کړي؛ خو سترې محکمې بیا هم دغه شکایت ومانه او قانون یې د دې حوالې پر بنسټ له اساسي قانون سره مغایر اعلان کړ.

د لاندینیو محکمو قاضیانو هیڅکله د قضایي بیا کتنې غوښتنه نه ده کړې. دغه کار دوه ګوني لاملونه لري: یو، د سترې محکمې په کچه د لاندینیو محکمو د قاضیانو لپاره د قواعدو او لارښودنو نشتوالی، دوهم، د لاندینیو محکمو له قاضیانو سره د اساسي قانون اړوندو تجربو نشتوالی. افغانستان د مدون قانوني سیستم پیروي کوي. په دې سیستم کې د قاضیانو له خوا د قضایي اجراءاتو طرز په غیر مدون قانوني سیستم کې د قاضیانو د اجراءاتو له ډول سره توپیر لري. مدني قانون په عمومي ډول د عرف په ډول لیدل شوی او عادي قاضیان- په غیر مدون قانوني سیستم کې د قاضیانو په خلاف- غیرفعال عمل کوي او "له ژورې کتنې څخه ډډه کوي". دوی د قانون متن په تنګ او ډېر دقیق ډول تعقیبوي.[۶۹]

جان هینري میریمن په خپل معروف اثر کې " د مدون قانون عنعنه: د لویدیځې اروپا او لاتین امریکا د قانوني سیستمونو پېژندنه" کې وايي، چې د مدون قانون قاضیانو لپاره تفصیلي قوانین برابر شوي دي. له دې امله، د هرې پرېکړې لپاره یې چې دوی یې کوي،د "قانون کبری منطق جوړ کړی وی. د قضیې حقایق صغری منطق جوړوي ( په قانون کې یې لویه برخه وي . د قضیې حقایق جزئي قضیه وړاندې کوي، چې ورپسې حتمي پایله راځي. " میری من په پای کې وايي: چې یو قاضي د مدون قانوني سیستم په چوکاټ کې د "یوه ماشین د چلوونکي" په څېر پېژندل شوی، چې د قانون جوړوونکي له خوا طرح او جوړ شوی وي.[۷۰]

که څه هم مناسبه نه ده، چې د مدون قانوني سیستم د قاضي ځانګړتیاوې په ټولو شرایطو کې ومنو، د دې سیستم په ځینو قضایي اورګانونو کې، چې افغانستان یې یوه بېلګه ده، قاضیان لا اوس هم په قضایي ماشین کې غیرفعاله برخه وال دي. افغاني قاضیان د لسیزو جګړو، نیمګړو حقوقي زده کړو او د اجرائیه قوې د برلاستوب[۷۱] په نتیجه کې د شخصي او موسساتي عدم پرمختګ څخه رنځیږي. په دې ترتیب دوی په هغو قضیو باندې، چې د دوی تر قضاوت لاندې وي د قانون متن په ډېر دقت سره تطبیقوي. د قضایي بیا کتنې په حالت کې، قاضیان په افغانستان کې، د ۱۲۱مې مادې څخه پرته نور کوم قواعد یا مقررات نلري. ۱۲۱مې مادې څه توضیحات نه دي ورکړي چې قضایي بیا کتنه باید په څه ډول تر سره شي. دغه شرایط د قاضي لپاره د قضایي بیا کتنې د پوهېدلو اوعملي کولو په لار کې لوی ګواښ جوړوي. په دې ډول، سړی کولای شي دې نتیجې ته ورسیږي، چې د قضایي بیا کتنې مفهوم د لاندینیو محکمو د قاضیانو لپاره نوی دی، ځکه داسې یو ځانګړی قانون نشته، چې د قضایي بیا کتنې کړنلارې په روښانه ډول تعریف کړي.

د قضایي بیا کتنې اجراء په افغانستان کې عالي قضایي اورګان - ستره محکمه- ته ورکړ شوې اوعادي محکمې د اساسي قانون اړونده مسئلو په هکله د پرېکړو کولو واک نلري. په دې ترتیب د بیا کتنې مرکزي سیستم د لاندینۍ رتبې قاضیانو ته دا چانس نه ورکوي، چې د اساسي قانون اړونده قضیې وڅېړي. که سترې محکمې ته راجع شي، قاضیان لازمه پوهه نلري، دا خو لا په ځای پرېږده، چې د اساسي قانون اړوند په ښه توګه تنظیم شویو قضیو ساتنځای ، یو چوکاټ او کړنلارې په اختیار کې ولري، په کومو چې دوی کولای شي متکي واوسي. په دې برسېره، قاضیانو هیڅکله په دې اړه روزنه نه ده لیدلې او د دوی اکثریت ۱۲۱مې مادې ته د تفسیر د فقرې په توګه ګوري، نه د قضایي بیا کتنې د فقرې په توګه.[۷۲]

---

۶۸ د تفتیش او تعقیب د عمومي ریاست له رئیسانو او کارکوونکو سره مرکې، د افغانستان ستره محکمه ، ۱۳ جولای ۲۰۱۲.

۶۹ هرمن شورتخ، "د اساسي قانون محکمه او د بشري حقونو تطبیق "، وګورئ: د اساسي قانون مطابق حکومت د انتقال په حال کې افریقا او شرقي اروپا . اډیټ، میشایل سربن اوزن: ( وارسا : د بشري حقونو لپاره د هیلسنګي بنسټ د ۲۰۰۳ ) ۱۷۵.

۷۰ جان هنري میری مان ، د مدني قانون عنعنه: د لویدیځې اروپا او لاتین امریکا د حقوقي سیستمونو پېژندنه، دویم چاپ، ( پالو التو ، سی ای : د ستانډ فورډ د پوهنتون چاپ ، ۱۹۹۰)، ۳۲.

۷۱ د بین المللي کړکیچ ګروپ ، "د افغانستان د نیمګړې قضایي قوې اصلاحات ". مخ ۱۴.

۷۲ شخصي مکاتبه، قاضي عارف حافظ، د اساسي قانون پر تطبیق د څارنې د خپلواک کمیسیون غړی ، اکتوبر ۲۰۱۲.

په بدخشان کې، د لاندینۍ محکمې یو قاضي یوه قضیه ځکه مسترده کړه چې هلته په بانکي تبادلې کې د ګټې د نرخ په اړه مخالفت شتون درلود. قاضي له بانک څخه د قرضې په سر سود غیر اسلامي وباله او پرېکړه یې وکړه، چې قضیه او قانون د درېیمې مادې پر بنسټ له اساسي قانون سره مغایر و . په قضیو کې ښکېلو خواوو د بدخشان ولایت د استیناف له محکمې څخه د مرافعې غوښتنه وکړه. محکمې دغه غوښتنه ومنله او قضیه یې واورېدله.[۷۳] دغه قضیه څرګندوي چې قاضیان د خپلو واکونو او د قضایي بیا کتنې د اجراء په اړه له پیچلتیا سره مخامخ دي. ۱۲۱مې مادې په ښکاره ډول د قضایي بیاکتنې واک سترې محکمې ته ورکړی دی. سره له دې، دغه ډول قضیې ښیي، چې د لاندینیو محکمو د قاضیانو لپاره داسې کړنلارې نشته، چې د اساسي قانون سره مغایرو قضیو او له اسلامي قواعدو او اصولو سره د مخالفت په صورت کې څه ډول چلند وشي. دغو لاملونو نه یوازې د یوې فعالې او خپلواکې قضایي قوې د پرمختګ مخنیوی کړی، بلکې د پوهو او بې طرفه قاضیانو لپاره هم ګواښونه دي. په دې ډول، په افغانستان کې د قضایي بیا کتنې بنسټ ځکه پرمختګ ونه کړ، چې دلته د مدون قانون د لاندې قاضیان ځانګړي خصلتونه لري او له بلې خوا دوی د اساسي قانون په اړه تجربې او یو ټاکلی حقوقي چوکاټ نلري.

۲. د حکومت په غوښتنه":

بله واک لرونکې مرجع، چې د قضایي بیا کتنې تقاضا کولای شي، حکومت دی. په تېرو ۱۲ کلونو کې، سترې محکمې یوازې او په ځانګړي ډول د حکومت په غوښتنه د قضایي بیا کتنې واک کارولی دی. دغه برخه به دوه مسئلې را برسېره کړي. لومړی، حکومت له څه شي څخه تشکیل شوی دی؟ او دوهم، کومې قضیې د حکومت له خوا سترې محکمې ته وړاندې شوې دي؟

لومړۍ مسئلې ته د اساسي قانون ۷۱مه ماده ځواب وايي: " حکومت له وزیرانو څخه جوړ دی، چې د ولسمشر تر ریاست لاندې کار کوي. " سره له دې، ډېری غوښتنې پخپله د ولسمشر له خوا له سترې محکمې څخه شوې دي. د دې تعریف له مخې حکومت له ولسمشر او وزیرانو، دواړو څخه جوړ دی. له دې امله، د محکمې له خوا د بیا کتنې لپاره د یوې قضیې منښت باید د ۱۲۱ او ۷۱ موادو شرایط پوره کړي. په ځینو شرایطو کې، سره له دې، سیاسي مسئلو ته د قضایي قوې تسلیمي د دې سبب شوې چې د خپلو واکونو حوزه، د یوې قضیې د قضایي تعقیب ورتیا ( د مسئلو ډولونه چې محکمه یې د قضایي بررسۍ لپاره مني) او په قضیه کې د ښکېلو خواوو دریځ ( د یو انفرادي شخص حق چې یو شکایت مطرح کړي) وټاکي. د ډېرو په باور، د پارلمان په ګډون، محکمې د دې واک نه درلود ، چې د اساسي قانون پر بنسټ د سپنتا استیضاح واوري یا هغه تر بیا کتنې لاندې ونیسي. پارلمان استدلال درلود ، چې د ۱۲۱مې مادې له مخې محکمه یوازې کولای شي قوانین، قانوني فرمانونه، نړیوالې معاهدې، او نړیوال تړونونه تر بیا کتنې لاندې راولي. محکمې واک نه درلود ، چې د پارلمان په ذریعه د استیضاح یو عمل تر بیا کتنې لاندې ونیسي او د هغه په خلاف پرېکړه صادره کړي.[۷۴] سره له دې، ولسمشر وویل، چې تفسیر ته اړتیا شته ځو یقیني شي، چې پارلمان د استیضاح لپاره د اساسي قانون د ۹۲مې مادې په ذریعه ټاکل شویو کړنلارو پیروي کوي.

د ولسمشر له خوا محکمې ته د راجع شویو پوښتنو یوه نږدې کتنه څرګندوي، چې د سپنتا قضیه کېدای شي هم د تفسیر د قضیې او هم له اساسي قانون سره د پارلمان د استیضاح د برابرۍ د قضیې په څېر تعریف شي.[۷۵]

پوښتنې داسې مطرح شوې:

۱. ۹۲ ماده (۳): اساسي قانون حکم کوي: "په وزیر باندې د نه باور رایه باید صریحه، مستقیمه او پر پخو دلایلو ولاړه وي.
" که چېرې د افغانستان د اسلامي جمهوریت د ولسي جرګې توجیه (دلیل) دا حقیقت وي، چې د بهرنیو چارو وزیر داسې اقدامات نه دي کړي، چې د ایران د اسلامي جمهوریت د چارواکو له خوا له هغه هیواد څخه د افغاني مهاجرینو د ایستلو مخه ونیسي، هغې درجې ته په کتو سره چې د یوه هیواد [ افغانستان] د بهرنیو چارو د وزیر پرېکړې تر کومه بریده د یوه بل هیواد [ ایران] په بهرنیو پالیسیو اثر غورځولی شي؟ دغه توجیه د اساسي قانون د ۹۲ (۳) مادې له مخې " پاخه دلایل " شمېرل کېدای شي؟

۷۳ د تفتیش او تعقیب د عمومي ریاست له رئیسانو او کارکوونکو سره مرکې، د افغانستان ستره محکمه ، ۱۳ جولای ۲۰۱۲.

۷۴ وګورئ: دیمپس او تبر ، "په افغانستان کې د اساسي قانون په تغییر د اختلافاتو رفع کول " ۳.

۷۵ د اولسمشر له خوا سترې محکمې ته د راجع شویو پوښتنو د تفصیل لپاره وګورئ: روز لیدا ایلر، د افغانستان د اساسي قانون پېژندنه ( کالیفورنیا ، د افغانستان حقوقي تعلیمي پروګرام ، ۲۰۱۲)، ۸۱-۸۲.

۲. د اساسي قانون [۹۲(۳) ماده حكم كوي: "دغه رايه د ولسي جرګې د ټولو غړو د رايو په اكثريت صادريږي"] د منل شوي فورمول پر بنسټ يعنى ۵۰ جمع يو [ چې اكثريت جوړوي] په ولسي جرګه كې د رايو (۵۰ سلنه) يعنى ۱۲۴ رايې د رايو په لومړۍ ورځ له مقام څخه د وزير د خلع (لېرې) كولو لپاره وشمېرل شوې. څرنګه چې يوه رايه متنازع وه، مسئله د دوهم ځل رايې اچونې ته معطل شوه. آيا په داسې قضيو كې، دوهم ځل رايې اچونه مشروعيت او قانونيت لري؟ كه فيصله بايد د مذاكرو او د ملي شورا د عادي كړنلارې پر بنسټ وشي( چې په لومړۍ رايې اچونې باندې متكي ده)؟

۳. د رايې وركولو په لومړۍ ورځ د ولسي جرګې ۹۵ غړي حاضر وو. په دوهمه ورځ بيې ۲۱۷ كسان حاضر وو. هغو غړيو چې د رايې وركونې په لومړۍ ورځ حاضر نه وو د استيضاح د جلسې پوښتنې او ځوابونه نه و اورېدلي. آيا د دوی قضاوت او رايه د قانون له مخې مشروعيت لري او كه نه؟ [۷۶]

ښكاره ده چې لومړۍ پوښتنه د تفسير غوښتنه كوي او دوې نورې پوښتنې له اساسي قانون سره د پارلمان د كارونو د سموالي مسئله را پورته كوي. محكمې د دې اختيار درلود، چې قضيه د قضايي واک د نشتوالي پر بنسټ مسترده كړي، خو هغه يې د تفسير د يوې مسئلې په څېر ومنله. ښكاره ده، چې د تفسير غوښتنه د واک د مسئلې په اړه پوښتنه نه مطرح كوي – په داسې وخت كې، چې د سترې محكمې واک له ګواښ سره مخامخ نه وه. دغه پوښتنې په يقين سره تر بحث لاندې قضيې په اړوند د قضايي تعقيب د وړتيا او دريځ مسئلې مطرح كولای شي. محكمې د ښكاره قواعدو په نشتوالي كې قضيه د قضايي تعقيب وړ وګڼله. دغه راز محكمې په قضيه كې د ولسمشر دريځ هم تائيد كړ، كه څه هم ۱۲۱مې مادې يوازې حكومت ته واک وركړی چې مسئلې راجع كړي.

د يوې ورته مسئلې په اړه د كورنيو چارو وزير مجتبا پتنګ، كله چې څو كاله وروسته د ولسي جرګې له خوا استيضاح شو، سترې محكمې ته يې وړانديز وركړ، چې معلومه كړي، چې آيا دغه استيضاح په ښو دلايلو ولاړه وه كه څنګه؟

پتنګ هغه پوښتنې مطرح كړې، چې د سپنتا په قضيه كې را پورته شوې وې او د محكمې له خوا د اساسي قانون سره په مغايرت كې اعلان شوې. په هر حال محكمه په دې باور وه، چې پتنګ د يوه انفرادي وزير په حيث د محكمې په وړاندې د شكايت كولو حق نلري او قضيه يې مسترده شوه. د محكمې دليل دا وه، چې يوازې اجرائيه قوه يا ولسمشر كولای شي دغسې پوښتنه وكړي.[۷۷] د يادولو وړ خبره دا ده، چې نه د پتنګ او نه د سپنتا قضيه د قضايي بيا كتنې قضيې وې؛ بلكې يوازې د اساسي قانون د تعبير غوښتنې وې او له سترې محكمې څخه يې غوښتي و، چې له اساسي قانون سره د پارلمان د فعاليت مطابقت وڅېړي.

كه څه هم دواړه قضيې محكمې ته د انفرادي اشخاصو له خوا وړاندې شوې وې، يعنې د ولسمشر او وزير پتنګ له خوا، محكمې د ولسمشر له خوا وړاندې شوې قضيه ومنله او دوهمه يې د دريځ د نشتوالي پر بنسټ مسترده كړه. محكمې د اساسي قانون د ۱۲۱مې مادې پر بنسټ استدلال كاوه، چې له مخې يې يوازې حكومت يا محكمې د بيا كتنې غوښتنه كولای شي. د دې خبرې يادول مهم دي ، كه ۷۱مه ماده يو انفرادي وزير ته اجازه نه وركوي، چې له محكمې څخه د هغې د نظر پوښتنه وكړي، نو ولسمشر ته هم د يو انفرادي شخص په توګه دغه اجازه نه شي وركولای. د انفرادي شخص په څېر، له پورته يادو شويو كسانو څخه يو يې هم حكومت نه جوړوي، ځكه چې حكومت د اساسي قانون په ذريعه په ښكاره ډول د يوه ټولېز اورګان په څېر تعريف شوی دی. كه محكمه له حكومت څخه د ارجاع غوښتنه كوي نو په هغه صورت كې د ۷۷ مې مادې پر بنسټ ارجاع بايد د كابينې ( له وزيرانو څخه جوړه شوې چې د ولسمشر تر مشر تابه لاندې كار كوي) له خوا وشي نه د ولسمشر له خوا. د سپنتا او پتنګ په قضيو كې سترې محكمې ته وړاندې شوې پوښتنې بې له شكه سياسي رنګ درلود او د هغو په تعقيب پرېكړې هم سياسي وې.

د يادولو بله مهمه مسئله چې بايد غور ورباندې وشي قانون دی، چې حكومت سترې محكمې ته د قضايي بيا كتنې لپاره وړاندې كړی. د دغو قوانينو بررسي ښيي چې قضايي بيا كتنه د ولسمشر له خوا د يوې وسيلې په څېر كارول شوې وه، څو له پارلمان سره د پاليسيو په سر په مخالفتونو كې بريا تر لاسه كړي. ولسمشر په ډېرو مواردو كې، چې لاندې به پوره بحث ورباندې وشي، قضايي بيا كتنه د پارلمان په ضد كارولې، البته وروسته له هغه چې نورې ټولې قانوني لارې چارې يې و ازمايلې، څو ډاډ تر لاسه كړي، چې د ده د خوښې پاليسي په قانون كې په ښه ډول غبرګون پيدا كړي. دغه قوانين دا دي: د رسنيو قانون ۲۰۰۹، د اساسي قانون پر تطبيق د څارنې خپلواک كميسيون

۷۶ همدا ماخذ

۷۷ كمالي ، د كرزي په دوران كې په افغانستان كې د پارلمان او اجرائيه قوې په منځ كې اړيكې او د اساسي قانون د تفسير او قضاوت مسئله.

قانون ۲۰۰۹، د دېپلو ماتيکې او کونسلګرۍ د کارکوونکو قانون ۲۰۱۴، او د حکومتي لوړ رتبه کارکوونکو د معاش قانون.[۷۸] له دغو قوانينو پرته د قضايي بيا کتنې لپاره له سترې محکمې سره نور اسناد موجود نه وو.

## ۴.۳ دقانوني او سياسي دليل ترمنځ د توازن نشتوالی

۱.۳- يوه خپلواکه قضايي قوه قاضيانو ته د دې وس ور کوي، چې بې طرفه او عادلانه پرېکړې وکړي او د حکومت د نورو قواوو په منځ کې موازنه وساتي او تر کنترول لاندې يې ونيسي او د قانون واکمني ټاکي.[۷۹] د قضايي قوې د خپلواکۍ اساسي اصول، چې د ملګرو ملتونو دعمومي اسمبلۍ له خوا منظور شوي دي، له قضايي قوې څخه غواړي چې "بې طرفي، له قانون سره سم د حقايقو پر بنسټ، بې له هر ډول محدوديته، نامناسب نفوذ، هر ډول تشويق، فشار، تهديد يا مداخلې څخه که په مستقيم يا غير مستقيم ډول وي؛ له هرې خوا او په هر دليل چې وي" پرېکړې ونيسي.[۸۰] د دې لپاره چې قاضيان مناسبې فيصلې وکړي، چې پورته ياد شوي عناصر پکې مراعات شوي وي، دوی بايد له زياتې خپلواکۍ څخه برخمن وي.

قضايي خپلواکي کېدای شي، چې د پرېکړو يا د بنياد پر بنسټ وي. وروستی بنسټ د اساسي قانون له خوا تضمين دی، چې قضايي قوه د حکومت يو خپلواک، بېل او برابره قوه ده. لومړی بنسټ هغه واک دی، چې اساسي قانون يا يوه عادي قانون قاضي ته ورکړې دی، چې په يوې قضيې باندې په پوره خپلواکۍ کې پرېکړه وکړي.[۸۱] د دې لپاره چې يوه قضايي فيصله خپلواکه، د عالي کيفيت درلودونکې او په اغېزمن ډول د تطبيق وړ وي، بايد د قانون د دقيق تطبيق، عادلانه محاکمې، د حقايقو د مناسبې ارزونې پر بنسټ او پر حقوقي د لايلو ولاړه وي.[۸۲] د دغو شرايطو په منځ کې په يوه قضايي پرېکړه کې د محکمې استدلال تر ټولو له زيات اهميت څخه برخمن دی. د اروپايي قاضيانو مشورتي شورا د محکمې له خوا د بيا کتنې په وخت کې د قضيو د حقوقي استدلال د ارزښت په هکله خپله نظريه داسې بيانوي:

> د دلايلو راوړل نه يوازې له عارض سره د فيصلې په پوهېدلو کې مرسته کوي، بلکې تر ټولو ړومبی د خپل سرۍ په وړاندې محافظت دی. لومړی، قاضي ته مسؤوليت ورکوي، چې په دعوې کې د ښکېلو خواوو وړانديز ته ځواب ووايي او هغه ټکي په ځانګړې ډول په ګوته کړي چې دغه پرېکړه توجيه (منونکې) کوي او قانونيت ورکوي؛ دوهم، له ټولنې سره مرسته کوي چې د قضايي سيستم په دندو باندې و پوهېږي.

دغه نظريه په قضايي فيصله کې د حقوقي استدلال لپاره لاندينۍ اجزاوې لازمي بولي:

> دلايل بايد له تناقض څخه خلاص، ښکاره او څرګند وي او يو بل نفي نکړي. دلايل بايد لوستونکې ته دا امکان ورکړي، چې د استدلال تسلسل تعقيب کړي، چې په ترڅ کې يې قاضي پرېکړې ته رسيدلی دی........ د استدلال اظهاريه (بيان) بايد په دعوې کې د ښکېلو خواوو ارجاع ته ځواب ووايي.... د محتوا په لحاظ قضايي فيصله هغه عيني او حقوقي مسئلې څېړي، چې د دعوې اساسي ټکي جوړوي. دغه راز قاضي بايد د واقعي شواهدو وزن و ارزوي، چې ښايي د قضيې د حل لپاره مناسبت ولري. دلايل بايد د اساسي قانون يا د ملي او نړيوال قانون اړونده احکامو ته اشاره وکړي.[۸۳]

که څه هم، د يوه عمومي اثر په څېر، ټولې قضايي فيصلې بايد په معقول استدلال، حقايقو او قانون باندې ولاړې وي، د لاندينۍ محکمې قاضي بايد دې ته ښه ځير شي چې "د قضيې ماهيت، مسئلې، حقايق، پر حقايقو د تطبيق وړ قانون او د دوی د حل کولو لپاره د تطبيق وړ حقوقي استدلال وکړي." [۸۴] په دې برسېره، د سترې محکمې په ګډون پورتنۍ محکمې کولای شي "د حقايقو يو لنډ روڼ انځور چې

---

۷۸ لومړي درې قوانين په رسمي جريده کې خپاره شوي دي. وروستی قانون په رسمي جريده کې نه دی خپور شوی، مګر ليکونکې له سترې محکمې څخه يوه کاپي تر لاسه کړې.

۷۹ د اساسي قانون پروژه ، "د قضايي قوې په خپلواکۍ د خبري ځانګې لپاره لارښودنې."

۸۰ د قضايي قوې د خپلواکي په اړه اساسي اصول، د عمومي اسمبلۍ قطعنامې ۳۲/۴۰، نوومبر ۲۹، ۱۹۸۵ او ۱۴۲/۴۰، دسمبر ميلان: له مجرمينو سره د چلند او د جرمونو د مخنيوي په باب د ملګرو ملتونو کانګرس ، ۱۹۸۵).

۸۱ د اساسي قانون پروژه. د قضايي قوې په خپلواکۍ د خبري ځانګې لپاره لارښوونې.

۸۲ د اروپايي قاضيانو مشورتي شورا ، د قضايي پرېکړو په باب نظريه ، نظريه، ګڼه ۱۱ ( ستراسبورګ د اروپا شورا ، ۲۰۰۸).

۸۳ همدا ماخذ

۸۴ جايس جې جيورج، د قضايي نظريې، د ليکنې درسي کتاب، ۵ چاپ، نيويارک ، هاين او کمپني ، ۲۰۰۷)، ۳۲-۲۴.

په ترڅ کې يې په قانون باندې زيات ټينګار شوی وي " ۸۵ وړاندې کړي. په دې برسېره، د پورتنيو محکمو او سترې محکمې له خوا د نيول شوې فيصلې نه يوازې په دعوه کې په ښکېلو انفرادي اشخاصو اثر غورځوي، بلکې ګرده ټولنه اغېزمنه کوي. د دغو فيصلو پابلې يوازې په عامه قضيې پورې محدودې نه پاتې کيږي بلکې په غير مدون قضايي سيستم کې د قضايي رسم او سنت په ټاکلو کې مرسته کوي. دغه فيصلې په مدون قضايي سيستم کې د محکمې په قضاوت کې ثبات راولي. ۸۶ په دې برسېره، څرنګه چې د سترې محکمې پرېکړې د استيناف غوښتنې تابع نه دي، د محکمې لپاره مهمه ده، چې پر معقولو دلايلو ولاړې فيصلې وړاندې کړي، څو عدالت تأمين شي او د ټولنې په وړاندې د قضايي احتساب يوه کچه تضمين شي.

سره د هغو مسئلو چې مخکې بحث پرې وشو، د دې ټکي يادونه مهمه ده، چې د اساسي قانون اړونده مسئلو په باب د فيصلو په نيولو کې قاضي له ډېرو پېچلتياوو سره مخ وي، چې په عادي قضيو کې هغه نه لېدل کيږي. په داسې حال کې چې قاضيان په ټولو عادي قضيو کې مجبور دی د قانوني احکامو پر بنسټ استدلال وکړي، د اساسي قانون اړونده قضيو کې دوی ښايي د قانون ور ها خوا لاړ شي. د اساسي قانون اړونده زياتې پوښتنې سياسي ماهيت لري، له ډېرو سترو مسئلو سره سرو کار لري چې زياتره يې د وړاندوينې وړ نه وي، او ښايي داسې حل لارو ته اړتيا ولري چې د ټولنې د اجتماعي ، سياسي، اقتصادي او حتی کلتوري ژوند له بدلېدونکو قواوو سره توافق ولري. حتی د محکمې تر ټولو لوی تخنيکي واک ، يعنې د يوه قانون د انفاذ باطلول، کېدای شي ډېرې مهمې اساسي پايلې ولري سره له دې حقيقته چې د محکمې استدلال ښايي محض تخنيکي ماهيت ولري. ۸۷ په دې ډول د اساسي قانون اړونده قضيو کې د دې تمه نه شو کولای، چې محکمه خپلې ټولې پرېکړې د قانوني معيارونو پر بنسټ کوي. په حقيقت کې محکمه ډېر ځله په خپلو پرېکړو کې قانوني، سياسي او که ضروري وي ټولنيز دلايل راوړي. سره له دې د محکمې لپاره لازمي ده، چې خپلې ټولې فيصلې يوازې په سياسي بنسټ و نه کوي. که چېرته محکمه ښکاره او پېژندل شوي حقوقي مقررات ولري، په دې صورت کې نه شي کولای خپلې ټولې فيصلې په سياسي بنسټ وکوي.

لکه څنګه چې د قانون درسي کتاب يو ليکونکی ليکي قضايي فيصلې په ځانګړي ډول هغه فيصلې، چې د اساسي قانون له مخې ډېرې ارزښتناکې دي بايد ځينې قضايي ځانګړتياوې ولري:

د بديلونو په سروې کې بې طرفي او بې پلوي ؛ د ټولو هغو کسانو د ګټو په نظر کې نيول، چې ښايي متاثره شي؛ د ځينو عمومي او منلو وړ اصولو پيروي کول، چې د فيصلو لپاره يو معقول بنسټ جوړ کړي. څرنګه چې په داسې اصولو کې تعدد همېشه ممکن وي نه شو کولای وښيو چې يوه فيصله په بشپړ ډول سمه ده: بلکې فيصله ښايي د معلوماتو پر بنسټ د بې طرفه انتخاب د يوې معقولې پايلې په توګه د منلو وړ وي. په دغو ټولو جريانونو کې موږ هڅه کوو چې "انډول" او "توازن" وساتو څو د تنازع او ګټو په منځ کې عدالت تأمين شي. ۸۸

په خواشينۍ سره، د سترې محکمې په ډېرو فيصلو کې دغه خصلتونه په نظر نه راځي. د مثال په ډول. په ۲۰۰۹ کال کې کله چې د ټاکنو د ادارې اورګانونو اعلان کړه، چې ولس مشربزې ټاکنې له پلان سره سم نه شي کېدای، پوښتنه را پورته شوه، چې آيا د ولسمشر د خدمت موده، چې په هغه وخت کې د ولسمشرېزو ټاکنو کې نوماند هم و، د نورو دريو مياشتو لپاره اوږدېدای شي که نه؟ محکمه په دې باور وه، چې د سياسي څواک له خلا څخه د مخنيوي لپاره د ولسمشر موده بايد وغځيږي. ۸۹ د محکمې دغې فيصلې د کرزي په مخالفينو کې غوغا راپورته کړه او فيصله يې "د نه منلو وړ او د اساسي قانون پر ضد" وبلله او له دې څخه اندېښمن وو، چې کرزي به له خپل دريځ څخه بده استفاده وکړي. ۹۰ د محکمې فيصله په ظاهره په قانوني دلايلو ولاړه وه، خو په حقيقت کې د سياسي دلايلو پر بنسټ شوې وه. د کرزي مخالفينو وويل، چې محکمې" تر فشار لاندې " پرېکړه کړې ده. ۹۱

---

۸۵ همدا ماخذ

۸۶ ايس –اي سټرانګ "د معقولو نظرياتو او فيصلو ليکنه: د تازه کاره، مجربو او بهرنيو قاضيانو لپاره لارښود. " د اختلافاتو د رفع کولو ژورنال ۲۰۱۵، ګڼه ۱ (۲۰۱۵) مخ ۱۲۲.

۸۷ ويکتور فيريرس کوميلا ، د هسپانې د اساسي قانون محکمه ؛ د ريفورمونو عصر ، د مقايسوي قانون ژورنال ۳، ګڼه ۲( ۲۰۰۹) ، ۲۲- ۲۳.

۸۸ ايچ.ايل.اي. هارټ د قانون مفهوم ، دويم چاپ ، د کلا ريندو قانوني بيا کتنې خپرونې ، ( اکسفورډ ، کلا ريندون مطبعه ، ۱۹۹۸)، ۱۹۹-۲۰۰.

۸۹ د افغانستان ټاکنيز ګواښونه، ( کابل / بروکسل : د کړکيچ بين المللي ګروپ، جون ۲۰۰۹)، ۱۳.

۹۰ نجيب الله فرنګيس ، "د کرزي مخاليفينو د سترې محکمې فيصله د اساسي قانون مخالفه او تر سختې نيوکې لاندې راوستله "، آزادی راډيو ، ۳۰ مارچ ۲۰۰۹. وګورئ : مخ ۴۲

۹۱ همدا ماخذ

هغه طرز او طریقه چې له مخې یې محکمې د قضایي بیا کتنې په قضیو کې فیصلې کړې دي څرګندوي، چې محکمه د حقوقي استدلال پر ځای سیاسي استدلال ته میلان لري او ویې نشو کړای، چې د دې دوو په منځ کې موازنه وساتي. د دې لپاره چې هره محکمه معقولې فیصلې وکړي، اړینه ده، چې له حقوقي دلایلو او استدلال څخه کار واخلي؛ چې په اساسي قانون پورې اړونده موضوعاتو کې لا ډېر ارزښتناک دي. لاندې څو بېلګې به په دغو ادعاو باندې نوره رڼا واچوي.

## ۴.۴ د قضایي بیا کتنې په باب د ځینو نظریاتو شننه:

د ډله ییزو رسنیو قانون ( ۲۰۰۹): په ۲۰۰۹م کال کې کله چې د رسنیو قانون پارلمان ته د منظورۍ لپاره وړاندې شو، اولسي جرګې په ظاهري ډول د دې لپاره، چې په اجرائیه بنسټونو خپله څارنه پراخه کړي، ولسي جرګې فیصله وکړه، چې د دولتي رسنیو او د افغانستان د راډیو تلویزیون ( RTA) مشر باید د باور رایه تر لاسه کړي. د ولسمشر له خوا له ویټو کولو وروسته، ولسي جرګې یو قانون چې دغه حکم یې درلود د دوه پر دریېمې برخې اکثریت رایو سره بیا تصویب کړ. ولسمشر بیا دغه قانون د قضایي بیا کتنې لپاره سترې محکمې ته راجع کړ. [92] محکمې یوه لنډه فیصله صادره کړه او استدلال یې کاوه، چې د اساسي قانون احکام په ښکاره ډول داسې حالتونه ټاکي، چې د پارلمان تائید ته اړتیا ولري. فیصلې دغه راز د اساسي قانون مسودې ته اشاره کړې، څو دغه استدلال تقویه کړي، چې ولې ځینې دریځونه تائید ته اړتیا لري؟ فیصلې په پای کې ویلي دي، چې په دې لېست کې هره اضافه د قانون په حکم کې د بدلون معنا لري، چې د ولسي جرګې د واک په ساحه کې شاملېږي. له دې امله، محکمې د دې قانون ۱۳مه ماده د اساسي قانون په خلاف وګڼله. کله چې قانون په رسمي جریده کې خپور شو، ۱۳مه ماده ایستل شوې وه او د صفحې په پای کې لاندې یوه لمن لیک د دې حکم مغایرت له اساسي قانون سره توضیح کړې و. [93] پر دې بنسټ محکمې د ماربري او ماډیسن په قضیه کې د امریکا د متحده ایالاتو قاضي القضات ته هم دا ډول دلیل وړاندې کړې وه، کله چې ده استدلال کاوه د ۱۷۸۹م کال قضایي قانون سترې محکمې ته د حکم د صادرولو په واک سره [94] د هغې اساسي واک ته پراختیا ورکړې او دې قانون په اساسي قانون کې تعدیلات راوستل، په هر حال د افغانستان د سترې محکمې استدلال لنډ و او په عمده ډول یې د اساسي قانون د تسوید په موده کې د دې موضوع یو تاریخي بیان راوړی او یو استدلال راوړي، چې په متن ولاړ دی. محکمې په دې ډول په خپله فیصله کې د اساسي قانون سره د هغې مغایرت ته اشاره کړې. محکمې له دې ورها خوا نور استدلال او تحلیل نه دی وړاندې کړې.

**د اساسي قانون پر تطبیق د څارنې د خپلواک کمیسیون قانون (۲۰۰۹):**

د اساسي قانون پر تطبیق د څارنې د خپلواک کمیسیون د قانون مسوده د حکومت له خوا د سپنتا له قضیې وروسته تیاره او پارلمان ته په هغه وخت کې وړاندې شوه، کله چې پارلمان د ۱۲۱مې مادې پر بنسټ د سترې محکمې دا واک له ګواښ سره مخامخ کړ، چې اساسي قانون تفسیر کړي. له دې امله، قانون پارلمان ته دا فرصت ور کړ، چې د قانون جوړونې له واک څخه ګټه واخلي او د اساسي قانون پر تطبیق د څارنې خپلواک کمیسیون ته د اساسي قانون د تفسیر واک وسپاري. کله چې قانون تصویب شو، ولسمشر هغه ویټو کړ؛ دلیل یې دا وه، چې د ۱۲۱، ۱۲۲او ۱۵۷ موادو سره یې مغایرت درلود [95] ولسي جرګې د مادون د دستور د باطلولو له واک څخه استفاده وکړه او قانون یې د ۲ پر ۳ برخې په اکثریت سره بیا تصویب کړ. ولسمشر بیا وروسته د اساسي قانون د ۱۲۱مې مادې لاندې قانون سترې محکمې ته د قضایي بیا کتنې لپاره راجع کړ. محکمې قانون تر بیا کتنې لاندې ونیو او تر دغه وخته پورې یې تر ټولو زیاته مشرحه فیصله صادره کړه. په فیصله کې د قانون ډېرې مادې له اساسي قانون سره مغایرې پېژندل شوې وې.[96] د محکمې په فیصله کې یو شمېر ډېر معقول دلایل راوړل شوې وو، خو ځینو نورو بیا معقولیت نه درلود.

---

۹۲ وګورئ: د بې پولې رپورټرانو رپورټ، په رسمي جریده کې د رسنیو نشر شوی قانون. وګورئ: مخ ۴۷

۹۳ قضایي ۲ نمبر پرېکړه، د افغانستان ستره محکمه، ۱۱ رسمي جریده، ګڼه ۹۸۲ (۲۰۰۹).

۹۴ کتبي حکم له یوې محکمې څخه یوه رسمي چارواکي ته دستور ورکول دي چې خپلې رسمي وظیفې په مناسبه توګه اجراء کړي یا د فیصلې کولو په ځواک کې اصلاحات راولي. وګورئ د کارنل پوهنتون، د قانوني اصلاعاتو انستیتوت. مخ ۴۷

۹۵ د پارلمان چارو وزارت، "د افغانستان ملي شورا ولسي جرګې ته د ۹۴۹ نمبر لیک چې د اساسي قانون پر تطبیق د څارنې د خپلواک کمیسیون د قانون چې ملي شورا تصویب کړی د ردولو دلایل پکې راغلي دي، " می ۲۰۰۷.

۹۶ د افغانستان د اسلامي جمهوریت د سترې محکمې ۵ نمبر قضایي پرېکړه لیک، رسمي جریده، ګڼه ۹۸۲( ۲۰۰۹).

محکمې د تفسير د واک يوه مشرحه توضيح وړاندې کړه او د اساسي قانون د مسودې د ليکونکو نظرياتو ته يې د مبدأ په حيث مراجعه کړې وه. د دې برخې هدف دا دی چې هغه طريقې او ميتودونه و پېژنو، چې په ترڅ کې يې محکمې د قضايي بيا کتنې فيصلې کړې دي. دغه برخه به د محکمې په فيصلو يو اساسي نظر واچوي. په دې برخه کی به په افغانستان کې د تفسير د واک په اړه ډېر څه ونه ويل شي ځکه د دې مسئلې شرحه له دې مخکې راغلې ده.

په عمومي ډول، محکمه د اساسي قانون پر تطبيق د څارنې د خپلواک کميسيون له واکونو څخه راضي نه وه. پارلمان د اساسي قانون پر تطبيق د څارنې د خپلواک کميسيون قانون د يوې وسېلې په څېر وکاراوه څو د سترې محکمې په وړاندې چې د دوی په نظر يې د حکومت پلوي کوله، انډول رامنځته کړي. په دې ډول محکمې يوه فيصله وړاندې کړه، چې د کمو موندنو او اطلاعاتو پر بنسټ ولاړه وه. د اساسي قانون پر تطبيق د څارنې د خپلواک کميسيون د قانون ۷مې مادې د مثال په ډول، د دې کميسيون د غړيو عزل تنظيماوه. کړنلاره داسې وه، چې ۵ تنه غړي د رسمي واک څخه د بدې استفادې، د اساسي قانون پر تطبيق د څارنې د خپلواک کميسيون د قانون له احکامو څخه د سر غړونې او د کړنلارو د پرلپسې نقض له امله د کميسيون د هر غړي د انفصال وړانديز وکړي. د عزل وړانديز بايد د ولسي جرګې له خوا منظور شي. محکمې په خپله ۵مه شمېره قضايي فيصله کې دغه ماده "له قانون سره مخالفه" وګڼله. فيصلې عامه کړې نه ده، چې کوم قانون يې مطلب دی؛ خو د رسمي جريدې په متن کې يې هغه د اساسي قانون مغاير مشخص کړی. د محکمې په فيصله کې راغلي:

الف: کميسيون يو شرکت يا تجارتي سازمان نه دی، چې خپل يو غړی د نورو غړو د اکثريت رايو په ذريعه عزل کړي.

ب: ولسي جرګه د حکومت اجرائيه قوه نه ده، چې د کميسيون د غړيو عزل منظور کړي؛ ځکه کميسيون د اجرائيه قوې يوه برخه ده.

ج: د وزيرانو په اړه کړنلارې ډېرې ښکاره دي، چې د دوی د مقررۍ لپاره د ولسي جرګې منظوري اړينه ده خو د دوی عزل کول د ولسمشر واک دی.

د: دغه ميکانيزم چې د يوه غړي د عزل کولو وړانديز د کميسيون د نورو غړو له خوا کيږي او د ولسي جرګې له خوا منظوريږي، د کميسيون خپلواکۍ ته صدمه رسوي او د دې وېره شته، چې کېدای شي کميسيون د ولسي جرګې تر نفوذ لاندې راشي. ۹۷

په عمومي ډول، د فيصلې له متن څخه معلوميږي، چې له حقوقي استدلال څخه برخمنه نه ده. په مشخص ډول، لومړی بې له دې چې اساسي قانون په دقيق ډول مطالعه شي، فيصلې د اساسي قانون پر تطبيق د څارنې خپلواک کميسيون يوه اجرايوي اداره ګڼلې ده. داسې کوم شواهد نشته چې دا ادعا تقويه کړي. په حقيقت کې ډېر داسې دلايل شته چې د دې ادعا پر ضد وکارول شي. د يوه خپلواک بنسټ په حيث د اساسي قانون پر تطبيق د څارنې د خپلواک کميسيون د کار څرنګوالی کميسيون ته د دې حق ورکوي، چې د حکومت د نورو قواوو له نفوذ څخه په خلاصون کې کار وکړي، په خاص ډول د اجرائيه قوې له نفوذ څخه. اجرائيه قوه د نورو دوو قواوو په پرتله د اساسي قانون نقض کولو ته ډېر ميلان لري. په دې برسېره، د کميسيون واک دا دی چې د ولسمشر، پارلمان، د قضايي قوې او د نورو رسمي لوړ رتبه چارواکو کار تر بيا کتنې لاندې ونيسي څو د اساسي قانون له تطبيق څخه ډاډ تر لاسه شي. له دې امله، که چېرې کميسيون د اجرائيه قوې يو اورګان وای هغه به په ټيټه درجه کې وای او له دې امله به يې د دې واک نه درلود، چې د حکومت نورې درې قواوې تر څارنې لاندې ونيسي. په دې برسېره، که اساسي قانون دا کميسيون د اجرائيه اورګان په توګه پېژندلای وای په هغه صورت کې به دغه کميسيون په اساسي قانون کې د حکومت يا ادارې څپرکی لاندې ذکر شوی وای، نه د متفرقه احکامو په څپرکي کې. دوهمه مسئله دا وه، چې محکمې باور درلود که ولسي جرګه د انفصال په منظورۍ کې رول ولري، د اساسي قانون پر تطبيق د څارنې د خپلواک کميسيون خپلواکي له سوال سره مخامخ کيږي. سره له دې، محکمې دې ته اشاره کړې چې يوازې ولسمشر کولای شي دغه ډول انفصال عملي کړي. دغه استدلال ښايي يوه هڅه وې چې د پارلمان واکونه محدود کړي. په هر حال، محکمې اطلاع نه درلوده، چې آيا يوه انفرادي شخص (ولسمشر) يا يوې منتخبې اسمبلې (پارلمان) ته ددغه واک په ورکولو سره به خپلواکي له پوښتنې سره مخامخ شي او که څنګه. په دې ډول، د بيا کتنې دغه خاصه برخه د بيانيو يوه مجموعه وه او داسې حقوقي استدلال يې نه درلود چې دغه ادعاوې تقويه کړي.

---

۹۷ همدا ماخذ

دغه راز، محکمې د اساسي قانون پر تطبیق د څارنې د خپلواک کمیسیون د قانون ۸ (۴) هم د اساسي قانون د ۱۲۱ مادې سره په ټکر کې ښوولې. دې مادې کمیسیون ته واک ورکړی چې " نافذ قوانین وڅېړي، څو له اساسي قانون سره تناقضات په ګوته کړي او هغه ولسمشر او پارلمان ته وړاندې کړي چې د تناقضاتو د له منځه وړلو لپاره تدابیر ونیسي. "

د محکمې فیصله وایي:

> دغه فقره هم د اساسي قانون له ۱۲۱مې مادې سره په ښکاره مغایرت لري، ځکه په دې ماده کې نه یوازې د اساسي قانون، او نورو قوانینو تفسیر او دغه راز د فرمانونو، معاهدو، او نړیوالو تړونونو تفسیر د سترې محکمې له وظایفو څخه دی، بلکې له اساسي قانون سره د دوی توافق هم په ښکاره ډول د سترې محکمې له واکونو څخه ښودل شوی دی. سره له دې، د کمیسیون په نوي قانون کې چې په وروستیو کې د پارلمان له خوا تصویب شو د هغه د ۸(۴) له مخې دغه واک کمیسیون ته تفویض (ورکړل) شوی.

د استدلال په دې برخه کې محکمه بیا هم نه ده توانېدلې، چې د دوو بیا کتنو په منځ کې توپیر په دقیق ډول مطالعه کړي. ۱۲۱مه ماده بې له شکه سترې محکمې ته واک ورکوي چې قوانین، قانوني فرمانونه او نړیوالې معاهدې او تړونونه تر بیا کتنې لاندې ونیسي. په هر حال، د دغې بیا کتنې لپاره شرط دا دی، چې د حکومت یا د لاندینیو محکمو له خوا ارجاع شوې وي. بیا هم، د کمیسیون د قانون ماده د څارنې له خپلواک کمیسیون څخه غواړي دغه ډول تناقضات تر بیا کتنې لاندې راولي، بې له دې چې د چا له خوا ارجاع شوي وي او هغه ولسمشر او پارلمان ته وړاندې کړي، چې اصلاحي تدابیر ونیسي. دغه ډول واک د ۱۲۲مې مادې له ښه تطبیق سره هم مرسته کوي، دهغې یوه برخه توضیح کوي: " د دې اساسي قانون په نافذېدو سره ، قوانین او قانوني فرمانونه چې د هغه له احکامو سره مغایرت ولري، ملغی ګڼل کیږي. " په دې وخت کې، په افغانستان کې داسې بنسټ نشته، چې داسې یوه بیا کتنه تر سره کړي او اوسني اساسي قانون ته په کتو سره پارلمان او ولسمشر ته د قانوني اصلاحاتو اجندا وړاندې کړي. د پارلمان په وړاندې د قوانینو دلې پرتې دي چې باید بیا وکتل شي او بدلونونه پکې راوستل شي او لکه څنګه چې په لومړۍ برخه کې پرې بحث وشو، لاندینۍ محکمې په هماغه ډول په قضیو باندې د زړو قوانینو تطبیق ته ادامه ورکوي او هیڅ ډول تناقضات یې نه دي موندلي. په داسې حال کې چې محکمې د اساسي قانون پر تطبیق د څارنې د خپلواک کمیسیون د بیا کتنې واک محدود کړی دی، په تېرو ۱۲ کلونو کې وتوانېدله چې له اساسي قانون سره یوازې د څلورو قوانینو تطابق وڅېړي. سره له دې، د کمیسیون له خوا یوه لنډه څېړنه ښیي، چې د اساسي قانون له نافذېدو مخکې او وروسته ډېر شمېر قوانین شته، چې نافذ دي خو له اساسي قانون سره مغایرت لري.[98] دغه راز، د محکمې په باور ۵ (۱) ماده هم له اساسي قانون سره سمون نلري. دغه فقره حکم کوي، چې د کمیسیون غړي باید افغاني تابعیت ولري. محکمې وموندله چې:

> یوازې په افغانانو پورې د تابعیت محدودول د عادي قانون په واک کې نه دي، تابعیت د افرادو یو له اساسي حقوقو څخه دی او له دې امله، د هغه محدودیت په یوه موقف پورې یوازې د اساسي قانون په ذریعه مشخص کېدای شي.

د فیصلې بلې برخې ۱۱ (۱) ماده له اساسي قانون سره په "ښکاره تناقض" کې وموندله. دغه ماده حکم کوي چې "د کمیسیون غړي د کمیسیون د رئیس د موافقې څخه پرته نیول، توقیف یا تعقیب کېدای نه شي. مشهود جرمونه له دې حکم څخه مستثنی دي. " محکمې پرېکړه وکړه:

> دغه فقره هم په ښکاره ډول له اساسي قانون سره مغایره ده، ځکه قضایي مصؤونیت یو امتیاز دی، چې ولسمشر، د پارلمان غړیو او قاضیانو ته د اساسي قانون د احکامو پر بنسټ ورکړل شوی دی. د عادي قوانینو لاندې بل هیڅ شخص له دې امتیاز برخمن کېدای نه شي.

د محکمې دغه ادعاګانې چې د اساسي قانون پر تطبیق باندې د څارنې د خپلواک کمیسیون د قانون ځینې اړخونه په اساسي قانون کې نشته، په هغه صورت کې ښایي سمه ثابته شوې وای که محکمې د کمیسیون په باب هغو ته ورته تفصیلات ورکړي وای، کوم چې د قضایي قوې او پارلمان لپاره یې ارایه کړي وو. اساسي قانون په ښکاره په کمیسیون پورې اړوند جزئیات د عادي قانون واک ته پرې ایښي دي، چې ځینو میکانیزمونو ته یې اجازه ورکړې لکه د تابعیت او مصؤنیت مسئلې. دغه کار ته په هیڅ ډول د اساسي قانون د احکامو وسعت نه ویل کیږي. "د عادي قانون د واک څخه بهر نه دی. " دغه یوازې حواله کول دي او د اساسي قانون په ضد کوم امتیاز نه دی چې کمیسیون ته ورکړ شوی او نه په اساسي قانون کې د تعدیل معنی لري.

98 بېلګې دا دي: د ۱۹۷۶ کال د جزا قانون او د ۲۰۰۱ کال د ځمکو د استملاک قانون.

د ډيپلوماتيکو او کونسلګرۍ د کارکوونکو قانون (۲۰۱۴): د ډيپلوماتيکو او د کونسلګرۍ د کارکوونکو د قانون بيا کتنه يوه بله داسې بېلګه ده، چې د محکمې په فيصلو کې د ثبات نشتوالی څرګندوي. پارلمان قانون تصويب کړ او ښکاره يې کړه چې په بهر کې افغاني ډيپلوماتان او د کونسلګرۍ کارکوونکي نه شي کولای چې دوه ګونی تابعيت ولري. هغه ډيپلوماتان چې دوه ګونی تابعيت ولري، د دې قانون په نافذېدو سره به سملاسي له کاره ګوښه کيږي. د بهرنيو چارو وزارت له دغه حکم سره په اندېښنه کې ولوېد او ښکاره يې کړه، چې د دوی زيات شمېر ډيپلوماتان او د کونسلګريو کارکوونکي به کارونه له لاسه ورکړي او حقوق به يې نقض شي. له دې امله، وزارت دغه قضيه سترې محکمې ته راجع کړه.

د محکمې استدلال دا و، چې د اساسي قانون سره سم، د واحد تابعيت شرايط يوازې د ولسمشر، د ولسمشر د مرستيال او د حکومت د وزيرانو لپاره تاکل شوي. اساسي قانون د بل حکومتي لوړ رتبه چارواکي لپاره د واحد تابعيت شرط لازمي نه ګڼي او له دې امله دغه حکم په ډيپلوماتيکو او د کونسلګرۍ په کارکوونکو د تطبيق وړ نه دی.[99] سره له دې، کېدای شي داسې استدلال وشي، چې اساسي قانون د اداري موقفونو په اړه په دومره کچه تفصيلات نلري، له دې امله په اساسي قانون کې د دې موقفونو او د هغوی لپاره د تابعيت د شرايطو يادونه هم نه ده شوې. دغه خبره د دې حقيقت نفي نه کوي، چې اساسي قانون که دومره تفصيلات نلري، پارلمان هم نه شي کولای قانون تصويب کړي. د قانون جوړونې د اورګان ټول منطق په دې کې نغښتی دی، چې هر څه چې د اساسي قانون له خوا نه وي تنظيم شوی، هغه بايد د نظم په چوکاټ کې واچوي.

په دې برسېره، د يوه هيواد سفيران په بل هيواد کې لوړ رتبه ډيپلوماتيک استازي دي. له همدې امله، د دې لپاره چې دوی د خپل هيواد له ګټو څخه په ښه توګه استازيتوب وکړي، لازمه ده، چې دوی يوازې د خپل هيواد تابعيت ولري. د مثال په ډول، د ۲۰۱۲م کال په فبرورۍ کې، ولسمشر د کورنيو چارو پخوانی وزير نور الحق علومي په هالنډ کې سفير مقرر کړ. سره له دې، ځينې منابع راپور ورکوي، چې علومي هم د افغانستان او هم د هالنډ د دولت تابعيت لري. څرنګه چې دوه ګونی تابعيت د ګټو ټکر رامنځته کوي، اشخاص چې په نورو دولتونو کې د خپلو ملکونو استازيتوب کوي، بايد يوازې د خپل ملک تابعيت ولري.[100]

د اساسي قانون له نورو احکامو سره يوه مقايسه څرګندوي، چې ځينې پوستونه له کانديدانو څخه غواړي، چې يوازې افغاني تابعيت ولري. دغه شرط د وزيرانو د پوست لپاره تطبيقيږي. سره له دې، دغه شرط يوه استثنا لري، "که د وزارت د پوست لپاره کانديد د يوه بل هيواد تابعيت هم ولري، ملي شورا د دې واک لري، چې مقرري يې منظوره يا مسترده کړي." په دې ځای کې لاندې پوښتنه ارزښت لري: که چېرې اساسي قانون پارلمان ته د دې پرېکړې واک ور کړی وي، چې د دوه ګوني تابعيت درلودونکي انفرادي شخص کولای شي د وزارت پوست احراز(ترلاسه) کړي او که نه؟- فرض کړئ د بهرنيو چارو وزير- څنګه کېدای شي دغه ځواک دومره محدود شي، چې پارلمان ونه شي کولای همدغه فيصله د ډيپلوماتانو او سفيرانو په ګډون د وزارت د کارکوونکو په هکله وکړي.

د بهرنيو چارو وزارت اندېښنه د سل هاوو کارکوونکو د ګوښه کېدو په اړه هم په ځای ده. حقايقو او ارقامو ته په کتو سره، پارلمان بايد د بهرنيو چارو وزارت ته کافي وخت ورکړی وای چې قانون تطبيق کړي، څو د پرسونل له کمبودۍ څخه ډډه وشي. په هر حال، دا پايله چې دغه کار د اساسي قانون په خلاف دی، معقول استدلال نه برېښي.

پورتني مثالونه څرګندوي چې قضايي بيا کتنه په افغانستان کې څنګه په مغرضانه ډول تر سره کيږي. دغه بېلګې دغه راز هغه طرز او طريقه ښيي، چې قضايي بيا کتنه په څه ډول د اجرائيه قوې په خدمت کې بوخته وي. د دې خبرې دليل دا دی، چې ټول پورته ياد شوي قوانين هغه قوانين وو چې ولسمشر ويټو کړي او پارلمان د دوه پر درېيمې رايو په اکثريت سره دوباره تصويب کړي دي. لکه څنګه چې د کړکيچ د نړيوال ګروپ په يوه رپوټ کې راغلي: "که څه هم [اساسي قانون] سترې محکمې ته اجازه نه ورکوي، چې په متنازعو سياسي مسئلو باندې تبصره وکړي يا مشوره ورکړي، ولسمشر ډېر ځله له سترې محکمې څخه غوښتي دي، چې سياسي شخړې حل کړي او په دې ډول يې د سترې محکمې خپلواکۍ ته صدمه رسولې ده."[101]

۹۹ د افغانستان د اسلامي جمهوريت له اساسي قانون سره د ډيپلوماتانو او کونسلګرۍ د کارکوونکو د قانون د **۵**(۱) او **۸** مادې د مغايرت په اړه د سترې محکمې د عالي شورا ۲۰ نمبر پرېکړه. رسمي جريده، ګڼه **۱۱۱۴**، (۲۰۱۳).

۱۰۰ "غني د کورنيو چارو نوی وزير او لوی څارنوال تعينوي. روتيرز، **۲۴** فبروري **۲۰۱۲**، وګورئ: مخ **۵۳** "

۱۰۱ د بين المللي کړکيچ ګروپ، "د افغانستان د نيمګړې قضايي قوې اصلاحات"، **۱۵**.

په دې برسېره، د محکمې په استدلال کې يوځېنی ثبات دا دی، چې له انسجام څخه بې برخې دی. په دې قضيو کې د ارجاع کولو منابع پخپله ولسمشر ( په دوو قضيو کې) يو وزارت او د ولسمشرۍ د چارو رياست او د وزيرانو د شورا دارالانشاء دي. څلور ګوني نظريات چې وړاندې شوي دي، بېلا بېل عنوانونه لري: دوه يې قضايي قرار ( قضايي وروستۍ فيصلې) د عالي شورا مصوبه ( د عالي شورا فيصله او قضايي حکم ( قضايي پرېکړه) نومونه لري. همدارنګه، د بيا کتنې په ترڅ کې، محکمې ونه شو کولای، چې د مبدأ پالنې طريقې د کارولو ( د اساسي قانون نوي والي ته په کتو سره ) او د دې خبرې د يقيني کولو په منځ کې موازنه وساتي، چې فيصلې يې په واقعيتونو ولاړې دي، دې ټکي ته په پام کولو سره چې پرېکړې يې د نوي اساسي قانون په رژيم کې څه شی وې. محکمې د مسئلو سياسي ارزښت ته غوره والی ورکړی او په بدل کې يې د تفسير طريقې له پامه غورځولې دي. د مثال په توګه، کله چې محکمه مجبوره وه د اساسي قانون پر تطبيق د څارنې د خپلواک کميسيون په قانون کې له خپل دريځ څخه دفاع وکړي، محکمې د اساسي قانون مؤسسينو ته رجوع وکړه او دوی ته يې هغه غونډه ور ياده کړه چې په کې ستري محکمې ته د تفسير د واک ورکول و.

په ظاهره، په داسې حال کې چې د دغو پرېکړو څخه څو يې د پارلمان له خوا منل شوې وې، د رسنيو او د ډيپلوماټانو د قانون په ګډون، خو ځينې نور لکه د اساسي قانون پر تطبيق د څارنې د خپلواک کميسيون قانون تائيد نه شو. د دغو ټولو ستونزو لامل دا دی چې داسې قانوني چوکاټ نشته چې محکمې ته د بيا کتنې او فيصلو نيولو په وخت کې لارښودنې وکړي.

## ۴.۵ د افغانستان له اساسي قانون سره د نړيوالو معاهدو او تړونونو د تطابق بيا کتنه:

دوه تيوري ګانې دعامه نړيوال قانون او ملي قانون په منځ کې اړيکې تعريفوي: وحدت پالنه او د دوه ګوني اصالت عقيده. په وحدت پالنه کې نړيوال او ملي قانون دواړه د يوه قانوني نظم برخې دي. په هغه صورت کې، چې د دواړو قوانينو په منځ کې اختلاف را پيدا شي، نړيوال قانون ته ترجيح ورکول کيږي او په دې ډول دغه قانون لاس برى شي. د دوه ګوني اصالت عقيده وايي، چې نړيوال او ملي قوانين له يوه بله بېل او خپلواک سيستمونه دي، چې په بېلو ساحو کې کار کوي. د دوه ګوني اصالت د نظريې له مخې، محکمې يوازې په هغه صورت کې نړيوال قانون ته د تطبيق اجازه ورکوي، چې د دولت اساسي قانون د تطبيق اجازه ورکړې وي. د دوه ګوني اصالت تيوري د نړيوال قانون لوړاوی نه مني. له دې امله، کله چې د دوو سيستمونو په منځ کې اختلاف موجود وي، محکمې ملي قوانين تطبيقوي.[۱۰۲] هر هيواد کولای شي له دغو تيوري ګانو څخه د يوې په پلوۍ پرېکړه وکړي او د ملي او نړيوالو قوانينو په منځ کې اړيکې تعريف کړي. له دې کبله، اساسي قوانين د دوو سيستمونو په منځ کې تعامل او په ملي محکمو کې د هغوی تطبيق تعريفوي.[۱۰۳]

اوسنيو اساسي قوانينو په عمومي ډول د نړيوالو تړونونو د فقرو د تصويب او رعايت لپاره په خپلو داخلي قانوني نظمونو کې ځای ورکړی. سره له دې، دغه کار په سملاسي ډول په داخل کې د معاهدې د منلو تضمين نه دی. په هغو دولتونو کې چې د دوه ګوني اصالت تيوري بې منلې ده، نړيوالې معاهدې د داخلي قانوني نظم اجزاوې نه شي کېدای، مګر که په اساسي قانون کې په دې باب ښکاره احکام موجود وي يا تطبيق کېدونکی قانون تصويب شوی وي.[۱۰۴] له دغه قانون څخه مطلب هغه ملي قانون دی، چې د داخلي چينل له خوا تصويب شوی وي او نړيوال قانون نافذ وګڼي.

د افغانستان په اساسي قانون کې د نړيوال قانون په وړاندې د افغانستان د قانوني مسؤوليت په اړه يو لړ اشارې شوې دي. د اساسي قانون په سريزه کې راغلي:

> "موږ د افغانستان خلکو ......... د ملګرو ملتونو د منشور په رعايت او د بشر د حقوقو نړيوالې اعلاميې ته په درناوي.........
> مو دغه اساسي قانون .......... تصويب کړ. "

د افغانستان د اساسي قانون د ۷مې مادې پر بنسټ دولت "د ملګرو ملتونو د منشور، د بين الدول د معاهدو، د نړيوالو ميثاقونو چې افغانستان له هغو سره تړاو لري او د بشري حقوقو د نړيوالې اعلاميې رعايت کوي. " د دې قانون ۲۴ ماده(۱۷) ولسمشر ته واک ورکوي

۱۰۲ وګورئ: الينا کاژو روسکا، بين المللي عامه قانون، څلورم چاپ( اکس او نيويارک: روټليج، ۲۰۱۰)، ۱۴۲-۱۴۸؛ او اديمولا عباس، بين المللي قانون: متن، قضيې او مواد، دويم چاپ ( اکسفورډ پوهنتون چاپ، ۲۰۱۴) ۳۰۵-۳۰۷.

۱۰۳ کاژوروفسکي، بين المللي عامه قانون ۱۴۲-۱۴۸.

۱۰۴ ميشايل شويسول، "په خطر کې ښکېل دولت له رسمي نهادونو له جوړونې سره د بين المللي قانوني چوکاټ ننبلول: له جګړو څخه وروسته افغانستان کې نړيوال قانون او د اساسي قانون جوړول، " د نړيوال قانون و اندر بيلت ژورنال، ۳۹، ګڼه ۸۱۹ (۲۰۰۲)، ۲۹-۴۲.

چې "د قانون له حکمونو سره سم د دولتونو تر منځ د معاهدو د عقد لپاره د [ باور ليکونه] "صادر کړي. ۹۰(۵) ملي شورا ته واک ورکوي چې[١٠٥] "د دولتونو تر منځ د تړونونو اونړيوالو ميثاقونو تصديق يا له هغو څخه د افغانستان بېلول" تصويب کړي.

همدارنګه ۱۲۱مه ماده د افغانستان له سترې محکمې څخه غواړي، چې له اساسي قانون سره د نړيوالو معاهدو او تړونونو مطابقت تر بيا کتنې لاندې ونيسي او هغه تفسير کړي. دغه ماده د نړيوالو معاهدو په اړه د افغانستان اساسي قانون ته دا ترجيح ورکوي او په دې ډول افغانستان په يوه داسې دولت اړوي، چې د دوه ګوني اصل پيروي کوي. پورته يادې شوې مادې دوه لويې ستونزې وراندې کوي. لومړی، او تر ټولو اړوند، د اساسي قانون احکام په دې اړه چې دا بيا کتنه په څه ډو ل او په کومه مرحله کې بايد تر سره شي، او څنګه محکمه کولای شي، د معاهدو د قانون په اړه د ويانا د تړون په بنسټ قواعدو ته په کتو سره نړيوالې معاهدې تفسير کړي. [١٠٦] همدارنګه، ۱۲۱مه ماده هم دغه ډول ستونزې لري ځګه د نړيوالو معاهدو او تړونونو د تفسير لپاره هيڅ ډول کړنلارې او شرايط نه بيانوي.

د نړيوالو معاهدو او تړونونو قضايي بيا کتنه تر هغو شرايطو لاندې تر سره کيږي تر کومو لاندې چې د محکمو يا د حکومت له خوا ارجاع تر سره کيږي. دغه طريقه دوې مهمې پوښتنې راولاړوي: لومړی، آيا حکومت نړيوالې معاهدې او تړونونه بايد محکمې ته له لاسليک څخه د مخه راجع کړي څو هغوی خپل شرايط وړاندې کړي؟ دويم، څرنګه چې پارلمان د معاهدو او تړونونو د منظورۍ تر ټولو وروستۍ مرجع ده، څنګه کولای شي تړونونه او معاهدې له اساسي قانون سره د سمون لپاره ، د دې قانون د ۱۲۱مې مادې ملاحظاتو ته په کتو سره ولېږي؟ دريېم، که د يوې لانديني محکمې په غوښتنه، ستره محکمه يوه معاهده يا تړون له اساسي قانون سره مغاير وپېژني، محکمه کوم واک لري، چې نړيوال سند له اساسي قانون سره مغاير اعلان کړي او افغانستان بايد کومې کړنلارې غوره کړي، چې د دواړو په منځ کې تناقض له منځه يوسي؟ دې حقيقت ته په کتو سره چې د افغانستان دولت د دوه ګوني اصل پيروي کوي، کېدای شي د نړيوالو سندونو په اړه خپل شرايط ولري، د دې پر ځای چې هغه خپل قوانين يا اساسي قانون ته له هغو سره مطابقت ورکړي. د افغانستان په قانوني نظام کې د دغو پوښتنو لپاره هيڅ ځواب نشته. [١٠٧] په دې بنسټ د ملي قوانينو د بيا کتنې سره په پرتله دغه ستونزه نوره هم پېچلې او د ارجاع بهير له محدوديت سره مخامخ کيږي.

دوهم، که څه هم اوومه (۷) ماده د نړيوالو معاهدو او تړونونو ، چې افغانستان له هغو سره تړا ولري، رعايت کول لازمي کړي دي، دغه ماده او له هغې وروسته نور مواد د يو ځای کولو لپاره هيڅ ميکانيزم نلري، چې د هغه په ذريعه نړيوال قانون په داخلي قانوني نظام کې د نافذېدو وړ وګرځي. د محکمې په کچه تفاهم داسې دی چې نړيوالې معاهدې او تړونونه قانوني حيثيت نلري او له دې امله په محکمو کې د انفاذ وړ نه دي. دغه استدلال له هغه برداشت څخه سرچينه اخلي چې نړيوال تړونونه او معاهدې د قانوني قواعدو د مراتبو په سلسله کې نه راځي. د سترې محکمې د څارنې او تعقيب په عمومي رياست کې د قاضي حليم په قول، د افغانستان د اساسي قانون ۱۳۰مه ماده د مراتبو سلسله ټاکي او د قواعدو د ترتيب په اړه چې په قضيه باندې د تطبيق وړ وي د قاضي لپاره لارښود دی.

دغه ماده وايي:

> "محکمې تر غور لاندې قضاياوو کې د دې اساسي قانون او نورو قوانينو حکمونه تطبيقوي. که د دغو لاندې قضاياوو له جملې څخه د کومې قضيې لپاره په اساسي قانون او نورو قوانينو کې حکم موجود نه وي، محکمه د حنفي فقهې د احکامو له مخې او په هغو حدودو کې دننه چې دې اساسي قانون ټاکلي، قضيه په داسې ډول حل او فصل کوي چې عدالت په ډېره ښه توګه تامين کړي. "

---

١٠٥ په دري ژبه کې د تصديق کليمه کارول شوې چې د شهادت يا جوازمعنی ورکوي. څرنګه چې دغه دوې کلمې د يوې معاهدې د لاسليک کولو په پروسه کې نه کارول کيږي، له دې امله په دې ليکنه کې د تصويب کلمه کارول شوې ده.

١٠٦ "د معاهدو په باب د ويانا تړون " ( ۱۹۶۹). دريېمه برخه، ۳۱-۳۳ مادې

١٠٧ له قاضي عبدالقادر عدالتخواه د سترې محکمې د عالي شورا له غړي ، او ښاغلی احمد حسين خينجاني، د سترې محکمې د عمومي منشی له مرستيال سره شخصي مکاتبه، اکتوبر ۲۰۱۲.

په دې بنسټ، د قاضي حليم په قول، د مراتبو په سلسله کې چې په اساسي قانون او د افغانستان په مدني قانون کې ذکر شوې ۱۰۸ نړيوال قوانين شامل نه دي. په دې بنسټ، په قضيو باندې د نړيوال قانون تطبيقول په اساسي قانون او عادي قوانينو کې هيڅ بنسټ نلري. د ستري محکمې دغه استدلال د معاهدو د قانون په باب د ويانا د تړون ۲۷مه ماده، چې افغانستان يې يو غړی هيواد دی، نقض کوي ۱۰۹ او د افغانستان اساسي قانون د هغې رعايت کوي. نوموړې ماده دولتونو ته اجازه نه ورکوي چې " خپل داخلي احکام د دې وسيله و ګرځوي چې د معاهدې په اجراء کې خپله ناکامي توجيه کړي. " په عمل کې، ځينې قاضيان ښايي د قضيو په استدلال کې له نړيوالو معاهدو څخه استفاده وکړي، خو د دوی اکثريت د دغو نړيوالو سندونو له تطبيق څخه ډډه کوي. ۱۱۰ ښکاره خبره ده چې د معاهدو له تطبيق څخه پرته، قاضيان نه شي کولای له اساسي قانون سره د مطابقت د بيا کتنې غوښتنه وکړي. په دې ډول، د معاهدو د ارجاع واک له محدوديت سره مخامخ کيږي او دغه واک يواځې په حکومت پورې منحصر پاتې کيږي.

## ۴.۲ قضايي بيا کتنې او د اساسي حقوقو ساتنه:

محکمې چې د عدالت د تضمين تر ټولو وروستی واک لرونکی مقام دی، د اساسي قانون له خوا د تضمين شويو حقوقو په ساتنه کې مهم رول لري. په دې بنسټ، قضايي بيا کتنه د محکمو لپاره يوه وسيله ده، چې له اساسي قانون سره د قوانينو او د اجرائيه قوې د اجراءاتو مطابقت تر بيا کتنې لاندې راولي او په دې ډول د ګړو اساسي حقوق له نقض کېدلو څخه ژغوري. آيا په افغانستان کې محکمې دغه ډول واک لري او هغه د اساسي حقوقو د ساتنې لپاره د يوې اغېزمنې وسيلې په څېر کاروي؟ يو سملاسي ځواب د دې پوښتنې لپاره مثبت دی.

۱۲۱مه ماده يوه ټول اړخيزه ماده ده او د ټولو قوانينو بيا کتنه رانغاړي، د هغو قوانينو په ګډون چې ښايي د اساسي قانون په حقوقو تېری وکړي. په هر حال ، د داسې بيا کتنې لپاره د غوښتنې ميکانيزم، د حکومت يا د محکمې له لارې ( پورته په تفصيل سره پرې بحث وشو ) په سختۍ سره د قناعت وړ دی يا د دغو حقوقو د ساتنې لپاره مناسب دی.

لومړی ګواښ دا دی، چې اتباع په دې موقف کې نه دي، چې هغه عادي قانون وګواښي کوم چې د دوی اساسي حقوق يې نقض کړي دي. داسې کړنلارې نشته چې په ذريعه يې اتباع کولای شي د يوه عادي قانون په وړاندې دعوه وکړي، چې د اساسي قانون له خوا د دوی تضمين شوي اساسي حقوق نقض کوي. د پخواني قاضي، عارف حافظ په قول، محکمې يوازې په هغه وخت کې دعوې منلی شي چې شکايت کوونکي، تورن شخص، موضوع، او د دعوې لپاره واک لرونکې محکمه په ښکاره ډول مشخص شوي وي. ۱۱۱ همدارنګه داسې باور شته، چې افراد نه شي کولای يوه قضيه ثبت کړي، مګر که په مستقيم ډول د قانون د انفاذ په نتيجه کې متضرر شوي وي. قاضي حافظ په دې ټينګار کوي او وايي چې محکمې ته د دعوې د اورولو په ځای، اتباع بايد هڅې وکړي قانون جوړوونکي بنسټونه دې ته وهڅوي او قانع يې کړي چې په قوانينو کې د بدلونونو له لارې دغه ډول تناقضات حل کړي. ۱۱۲

سره له دې، حتی که اتباع د قانون د انفاذ په نتيجه کې زيان ويني، داسې لارې چارې نشته، چې د دوی د زيان جبران وکړي. يو ښه مثال يې د افغانستان د ملي بخښنې قانون (۲۰۰۷) دی، چې په ۲۰۰۲ م کال کې د موقتي ادارې له تشکيل څخه مخکې په جګړو کې ښکېلو د ښمنو خواوو او سياسي ډلو ته بخښنه کوي. که څه هم، قانون د جګړو قربانيانو ته اجازه ورکړې، چې شکايتونه محکمې ته وړاندې کړي، خو حکومتي چارواکي له دې څخه منع کوي چې په جنګي جرمونو د تورنو کسانو په ضد په محکمه کې شکايت وکړي. قانون نه يواځې په اساسي قانون کې ځای شوي ارزښتونه او اصول تر پښو لاندې کړي، بلکې د افغانستان نړيوالې ژمنې چې په بشري حقونو د سختو

۱۰۸ د ۱۹۷۷ د مدني قانون ۱ او ۲ ماده قاضيان له اجتهاد څخه ( د قران او حديث څخه د شخصي تفسير په ذريعه د قانون د واکمنۍ لپاره د يوه حکم را ايستل) په هغو موضوعاتو کې منع کوي چې په قانون کې د هغو لپاره ښکاره احکام موجود وي. سره له دې، دغه مواد په قضيو باندې د فيصلې کولو د مراتبو سلسله وړاندې کوي: لومړی ، د قانون احکام ، دوهم، د حنفي مذهب له نظره د حقوقو پېژندنه ، او درېيم د ټولنې عمومي رواجونه، په دې شرط چې دستور نه بايد له قانون يا د عدالت له عمومي اصولو سره مغايرت ولري.

۱۰۹ "معاهدې په مختلفو نومونو يادېږي لکه کنوانسيون ، نړيوالې موافقې ، معاهدې ، عمومي لايحې، چارترونه ، قوانين، اعلاميې او تړونونه." مالکولم ايل شاه نړيوال قانون ، ۵ چاپ ، ( کامبريج او نيويارک: د کامبريج پوهنتون چاپ، ۲۰۰۳).

۱۱۰ شخصي مکاتبه، قاضي عارف حافظ او هما الوزی ، اکتوبر ، ۲۰۱۲.

۱۱۱ شخصي مکاتبه، قاضي عارف حافظ، پخوانی قاضي ، د اساسي قانون پر تطبيق د څارنې د خپلواک کميسيون غړی ، اکتوبر ۲۰۱۲.

۱۱۲ همدا ماخذ

تيريو لپاره به حساب ورکونه برابروي، هم نقض کړي.[۱۱۳] سره له دې، بنسټونه لکه د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون يا قربانيانو يا د دوی کورنيو ونشو کړای، چې له اساسي قانون سره د دې قانون مطابقت وګواښي. د بشري حقوقو خپلواک کميسيون حقوقي محدوديتونه درلودل، خو قربانيانو او کورنيو کولای شوای محکمو ته شکايت وکړي چې دغه قانون د دوی اساسي حقوق نقض کوي. په هر حال، دقاضي هما علي زوی په باور د قضايي بيا کتنې په اړه د کړنلارو او کاري چوکاټ او په دې ډګر کې قاضيانو د تجربو او د اتباعو د پوهاوي نشتوالی د دې سبب ګرزيدلی، چې د قضايي بيا کتنې عمل په هيڅ وخت کې د داسې يوه فرصت په څېر نه دی کارول شوی، چې د اساسي حقوقو ساتنه وکړي.[۱۱۴]

بالآخره، دا اوس يوائې د حکومت يا د لاندينيو محکمو د قاضيانو اختيار دی، چې قضيه محکمې ته د بيا کتنې لپاره راجع کړي يا يې نه کړي. دغه شرط يو شمېر اندېښنې را پاروي ځکه له جګړو څخه د وروسته او پرمختيايي هيوادونو حکومتونه د بشري حقونو له پرمختګ سره يا ښايي علاقه ونلري او يا د دې لپاره د ظرفيت له کموالي سره مخ وي. په همدې ډول، په داسې شرايطو کې محکمې هم د بشري حقوقو له ساتنې سره علاقه نلري او د دغه کار ظرفيت هم نلري. د مثال په ډول، په افغانستان کې، دقضايي قوې په باب څو راپورونه د بشري حقوقو د ساتنې په هکله د دې قوې کمزوري څرګندوي. راپورونه ښيي چې څنګه قاضيان د قانوني اجراءاتو په ترڅ کې د اساسي قانون له خوا تضمين شوي اساسي حقوق له نظره غورځوي لکه د جرمونود قانونيت اصل، د قانوني مراحلو نورمونه، او د محکمې په وړاندې له اتباعو سره يو شانته چلند کول ( په عمده ډول له ښځو او نارينه وو سره ).[۱۱۵]

دغه راز، په عادي قوانينو کې هم په بشري حقوقو پورې اړوندو قضيو کې د بيا کتنې په باب توضيحات نشته. که څه هم د قضايي قوې د تشکيلاتو او واکونو د قانون **۲۹**مه ماده حکومت ته اجازه ورکوي چې "هغه قضيې سترې محکمې ته د تفسير او پرېکړې لپاره ارجاع کړي (ولېږي)، چې د قانون د احکامو مخالفې وي. " سره له د ې دغه ماده داسې جدي پوښتنې راولاړوي لکه د قانون کومه ماتونه کېدای شي د دغې مادې په ذريعه تر پوښښ لاندې راشي، يا په کوموشرايطو کې حکومت کولای شي قضيې په مستقيم ډول سترې محکمې ته ارجاع کړي، او د قضايي قوې د مراتبو په سلسله کې نور بنسټونه له پامه وغورځوي . په دې برسېره، آيا دغه ډول يوه ماده حکومت ته د دولت د نورو قواوو او بنسټونو او وګړو په پرتله زيات واکونه ورکوي؟ د حيرانتيا خبره نه ده، چې په قانون کې دغې يوې پوښتنې ته هم ځواب نشته، او معنی يې دا ده، چې حکومت د دغې مادې له مخې د زيات اختيار او واک مستحق دی. بله ډېره مهمه پوښتنه دا ده، چې له قانون څخه سر غړونه د چا له خوا؟ په داسې حال کې چې د " قانون د ماتونې" پېښې، د بشري حقونو د نقض د پېښو په ګډون، په زيات احتمال په حکومت کې دننه يا د حکومت په ذريعه رامنځ ته کيږي، قانون د نورو بنسټونو يا اتباعو لپاره داسې يوه کړنلاره نه ده تياره کړې چې په مستقيم ډول له سترې محکمې سره د فتوی لپاره تماس ونيسي.

دغه شرايط د بشري حقوقو په ساتنه کې د يوه بنسټ په څېر د قضايي قوې کمزورتيا څرګندوي او هغه فرصت له لاسه ورکوي، چې اساسي قانون د همدې هدف لپاره ورته ورکړی دی. مهمه خبره دا ده، چې قضايي قوه د عدالت د تأمين او د قانون د ساتنې او پالنې دستور لري. په افغانستان کې د اوسنيو شخړو زياته برخه د قضايي قوې د خپلواکۍ، داخلي ظرفيت او ربښتينوالي او د هيواد لېرې پرتو برخو ته د هغې د لاس رسي په شاوخوا راڅرخي. د دغو اندېښنو د لېرې کولو لپاره قضايي قوه پراخو اصلاحاتو ته اړتيا لري. په دې برسېره، د افغانستان د اساسي قانون اصلاحات بايد په قضايي چارو کې د روڼتيا، احتساب په طريقو او عادلانه محاکمې دارنګه قضايي بياکتنې ته د اتباعو په لاس رسي باندې تاکيد وکړي. يوائې دا ډول پراخ اصلاحات کولای شي په شکلي او اساسي لحاظ انفرادي حقوق د قضايي قوې په ذريعه تضمين کړي.

---

**۱۱۳** په دې مواردو کې د اساسي قانون د مقدمې او **۲**مې مادې او د روم د اساسنامې نقض شامليږي. وګورئ: ايميلی وينټربوټمن، په افغانستان کې د انتقالي عدالت وضعيت: فعالين ، روشونه او ګواښونه د کابل : د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد ، ۲۰۱۰ ).

**۱۱۴** شخصې مکاتبه ، قاضي هما عليزوی ، د کابل د ماشومانو د ابتداييه محکمې ريس، اکتوبر ۲۰۱۲.

**۱۱۵** وګورئ د مثال په توګه: مارتين لو ، د افغانستان په حقوقي سيستم او د بين المللي بشري حقوقو له معيارونو سره د هغوی د توافق په اړه وروستی راپور ( د بين المللي قانونپوهانو کميسيون (ICJ) ، **۷** فبروري **۲۰۰۳** ) پته: مخ ۰۲۰ او د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون ، "عدالت ته د اتباعو لاس رسی – د اولسمشر د **۴۵** نمبر فرمان د تطبيق په اړه د څارنې راپور ، " ۲۰۱۲، او د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کميسيون او په افغانستان کې د محکمو د اجراءاتو او قضايي سيستم په اړه د څارنې راپور ، ۲۰۱۳.

# ۵. د اساسي قانون څارنه:

اساسي قانون، د هیواد تر ټولو معتبر قانون حکومت او د هغه بنسټونه ټاکي. سره له دې، اساسي قانون په حکومت کې د ننه د خپل سرۍ د محدودولو په اړه او په دې هکله، چې څنګه حکومت خپل واکونه یواځې د ټولنې د ښېګڼې لپاره وکاروي، هم یو فصل رامنځته کوي. [۱۱۲] په حکومت باندې د سیاسي محدودیتونو د لګولو د تعریف لپاره ، د اساسي قانون پر بنسټ د حکومت مفهوم رامنځ ته شو. دغه مفهوم نه یواځې د حکومت د موجودیت اړتیا پېژني، بلکه په مساوي اندازه د حکومت په ځواکونو د محدودیتونو په لګولو باندې هم ټینګار کوي. [۱۱۷] د اساسي قانون د تصبیق یا د مشروطه حکومت اساسي هدف دا دی چې " د قانون واکمني ټینګه کړي، د حکومت پر ځواکونو اغېزناک محدودیتونه ولګوي او اساسي بشري حقونه وساتي. " [۱۱۸]

که څه هم د "اساسي قانون پر بنسټ د حکومت" له اصطلاح څخه مطلب یو حکومت دی، چې له اساسي قانون سره برابر وي، خو هر لیکلی رسمي اساسي قانون په حتمي ډول د داسې یوه سند بېلګه نه وي. یو سیاسي سازمان په هغه حد کې له اساسي قانون سره تطابق کوي چې "د اتباعو د ګټو او آزادیو دساتنې په غرض د ځواک د کنټرول لپاره داسې میکانیزمونه کاروي چې قانوني بنسټ ولري. " [۱۱۹] د ځواک د محدودولو لپاره، اساسي قوانین نه یواځې د دولتي قواوو تر منځ د چیک کولو او انډول د ساتنې لپاره اغېزمنې وسیلې لري، بلکې باید خپلواک بنسټونه رامنځته کړي چې د نظارت دنده ولري او د اساسي قانون ساتنه وکړي. له جګړو څخه وروسته ډېرې ټولنې د اساسي قانون پر بنسټ د حکومت د او د قانون د واکمنۍ له نشتوالي څخه رنځ وړي. په دې ډول، د اساسي قوانینو د طرح کولو په وخت کې دوی باید کافي اندازه د چیک او کنټرول کولو لپاره اماده او بیدار واوسي. په دې برسېره، اساسي قوانین په معمول ډول د تاریخي پېښو او شرایطو په وړاندې د غبرګون په شکل کې رامنځته کېږي او باید د همدې چاپېریال په دننه کې وپېژندل شي. [۱۲۰]

له جګړو څخه وروسته افغانستان کې د یوه بنسټ، چې د اساسي قانون د څارنې رسالت ولري د موجودیت منطقي بنسټ هم د تاریخي ګواښونو په وړاندې یو غبرګون و. په دې ګواښونو کې د ثابتو رژیمونو او د اساسي قانون پر بنسټ د حکومت او د قانون د واکمنۍ محدودې تجربې شاملېږي. له دې امله د اساسي قانون پر تطبیق د څارنې خپلواک کمیسیون د دې لپاره په نظر کې نیول شوی و، چې د دولتي بنسټونو ایجادول، لکه چې د اساسي قانون په ذریعه تعریف شوي، د بنسټونو د واکونو پر اجراء څارنه وکړي. د دغو ټولو دندو وروستۍ موخه دا وه، چې د اساسي قانون پر بنسټ حکومت تقویه شي. ښکاره خبره ده، چې د اساسي قانون د تطبیق په لومړنیو کلونو کې دغه ډول بنسټونه له زیات ارزښت څخه برخمن وي. سره له دې، د اساسي قانون پر تطبیق د څارنې د خپلواک کمیسیون تاسیسول هیڅکله د حکومت لپاره یو لومړیتوب نه و. کمیسیون په جون ۲۰۱۰ م کال کې د اساسي قانون له خوا د په نظر کې نیول شویو بنسټونو څخه تر ټولو وروستی بنسټ و. [۱۲۱]

د لیکنې په لومړیو برخو کې پرې بحث وشو، چې قضایي بیا کتنه په افغانستان کې له اساسي قانون سره د قوانینو ، قانوني فرمانونو، نړیوالو معاهدو او تړونونو د مطابقت د بیا کتنې په څېر تعریف شوې، او په دې برسېره، د دې کمیسیون په واک کې دا هم شامله وه، چې د دولتي فعالینو او بنسټونو اعمال د دې لپاره تر څارنې لاندې ونیسي چې له اساسي قانون سره مطابق دي او که نه، د سترې محکمې پر نیمګړتیاوو، چې آیا د اساسي قانون د تطبیق خپلواک کمیسیون په تېرو ۷ کلونو کې خپل رسالت پوره کړی دی؟ د لیکنې په لومړیو برخو کې پرې بحث وشو، چې کمیسیون په لومړي سر کې د اساسي قانون له خوا په نظر کې نه و نیول شوی. په وروستۍ مرحله کې، کله چې د لویې جرګې غړیو وموندله، چې د اساسي قانون د محکمې له ایستلو وروسته د اساسي قانون پر تطبیق باندې د څارنې هیڅ میکانیزم موجود نه و ، دغه کمیسیون بیا په اساسي قانون کې ځای وموند. [۱۲۲] په پای کې، د جرګې غړیو په اساسي قانون

---

۱۱۲ نوابیوزي ب. او "په نویو دولتونو کې اساسي قانون " ( لندن؛ هرس او کمپنۍ، ۱۹۷۳)،۱

۱۱۷ همدا ماخذ

۱۱۸ عبدالله احمد نعیم ، په افریقا کې مشروطه حکومتونه او د اسلام د دین نقش ( فیلادلفیا ، د پنسیلوانیا د پوهنتون چاپ، ۲۰۰۶) ۳.

۱۱۹ شکاټ ګوردن، د دولت کنترولول: له لرغوني اتن څخه تر نن ورځې پورې مشروطه حکومتونه ( د هارورډ د پوهنتون چاپ ، ۱۹۹۹).

۱۲۰ ایلر اي تال ، په افغانستان د اساسي قانون پېژندنه

۱۲۱ د ۲۰۰۴ کال له جنوري څخه د اساسي قانون له توشیح څخه وروسته، د هغه پر بنسټ لاندني دولتي بنسټونه په ترتیب سره رامنځته شول: د ۲۰۰۴ په ډسمبر کې د اجرائیه قوې تشکیلات بشپړ شول، تر هغه د مخه د اکتوبر په ۲۰۰۴ کې اولسمشریزې ټاکنې وشوې، د ۲۰۰۵ په ډسمبر کې پارلمان رامنځته شو، تر هغه د مخه ۲۰۰۵ په سپتمبر کې پارلمان ټاکنې تر سره شوې، او قضایي قوه د ۲۰۰۶ په جون کې تشکیله شوه.

۱۲۲ ډیمپسی او تیر ، "په افغانستان کې د اساسي قانون د تفسیر پر سر د شخړو حل او فصل کول ". وګورئ: احمدي، "په افغانستان کې د اساسي قانون د

کې یوه بې ربطه ماده په اساسي قانون کې ځای کړه. دغه ماده وايي: "د قانون له احکامو سره سم، د اساسي قانون پر تطبیق د څارنې خپلواک کمیسیون باید رامنځته شي. ولسمشر د پارلمان په منظورۍ د دې کمیسیون غړي ټاکي." دغې مادې ټول جزئیات لکه د کمیسیون نوم، تشکیلات، واکونه، د خدمت موده، او نور په ځای پرې ایښي، چې د قانون په ذریعه وټاکل شي. د افغانستان اساسي قانون د جنوري په ۲۰۰۴م کال کې منظور شو. له هغه وروسته د افغانستان حکومت د کمیسیون د را منځته کولو لپاره چې ډېر مهم رسالت یې درلود ډېرې لږ هڅې وکړې.

کمالي لیکي:

> د **۱۵۷**مې مادې اساسي موخه دا وه، چې نوی اساسي قانون په منظمه توګه تطبیق شي. دغه اساسي قانون له جګړو وروسته تصویب شوی و او په یوه وخت کې تصویب شوی و، چې د انتقالي دورې ستونزې یې په مخ کې پرتې وې. په دې ستونزو کې چې د څو قانوني فرمانونو معرفي کول شامل وو دا چې باید په یوه کال کې (انتقالي دوره) د نوي اساسي قانون له خپرېدو وروسته معرفي شوي وای. له دې څخه مطلب دا و، چې د نوي اساسي قانون له تطبیق څخه ګام په ګام څارنه وشي.[۱۲۳]

معلومیږي چې حکومت د اساسي قانون پر تطبیق د څارنې د خپلواک کمیسیون قانون تر زیاته برېده د **۱۹۸۸**م کال د اساسي قانون لاندې د اساسي قانون د شورا د قانون پر بنسټ طرح کړی و او د کمیسیون د څارنې واکونه یې په بنه ډول نه و څرګند کړي. سره له دې، دغه مسوده هیڅکله تر هغه پخوا پارلمان ته نه ده استول شوې کله چې د دریو قواوو تر منځ جګړه په ۲۰۰۸م کال کې د سپنتا له قضیې وروسته پیل شوه. کله چې قانون مطرح شو، پارلمان دا یو فرصت وګاڼه چې د سترې محکمې واکونه محدود کړي، د دې پر ځای چې د څارنې د کمیسیون په رامنځته کولو کې واقعي هڅې وکړي. پارلمان د اساسي قانون پر تطبیق د څارنې خپلواک کمیسیون ته واک ورکړ چې اساسي قانون تفسیر کړي. لکه څنګه چې مخکې وویل شول، قانون د ولسمشر له خوا په دې دلیل مسترد شو، چې دې قانون د اساسي قانون هغه ماده ماته کړې وه چې په تفسیر پورې یې اړه درلوده. پارلمان د دوه پر درېیمې برخې په اکثریت رایو دغه ویټو خنثی کړه. سترې محکمې وروسته قضایي بیا کتنه تر سره کړه او لکه د ولسمشر په شان په همدې دلایلو یې د قانون هغه حکم بې اعتباره وشمېره، چې دوی فکر کاوه له اساسي قانون سره مغایرت لري. د تمې په خلاف، سترې محکمې د خپلواک کمیسیون ځینې احکام (مخکې یادشول) حذف کړل او د رسمي جریدې په لمن لیک کې یې توضیح کړه، چې ولې دغه احکام حذف شوي وو. په حقیقت کې، سترې محکمې د پارلمان له خوا تصویب شوی قانون تعدیل کړ، بې له دې چې قانوني یا د اساسي قانون پر بنسټ د دې کار واک ولري.

هغې طرز او طریقې چې په ترڅ کې یې قانون تصویب شو، ډېر خلک په دې باور کړل، چې د دولت ټولې قواوې له اساسي قانون څخه بهر اقدامات نیسي. پارلمان د اساسي قانون په عمومي تفسیر د اساسي قانون پر تطبیق د څارنې خپلواک کمیسیون ته واک ورکړ، چې هغه تفسیر کړي.[۱۲۴] سترې محکمې په تصویب شوي قانون کې په دې دلیل بدلونونه راوستل، چې له اساسي قانون سره په ټکر کې وو، چې دا پخپله د قواوو د تفکیک (بېلتون) د اصل ماتول دي؛ اجرائیه قوې د قضایي قوې له خوا تعدیل شوی قانون په رسمي جریده کې خپور کړ. سره له دې ټولو مسائلو، کمیسیون د قانون د دوو مختلفو نسخو له مخې رامنځته شو، چې هره نسخه یې د ځان لپاره د باور ادعا کوي.

## ۵.۱ د اساسي قانون پر تطبیق د څارنې د خپلواک کمیسیون قانوني چوکاټ:

په یوه لنډ نظر، نسبتاً لنډ قانون چې ۱۷ مادې لري (هغه نسخه د قانون چې په رسمي جریده کې خپره شوې) یو اوه کسیز کمیسیون معرفي کړی، چې د خدمت څلور کلنه دوره لري او د هغه په خپلواکۍ یې ټینګار کړی دی. دې قانون د غړیتوب شرایط، د غړیتوب له لاسه ورکولو او د عزل کولو حالتونه بیان کړي دي. قانون د کمیسیون واکونه بیان کړي دي، چې د اساسي قانون د احکامو د تطبیق او رعایت کولو څارنه او د نقض په وختونو کې ولسمشر ته د رپوټ او حقوقي مشورو ورکول شاملېږي. قانون ولسمشر، ملي شورا، سترې محکمې، د بشري حقوقو خپلواک کمیسیون، د ټاکنو خپلواک کمیسیون او د اداري اصلاحاتو او ملکي خدماتو کمیسیون ته اجازه ورکړې، چې

---

تفسیر صلاحیت."

۱۲۳ کمالي، "د افغانستان د ۲۰۰۴م کال اساسي قانون: تفسیر له اسلامي نقطه نظره."

۱۲۴ کمالي، "د کرزي په دوران کې د اجرائیه قوې او پارلمان په منځ کې اړیکې او د اساسي قانون د تفسیر او حکمیت مسئله."

د اساسي قانون پر تطبيق د څارنې خپلواک کميسيون ته د حقوقي نظريې لپاره په اساسي قانون پورې اړوندې مسئلې راجع کړي.[۱۲۵] د پارلمان د هڅو سره سره، چې يوه خپلواکه اداره رامنځته کړي، د قانون ډېرو برخو، چې ځينې يې مخکې يادې شوې، د دې بنسټ په اړه ځينې شکونه پيدا کړي. د کميسيون خپلواکي نه يوازې په اساسي قانون کې ياده شوې، بلکې د قانون له عنوان څخه هم معلومېږي، خو ۲مه ماده د کميسيون پر خپلواکۍ تاکيد کوي او وايي: "د اساسي قانون پر تطبيق د څارنې خپلواک کميسيون د افغانستان د اسلامي جمهوريت په چوکاټ کې د ننه رامنځته شوی او په خپلو فعاليتونو کې په بشپړه توګه خپلواک دی." دغه ډول تصريح د يوه کميسيون لپاره چې د اساسي قانون اړوندو مسائلو د څېړنې لپاره رامنځته شوی وي، ډېره ارزښتناکه ده. سره له دې، ستونزه دا ده، چې د قانون نور مواد له دې مادې سره تر ډېره بريده سمون نلري. د مثال په ډول، د کميسيون غړي په يوه وخت د ولسمشر له خوا د ځلور کلنې دورې لپاره ټاکل کېږي او د پارلمان منظوري اخلي. د غړيو د خدمت د مودې د ولسمشر له هغې سره برابرول، بې له دې چې په نوبتي ډول وټاکل شي، کولای شي د کميسيون دريځ کمزوری کړي.[۱۲۶] په دې برسبېره، قانون د کميسيون د غړيو بيا ټاکل نه محدودوي. په دې ډول، د کميسيون غړي کېدای شي د بيا معرفي کولو په تمه د ولسمشر لورې ته متمايل کړي.

د سترې محکمې قضايي بيا کتنې هم د کميسيون د خپلواکۍ په درک کولو کې ستونزې پيدا کړې دي. د قضايي قوې بيا کتنې ځينې مواد په خپله خوښه په دې دليل مردود ګڼلي چې د کميسيون خپلواکۍ ته زيان اړوي، خو ځينې نورې مادې يې له پامه غورځولي، چې د کميسيون خپلواکي يې کمزورې کړې. د محکمې بيا کتنې د عزل ميکانيزم چې د قانون له خوا تيار شوی او د غړيو د عزل (ګوښه کيدو) لپاره يې د کميسيون په داخل کې د يوه فعاليت غوښتنه کوله، بې باوره کړی. که اکثريت غړي دغه فعاليت ومني په هغه صورت کې ولسي جرګه بايد د عزل د منظورۍ لپاره رايه ورکړي. د محکمې د فيصلې له مخې دغه ميکانيزم له اساسي قانون سره سمون نلري او وايي چې د اساسي قانون پر تطبيق د څارنې خپلواک کميسيون "د سوداګرۍ بنسټ" نه دی، چې د عزل لپاره په داخل کې طرح شوی دغه ډول روش خپل کړي. په فيصله کې راغلي دي که د کميسيون د غړو په عزل کې ولسي جرګه شامله وي، دا به د کميسيون خپلواکۍ ته زيان ورسوي. د تمې په خلاف، محکمې کميسيون د "اجرائيه قوې يوه برخه" وبلله او په دې ډول د هر غړي عزل کېدل لکه د وزيرانو په شان يوازې د ولسمشر په واک کې دي. محکمې دغه ادعا ښکاره کړه سره له دې حقيقته چې اساسي قانون په ښکاره ډول کميسيون "خپلواک" ګڼلی او هغه يې د اجرائيه قوې په څېرکې کې نه دی شامل کړی. محکمې متناقض استدلال په ناسمه توګه استنباط کړی چې د اساسي قانون له خوا په نظر کې نيول شوی يو خپلواک کميسيون د اجرائيه قوې يو فرعي واحد دی.

۱۲۵ د اساسي قانون پر تطبيق د څارنې د خپلواک کميسيون قانون.

۱۲۶ ډيمپسی او تير، "په افغانستان کې د اساسي قانون د تفسير پر سر د اختلافاتو حل کول." مخ ۷

د اساسي قانون پر تطبيق د څارنې د خپلواک کميسيون د قانون دريم څپرکی "مسوؤليتونه او واکونه" يوائې دوه مادې لري:

دريم څپرکی

مسوؤليتونه او واکونه (دندې او واکونه)

۸ ماده

د دې لپاره چې کميسيون د اساسي قانون د احکامو پر تطبيق ښه څارنه وکړي، دا لاندې واکونه لري:

۱- .........*

۲- د ولسمشر، حکومت، ملي شورا، قضايي قوې، ادارو، د حکومتي او غير حکومتي بنسټونو او سازمانونو له خوا د اساسي قانون د احکامو پر تطبيق او رعايت څارنه.

۳- ولسمشر او ملي شورا ته په اساسي قانون پورې د اړونده مسايلو په باب د حقوقي مشورو ورکول.

۴- .........**

۵- ولسمشر او ملي شورا ته د قانون جوړونې د پرمختګ په برخه کې د تدبيرونو په اړه - په هغه صورت کې چې د اساسي قانون غوښتنه وي - د اختصاصي وړانديزونو کول.

۶- ولسمشر ته د اساسي قانون د احکامو د نقض او ماتونې په اړه د رپوټونو ورکول.

۷- د کړنلارو اړونده لارښودونو او مقرراتو وضع کول.

د ارجاع واک

۹ مه ماده

لاندې لوړ رتبه مقامات واک لري چې د حقوقي نظريې د غوښتنې په موخه د اساسي قانون د احکامو اړونده مسئلې کميسيون ته راجع کړي:

۱- ولسمشر

۲- د ملي شورا دواړه مجلسونه

۳- ستره محکمه

۴- د بشري حقونو خپلواک کميسيون، د ټاکنو خپلواک کميسيون او د اداري اصلاحاتو او خدماتو کميسيون

---

* د سترې محکمې عالي شورا د ۸ مادې ۱ پاراګراف چې لاندې بيان لري، له اساسي قانون سره په مغايرت کې پېژندلی:
(د اساسي قانون د احکامو تفسير د ولسمشر، ملي شورا، سترې محکمې او د حکومت د غوښتنې پر بنسټ)

** د سترې محکمې عالي شورا د ۸ مادې ۴ پاراګراف چې د لاندې بيان لري، له اساسي قانون سره په مغايرت کې پېژندلی:
(د اوسنيو قوانينو کتنه د دې لپاره، چې له اساسي قانون سره د هغوی تناقضات په ګوته شي او ولسمشر او ملي شورا ته د هغو وړاندې کول، څو د تناقضاتو د حذف کولو په موخه ګامونه پورته کړي.

لکه څنګه چې د دې ليکنې په پيل کې پرې بحث وشو، د قانون له خوا کميسيون ته ورکړل شوي واکونه عمومي او پېچلي وو، سره له دې حقيقته چې په دې هکله په اساسي قانون کې ډېر تفصيلات نه دي راغلي او د اساسي قانون پر تطبيق د څارنې خپلواک کميسيون د دريو قواوو په منځ کې د سياسي شخړې يو قرباني و.

د کميسيون په څواکونو کې يوه لويه مسئله دا حقيقت و، چې پارلمان کميسيون ته د فيصلو د صادرولو او قضاوت څواک نه دی ورکړې، بلکې يوائې د حقوقي مشورو حق يې ورکړی دی. ۸ ماده (۳) قانون د کميسيون د واکونو په اړه وايي: ولسمشر او ملي شورا ته د اساسي قانون د اړونده مسئلو په اړه د حقوقي مشورو ورکول (حقوقي مشورې). له بلې خوا ۹ ماده وايي: "د حقوقي نظريې (حقوقي نظريه) د غوښتلو په موخه لانديني لوړ مقامات کولای شي د اساسي قانون د احکامو اړونده مسئلې کميسيون ته راجع کړي: ولسمشر، د ملي شورا دواړه مجلسونه، ستره محکمه، د بشري حقوقو خپلواک کميسيون، د ټاکنو خپواک کميسيون او د اداري اصلاحاتو او ملکي خدماتو کميسيون." له دوو کلمو څخه "مشوره او نظر" يوه يې هم الزامي جنبه نلري او هم معانيزو کلمو په ډول کارول کېدای شي. په عمل کې موږ په دې اړه له پيچلتيا سره مخامخ يو، چې آيا د کميسيون نظريې، حقوقي مشورې يا تفسيري نظريات الزامي جنبه لري او که نه؟ په ځينو

شرایطو کې، ولسمشر او ملي شورا د کمیسیون حقوقي نظر له پامه غورځولی. په دې اړه دوه بېلګې د یادونې وړ دي. لومړی بېلګه دا وه، کله چې ولسمشر له کمیسیون څخه د ټاکنو د اختصاصي دیوان د رامنځته کولو په اړه نظریه وغوښتله او کمیسیون هغه د اساسي قانون مغایره وشمېرله. سره له دې چې کمیسیون دغه خبره رد کړه، ولسمشر بیا هم اقدام وکړ او د سترې محکمې له لارې یې دیوان تاسیس کړ. دوهمه بېلګه هغه وه، کله چې د ولایتي شورا قانون په پارلمان کې تر بحث لاندې و او په محلي اداره یې د دوی د څارنې ځواک د اساسي قانون پر بنسټ بېرته واخیست ؛ له هغه وروسته دغه پوښتنه د کمیسیون په وړاندې مطرح شوه. کمیسیون په خپله تفصیلي نظریه کې ښکاره کړه، چې د عادي قوانینو له خوا ولایتي شوراګانو ته د څارنې ځواک ورکول د اساسي قانون له هیڅ حکم سره مغایرت نلري.[۱۲۷] په هر حال، پارلمان د کمیسیون دغه غبرګون ته اهمیت ور نه کړ او قانون یې تصویب کړ، چې له شوراګانو څخه د څارنې ځواک صلب کوي. د دولتي بنسټونو په ځانګړې ډول د پارلمان له خوا چې کمیسیون یې جوړ کړې او ښیې چې د هغه پرېکړې اهمیت نلري. په دې ډول،د اساسي قانون په احکامو کې د پیچلتیا له امله دولتي بنسټونه په خپل سر عمل کوي. په دې برسېره، قانون له کمیسیون څخه غواړي، چې د اساسي قانون د احکامو د ماتونې یا نقض د مواردو رپوټ ولسمشر ته ورکړي ( ۸ ماده (۲) ) . که څه هم د اساسي قانون د لاندې د ولسمشر یو لومړی مسؤولیت دا دی، چې د اساسي قانون له تطبیق څخه څارنه وکړي، د اساسي قانون د نقض موارد د کمیسیون له خوا ولسمشر ته د رپوټ ورکولو په څېر نه شمېرل کیږي. قانون باید د کمیسیون د فیصلو د پای ته رسولو لپاره میکانیزمونه برابر کړي وای او ولسمشر یې په دې مکلف کړې وای چې د اساسي قانون د ماتونې په اړه تدابیر ونیسي او هغه حل او فصل کړي. د کمیسیون له ځینو خپرونو څخه مثالونه ولسمشر ته د کمیسیون له خوا د اساسي قانون اړونده مسئلو په باب مشورې څرګندوي. خو د دغو مسئلو په اړه د وخت د ولسمشر حامد کرزي له خوا هیڅ اقدام نه دی شوی.[۱۲۸]

## ۵.۲ د څارنې د رسالت اجراء کول:

د اساسي قانون پر تطبیق د څارنې خپلواک کمیسیون له شروع څخه د دولت د درې ګونو قواوو په منځ کې له شخړو څخه رنځ وړی. پورته په تفصیل سره بحث وشو، چې سیاسي چاپېریال په څه ډول د کمیسیون تشکیل او وروسته د هغه اجراءات تر نفوذ لاندې راوستي دي. کله چې کمیسیون جوړ شو، د داسې یو بنسټ په څېر نه منل شو چې د اساسي قانون پر بنسټ د څارنې واک ولري. مثالونه یې دا دي. کله چې کمیسیون له قضایي قوې څخه وغوښتل، چې د دوی کارکوونکو ته به په قضایي جلسو کې اجازه ورکړي او جریان یې تر څارنې لاندې ونیسي. د دې غوښتنې په وړاندې غبرګون داسې وه څنګه چې قضایي قوه خپلواکه ده، بنسټونه نه شي کولای چې د محکمې د جلسو د مشاهدې له لارې قضایي قوه تر احتمالي نفوذ لاندې راولي. همدارنګه کله چې کمیسیون وغوښتل هغه زماني موده تر څارنې لاندې ونسیي د کومې په ترڅ کې چې قوانین تصویب کېدل ، پارلمان هیڅ ډول معلومات ور نکړل او په حقیقت کې یې د کمیسیون د څارنې واک له سوال سره مخامخ کړ.[۱۲۹] په دې برسېره ، کمیسیون د حکومت د نورو قواوو تر فشار لاندې وه. دمثال په ډول، د ۲۰۱۲م کال په سپتمبر کې پارلمان، کمیسیون د هغې نظریې له امله استیضاح کړ، چې کمیسیون ښکاره کړې وه. د یو خپلواک بنسټ په حیث کمیسیون د خپلو نظریاتو د وړاندې کولو له امله هیڅ یوه بنسټ ته مسؤول نه دی او له دې امله یې دغه غوښتنه ونه منله. په پایله کې، پارلمان کمیسیون په دې وډار کړ، چې د باور رایه به بیا ترې واخلي، بودیجه به یې محدوده کړي او د کمیسیون په قانون کې به بدلونونه راولي څو واکونه یې کم شي.[۱۳۰]

په دې ډول، د اساسي قانون پر تطبیق د څارنې خپلواک کمیسیون ونه شو کولای د اساسي قانون د ارزښتونو او اصولو په ساتلو او د دولتي بنسټونو په ذریعه د هغوی د نقض کولو څخه په مخنیوي کې لکه څنګه چې تمه کېده اغېزمن نقش ولوبوي. دغه راز، کمیسیون له دې پوښتنې سره سخت بوخت وه، چې آیا د تفسیر کولو واک لري او که څنګه؟ که څه هم کمیسیون د اساسي قانون پر بنسټ د څارنې واک او د تفسیر یو متنازع واک لري، کمیسیون دا ونشو کړای، چې د دې دوو واکونو په منځ کې انډول وساتي او د ډېر ځله یې د تفسیر له ځواک څخه استفاده کړې بې له دې، چې د خپل اساسي رسالت د اجراء لپاره د څارنې میکانیزمونه طرح کړي.

---

۱۲۷ د ولایتي شوراګانو د قانون په مسوده کې د "څارنې" د کلمې د اضافه کولو په اړه د اساسي قانون پر تطبیق د څارنې د خپلواک کمیسیون تفسیري نظریه. (کابل: د اساسي قانون پر تطبیق د څارنې د خپلواک کمیسیون ، ۱۳۹۲، ۲۰۱۳).

۱۲۸ د اساسي قانون د سیستم د تقویه کولو لپاره د ولسمشر له خوا د اقداماتو د نیولو په باب د اساسي قانون پر تطبیق د څارنې د خپلواک کمیسیون حقوقي مشوره ( کابل: د اساسي قانون پر تطبیق د څارنې د خپلواک کمیسیون ، ۱۳۹۰، ۲۰۱۱).

۱۲۹ د اساسي قانون پر تطبیق د څارنې د خپلواک کمیسیون ، سترې محکمې او پارلمان تر منځ مکاتبه . وګورئ په کمیسیون کې د حکومتي نهادونو د څارنې څانګه .

۱۳۰ د کمیسیون د غړیو د استیضاح په مورد کې د ولسي جرګې د جلساتو جریان، د ولسي جرګې د تلویزیون له خوا خپره شوې.

په هر حال، له ۸ کلونو څخه په لږ موده کې کمیسیون وکړای شول، چې د اساسي قانون اړوندو مختلفو موضوعاتو په باره کې له ۸۰ څخه زیات حقوقي، مشورتي او تفسیري نظریات وړاندې کړي. د دغو نظریاتو اساسي ځانګړتیاوې دا وې: لومړی دغه نظریات تر ډېره حده په سیاسي استدلال یا غیر قانوني بیانیو نه، بلکې په حقوقي استدلال ولاړ وو. دوهم ، کمیسیون مختلفو نظریاتو ته غبرګون ښوولی او یوائې له حکومت څخه یې غوښتنې نه دي تر لاسه کړي. په ټوله کې، کمیسیون په خپل ابتکار **۲۹** حقوقي او مشورتي نظریې برابرې کړې دي. په دې کې **۳۱** نظریې د بنسټونو په ارجاع کې، چې په قانون کې په ګوته شوې وې شاملې وې او **۱۴** نورې نظریې د نورو بنسټونو د تقاضا په ځواب کې وړاندې شوې دي.[131] دریم، کمیسیون یو ډېر شمېر بنسټونو ته اجازه ورکړې چې د اساسي قانون په اړه پوښتنې وکړي او خپلې پرېکړې یې په عام ډول څرګندې کړې دي، په دې ډول که په عمل کې د اساسي قانون د ارزښتونو او اصولو په ساتنه کې د کمیسیون او د سترې محکمې کارونه سره پرتله شي، د اساسي قانون پر بنسټ د څارنې خپلواک کمیسیون ډېر فعال پاتې شوی دی. کله چې د اساسي قانون د تفسیر او له هغه سره د مسئلو د تطابق پوښتنې شوې دي، کمیسیون په ډېره جدي توګه عمل کړی دی.

۱۳۱ د تفسیرونو ، حقوقي او مشورتي نظریاتو مجموعه ۲۰۱۰-۲۰۱۴ ( کابل: د اساسي قانون پر تطبیق د څارنې خپلواک کمیسیون ، ۲۰۱۴ ).

# څلورمه برخه: پایله او سپارښتنې

## پایله

د بنسټونو طرح کول د اساسي قانون له مهمو دندو څخه یوه ده. هغو شرایطو ته په کتو سره چې اساسي قوانین پکې معرفي کیږي، اساسي قوانین یا نوي بنسټونه رامنځته کوي، یا د زړو بنسټونو په ځای نور هغه معرفي کوي.[۱۳۲] د افغانستان د نوي اساسي قانون رژیم د طرحه کولو په وخت کې له نیمګړتیاوو سره مخ و او د څارنې د دوو بنسټونو واکونه یې په څرګند ډول نه دي توضیح کړي. د تفسیر د واک پر سر له مخالفتونو سره یو ځای دغو پیچلتیاو نه یوازې د اساسي قانون د تفسیر لپاره د یوې کمیټې د طرحې مخه ونیوله چې د نوي اساسي قانون په نا څرګندو اړخونو رڼا واچوي ، بلکه د قضایي بیا کتنې بنسټ او فعالیت او په افغانستان کې یې د اساسي قانون څارنې ته هم زیان اړولی دی.

سترې محکمې ونه شو کولای د اساسي قانون اړوندو پوښتنو ته په داسې طریقه ځواب ووایي، چې په هیواد کې تر ټولو د لوړ قضایي او عدلي مقام په حیث خپل استقلالیت ، بې طرفي او مسلکي توب وښیي. له بلې خوا ، د اساسي قانون پر تطبیق د څارنې خپلواک کمیسیون- د دولت د درې ګونو قواوو د مخالفتونو محصول- د چوکاټ په اړه د موافقې د نشتوالي او د واکونو د عمومیت له امله په دې هڅه کې و، چې په یوه اغېزمن او قوي بنسټ بدل شي. بې له شکه، دغه وضعیت له خلکو سره اندېښنه پیدا کړه، چې آیا په هیواد کې د سیاسي ځواکونو له خود سریو څخه د اساسي قانون د ساتنې لپاره ساتونکی شته. په داسې شرایطو کې، دولتي بنسټونو د خپلې خوښې او ذوق سره مطابق حل لارې انتخاب کړې چې خپل ځواک وساتي او هغه ته پراختیا ورکړي. په پایله کې د نورو قواوو واکونه محدودیږي او د یو بل په ساحه کې په مداخلو باندې تمامیږي. په یوه هیواد کې دغه ډول چلند د اساسي قانون او د قانون د واکمنۍ لپاره ډېر خطرناک دي.

## سپارښتنې

په افغانستان کې د اساسي قانون د تطبیق ۱۲ کلنې تجربې د قضایي بیا کتنې د مسئلې د حل لپاره اغېزمنې نه وې. له دې امله، افغانستان باید په اساسي قانون کې له تعدیلاتو سره ، دلاندینیو تدابیرو د نیولو له لارې له فرصت څخه ګټه واخلي چې په دې هیواد کې د قضایي بیا کتنې عمل او پر اساسي قانون باندې څارنه تقویه کړي.

په اوږد مهال کې:

دولت باید د اساسي قانون محکمه رامنځته کړي، چې د تېرې لسیزې هغه برياوې وساتي، چې د اساسي قانون په برخه کې لاس ته راغلې دي. یوه خپلواکه محکمه باید د دوو بنسټونو په منځ کې د تفسیر د واک په سر رقابتونه پای ته ورسوي او د دې وس ولري – له الزامي او وروستیو پرېکړو سره – چې د قضایي بیا کتنې ، تفسیر، پر اساسي قانون باندې د څارنې پوښتنو او نورو نیمګړتیاوو ته ځواب ووایي . محکمه باید په افغانستان کې د اساسي قانون پر بنسټ د یوه قوي رژیم له راټوکېدو سره په فعاله ډول مرسته وکړي.

په نژدې راتلونکي کې:

۱. دولتي بنسټونه، په ځانګړي ډول، اجرائیه ، مقننه او قضایي قوې باید د سترې محکمې او د اساسي قانون پر تطبیق د څارنې د خپلواک کمیسیون خپلواکۍ ته درناوی وکړي او هغه رعایت کړي، څو دوی ته د دې اجازه ورکړي، چې د بهرنیو مداخلو څخه پرته خپلې دندې پر مخ بوځي.

۲. ستره محکمه، د اساسي قانون د ۱۲۱ مادې سره سم باید په سملاسي ډول د یوه قانون مسوده برابره کړي، چې د قضایي بیا کتنې ساحه او کړنلارې بیانوي او هغه د منظورۍ لپاره پارلمان ته ولېږي.

۱۳۲ اسل هاردین، "ولې اساسي قانون؟ " د اساسي قوانینو ټولنیز او سیاسي بنیادونه، ایډیټ: میلا ، ورستیګ او ډی جي. ګالیګان، ۲۰۱۳، ۵۱.

۳. ستره محکمه باید یقیني کړي چې قاضیان په ټولو کچو کې د قضایي بیا کتنې له تیوریکي اړخونو او مفهوم سره آشنا وي. قاضیان باید د ارجاع له لارښودونو او د اساسي قانون اړوندو کړنلارو سره بلدیت ولري.

۴. د قضایي قوې حقوقي استدلال په ټولو قضیو کې، په ځانګړي ډول د قضایي بیا کتنې په قضیو کې باید څواکمن شي او په حقوقي استدلال ولاړې وي نه په سیاسي انګېزو. ستره محکمه باید تضمین کړي، چې قضایي پرېکړې په معقول استدلال ولاړې، له تناقض څخه خلاصې او په عام ډول د لاس رسي وړ وي.

۵. قضایي قوه باید د قضا د خپلواکۍ او د قضایي قوې د داخلي ظرفیت او ریښتینوالي لپاره نورې هڅې وکړي. ستره محکمه باید د محکمې د بې طرفۍ د تضمین لپاره اقدامات وکړي، په ځانګړي ډول ، د قضایي بیا کتنې په قضیو کې، څو ډاډ حاصل شي، چې قضایي بیا کتنه د اجرائیه قوې د ګټو د پالنې وسیله نه ، بلکې د چیک کولو لپاره یو میکانیزم دی.

۶. ستره محکمه او د اساسي قانون پر تطبیق د څارنې خپلواک کمیسیون باید په زیاته همغږۍ او همکارۍ کې کار وکړي، چې د اساسي قانون لوړاوی وساتي او په افغانستان کې د قانون له واکمنۍ سره مرسته وکړي. د دوو بنسټونو په منځ کې منفي رقابتونه یوازې د اساسي قانون پر بنسټ ولاړ نظام کمزوری کوي. دواړه بنسټونه باید په لیکلي ډول دې موافقې ته ورسیږي، چې ستره محکمه د اساسي قانون د تفسیر او د اساسي قانون پر تطبیق د څارنې خپلواک کمیسیون د اساسي قانون د بیا کتنې واک لري.

۷. د اساسي قانون پر تطبیق د څارنې خپلواک کمیسیون باید په قانون کې بدلونونه راولي، چې د هغه د واکونو ساحه او قیمومیت (په ځان بسیا کول- ارزښت) تعریف کړي. د حکومت درې ګونې قواوې باید د څارنې کمیسیون په واکونو دوه اړخیزې موافقې ته ورسیږي.

۸. د څارنې کمیسیون باید اغېزمن میکانیزمونه جوړ کړي چې د اساسي قانون پر تطبیق یا د هغه د ماتونې پر مواردو څارنه وکړي. د څارنې کمیسیون باید د اساسي قانون د ماتونې څخه د مخنیوي په لار کې ډېر فعال وي او په منظم ډول له دولتي بنسټونو سره اطلاعات تبادله کړي، چې د اساسي قانون له ښه تطبیق څخه ډاډ تر لاسه شي.

## مرکې:

| شمېره | نوم | عنوان |
|---|---|---|
| ۱ | لطف الرحمان سید | د اساسي قانون پر تطبیق د څارنې د خپلواک کمیسیون مرستیال |
| ۲ | عبدالقادر عدالتخواه | د سترې محکمې د عالي شورا غړی |
| ۳ | قاضي عارف حافظ | د اساسي قانون د څېړنې د خپلواک کمیسیون غړی |
| ۴ | سید قطب الدین رویدار | په پارلماني چارو کې د دولت د وزارت معین |
| ۵ | خدای نظر نصرت | د ولسي جرګې د دارالانشاء لوی رئیس |
| ۶ | غلام حسن ګرا ن | د ولسي جرګې د دارالانشاء پخوانی لوی رئیس |
| ۷ | تیمور شاه قویم | د مشرانو جرګې د دارالانشاء د لوی ریاست مرستیال |
| ۸ | حسن احمد خینجاني | د سترې محکمې د عمومي سکرتر مرستیال |
| ۹ | نثار احمد ملکزی | د سترې محکمې د تدقیق او مطالعاتو عمومي رئیس |
| ۱۰ | قاضي هما علیزوی | د کابل د ځوانانو د لومړنۍ محکمې مشر |
| ۱۱ | شعیب تیموري | د افغانستان د امریکایي پوهنتون د پوهاند/پروفیسر مرستیال |
| ۱۲ | نظام الدین عبدالله | قانونپوه |
| ۱۳ | عبد القیوم حلیم | د سترې محکمې د تدقیق او مطالعاتو د عمومي ریاست غړی |
| ۱۴ | قاضي سیف الرحمان | د سترې محکمې د تدقیق او مطالعاتو د عمومي ریاست غړی |
| ۱۵ | د نوم نه ښودلو غوښتنه | د سترې محکمې د اداري مشر/ د سترې محکمې لوړ رتبه مامور |

# اخځلیکونه


عباس ، اديمولا. بين المللي قانون: متن، قضيې او مواد.

دوهم چاپ، اکسفورډ پوهنتون چاپ ۲۰۱۴.

د تفسيرونو، حقوقي او مشورتي نظرياتو ټولګه ۲۰۱۰-۲۰۱۴،

کابل: د اساسي قانون پر تطبيق د څارنې خپلواک کميسيون، ۲۰۱۴.

د افغانستان د بشري حقوقو خپلواک کميسيون.

"عدالت ته د اتباعو لاس رسی- د ولسمشر د ۴۵ نمبر فرمان د تطبيق په اړه د څارنې راپور" ۲۰۱۲.

په افغانستان کې د قضايي سيستم او د محکمو د اجراءاتو او وضعې په اړه د څارنې رپوټ ۲۰۱۳.

په افغانستان کې د بشري حقوقو وضعيت ۲۰۱۵-۲۰۱۵.

"د افغانستان ټاکنيزې ننګونې "کابل/ بروګسل: د کړکيچ نړيوال ګروپ، جون ۲۰۰۹.

احمدي، محمد امين. "په افغانستان کې د اساسي قانون د تفسير واک" د اساسي قانون پر تطبيق د څارنې خپلواک کميسيون،

اين ډی، http://www.icoic.gov.af

علي وردګ. "په افغانستان کې له جګړو وروسته د عدالت رغونه." ايل- ايس-ای، ان لاين خبرڼې، ۲۰۰۳.

http://eprints.ise.ac.uk/۲۸۳۸۱.

اندرا دي، ګوستافو فرناندس دی. "مقايسوي اساسي قانون قضايي بيا کتنه " د مقايسوي اساسي قانون ژورنال ۳، ګڼه ۳(۲۰۰۱).

د قضايي قوې اساسي اصول، د عمومي اسمبلې قطعنامې

۳۲/۴۰، نوومبر ۲۹، ۱۹۸۵او ۱۴۲/۴۰، ډسمبر ۱۳، ۱۹۸۵.

ميلان، له مجرمينو سره د چلند او د جرمونو د مخنيوي په اړه د ملګرو ملتونو کانګرس، ۱۹۸۵.

بوکنفوردي، مارکوس، نورا هبدلينګ او وينلک واهيو. د اساسي قانون د جوړونې لپاره عملي لارښود ستو کهلم،

سويډن: بين المللي ايډيا، ۲۰۱۱.

ب.او. نوابوزي، په نويو دولتونو کې مشروطه حکومت ، لندن:

س. هرست او کمپنی، ۱۹۷۴.

چميبرلينکي، اروين. "د ناسمو پوښتنو بيه: د اساسي قانون د سکالرشپ او قضايي بيا کتنې په باب يوه مقاله. "د ټکزاس قانوني بيا کتنه

۲۲(۱۹۸۳-۱۹۸۴): ۱۲۱۱.

د سترې محکمې د فيصلو ، لارښودنو او متحد المال مکتوبونو ټولګه ۱۳۸۵-۱۳۸۹(۲۰۱۰-۲۰۰۷).

کابل: د افغانستان د اسلامي جمهوريت ستره محکمه ، ۲۰۱۱.

کامیله، ویکتور فیریدس. "د هسپانیا د اساسي قانون محکمه: د ایفورمونو وخت." د مقایسوي قانون ژورنال ۳، ګڼه ۲(۲۰۰۹): ۲۲-۲۳.

د افغانستان اساسي قانون، مخ ۲(۱۹۲۳)

د افغانستان اساسي قانون ، مخ (۱۹۳۱)

د افغانستان اساسي قانون، رسمي جریده ۱۱۰۹ (۱۹۶۴)

د افغانستان اساسي قانون (۲۰۰۴)

د اساسي قانون پروژه. "د قضایي خپلواکي په اړه د خبري ځانګې لاربنودنه" ۲۰۰۲

http:// constitutionproject.org

د اروپایي قاضیانو مشورتي شورا. د قضایي پرېکړو د وړتیا په باب نظریه. نظریه، ګڼه ۱۱. ستراسبورګ: د اروپا شورا ، ۲۰۰۸.

دانش، سرور، د افغانستان اساسي حقوق (د افغانستان اساسي قانون) درېیم چاپ، کابل: د ابن سینا د لوړو زده کړو انسټیټیوټ ، ۲۰۱۵.

ډیویس ، میشایل ایچ، "د قانون/ سیاست بېلوالی، د فرانسې د اساسي قانون شورا او د امریکا د متحده ایالاتو ستره محکمه."

د امریکا د مقایسوي قانون ژورنال ۳۴. ګڼه ۱ (۱۰۸۲)

د افغانستان د اسلامي جمهوریت له اساسي قانون سره د ډیپلوماتیکي او کونسلګري کارکوونکو د قانون د ۸ او ۵(۱) موادو

د مغایرت په اړه د سترې محکمې د عالي شورا د ۲۰ نمبر پرېکړه. رسمي جریده ، ګڼه ۱۱۱۴، ۲۰۱۳.

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د دولت د مشر فرمان د سترې محکمې د دینی علماوو له خوا د قوانینو د بیا کتنې په باب

رسمي جریده، ګڼه ۷۸۸ (۱۹۹۹).

ډیمپسی، جان او جې الکساندر تیر. "په افغانستان کې د اساسي قانون د تفسیر په سر د بحران حل کول". د امریکا

د متحده ایالاتو د سولې انسټیټیوټ، مارچ ۲۰۰۹.

ډیکسن، روزالیند او کینز بورګ. "د فیصلې نه کولو پرېکړه: د اساسي قانون په طرح کې د تدقیق مسئله." د اساسي قانون بین المللي

ژورنال ۹، ګڼه ۳-۴ (۲۰۱۱).

ایلر، روزلیدا، د افغانستان د اساسي قانون پېژندنه،

کالیفورنیا: د افغانستان د قانوني زده کړو پروګرام، ۲۰۱۳.

فلیز، توماس او چیریل سوندرز، "په مختلفو حقوقي سیستمونو کې د اساسي قوانینو موقف"

او ټلیج د اساسي قانون درسي کتاب، ایډیټ: مارک وي توشنیت، توماس فلیز او چیریل سوندرز،

۲۲-۲۸. ابینګدن، جایس جي. د قضایي نظریې د لیکلو درسي کتاب، پنځم چاپ. یوفالو، نیویارک: هاین او کمپنی، ۲۰۰۷.

"غني د کورنیو چارو نوی وزیر او لوی څارنوال تعینوي. "

روتیرز، ۲۴ فبروري ۲۰۱۲ مخ ۷۸

ګینز بورګ ، ټام. "د اساسي قانون مقایسوي بیا کتنه" د امریکا د متحده ایالاتو د سولې انسټیټیوټ، مفصله لیکنه، ۲۰۱۱.

http://www.Visp.org

ګروتي رینر، "د افغانستان په نوي اساسي قانون کې د قواوو تفکیک." زاروف ۲۴ (۲۰۰۴).

۸۹۷-۹۱۵.

حمیدي ، فرید ، او ارونی مایا کودي، د افغانستان په اساسي قانون کې د قواوو تفکیک : د قضیې څېړنه. کابل: د افغانستان

د څېړنې او ارزونې واحد ، ۲۰۱۵.

هاردین، رسل، "ولې اساسي قانون؟" : د اساسي قانون ټولنیز او سیاسي بنسټونه، ایډیټ: میلا ورسټیګ او ډي. جي. ګالیګان، ۵۱، ۲۰۱۳.

هارټ، ایچ. ایل. اي. د قانون مفهوم. دویم چاپ،

د کلاریډون د قانوني خپرونې. اکسفورډ: کلا ریډون مطبعه، ۱۹۸۸.

هیرشل ، این. "د سیاست قانوني کول." د اکسفورډ د سیاسي علومو درسي کتاب. ایډیټ: روبرټ اي. ګوډین.

اکسفورډ: د اکسفورډ د پوهنتون چاپ، ۲۰۱۱.

هوروو یتخ، دونالدایل. "د اساسي قانون محکمې : د پربکړو کولو لپاره عالی مقام." د دیمو کراسي ژورنال ۱۷، ګڼه ۴( ۲۰۰۷).

د اساسي قانون محکمې : فرصتونه او نیمګړتیاوې. د اساسي قانون نیټ، ۲۰۰۳......مخ ۷۸

د کړکېچ نړیوال ګروپ، "د افغانستان د نیمګړې قضایي قوې اصلاحات." کابل/بروکسل: د کړکېچ نړیوال ګروپ، نوومبر ۲۰۱۰.

د ولایتي شوراګانو د قانون په مسوده کې د "څارنې" د کلمې د اضافه کولو په اړه د اساسي قانون پر تطبیق د څارنې خپلواک کمیسیون تعینيږي نظریه.

کابل: د اساسي قانون پر تطبیق د څارنې خپلواک کمیسیون، ۱۳۹۲/۲۰۱۳.

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د سترې محکمې ۵ نمبر فیصله.

رسمي جریده ، ګڼه ۹۸۲، ۲۰۰۹.

کاژوروفسکا ، الینا ، بین المللي عامه قانون. څلورم چاپ، اکسون او نیویارک : او ټلیم، ۲۰۱۱.

کمالي، محمد هاشم. "د افغانستان اساسي قانون ۲۰۰۴: د تفسیر په باب اسلامي نظریه " د امریکا د متحده ایالاتو د سولې انسټیټیوټ ، ۲۰۰۹.

د افغانستان د اساسي قانون لس کلونه موضوعات کوم دي؟

کابل: د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد ، ۲۰۱۴.

د کرزي په دوران کې د اجرائیه قوې او پارلمان په منځ کې اړیکې او د اساسي قانون د تفسیر او حکمیت مساله.

ایډیټ: تیلمن جي. اودر او سید حمید ضیا. حمیده برمکي- د قانون د واکمني سازمان – خپرونی، ګڼه ۱۰( ۲۰۱۵).

د اساسي قانون د شورا په اړه قانون، رسمي جریده ، ګڼه ۲۸۲(۱۹۸۸).

د اساسي قانونو د شورا په باب قانون ( د طالباتو رژیم )،رسمي جریده ، ګڼه ۷۹۷ (۲۰۰۱).

د اساسي قانون د سیستم د تقویه کولو لپاره د ولسمشر له خوا د اقداماتو په هکله د اساسي قانون د تطبیق پر سر د څارنې د خپلواک کمیسیو ن

حقوقي مشوره. کابل: د اساسي قانون د تطبیق پر سر د څارنې خپلواک کمیسیون ، ۲۰۱۱/۱۳۹۰.

مربري او ماډیس ، ۵ ، د امریکا متحده ایالات ۱۳۷ (۱۸۰۳).

مارتین لو. "د افغانستان د حقوقي سیستم او د نړیوالو بشري حقونو له معیارونو سره د هغه د تطابق په هکله ورستی رپوټ." د حقوق پوهانو بین المللي کمیسیون،

. ۲۰۰۳

میری من، جان هینری. د مدني قانون کتنه: د لویدیځې اروپا او لاتینی امریکا د حقوقي سیستمونو پېژندنه. دوهم چاپ، ستانډ فورډ

کالیفورنیا: د ستانډ فورډ د پوهنتون چاپ، ۱۹۹۰.

د پارلماني چارو وزارت. "د ملي شورا د ولسي جرګې رئیس ته ۹۴۵ نمبر لیک چې د ملي شورا د خپلواک کمیسیون د تصویب شوي قانون د مستردولو دلایل د ولسمشر له خوا بیانوي." می ۲۰۰۷.

نعیم عبد الله احمد، په افریقا کې مشروطه حکومتونه او د اسلام د دین نقش. فیلا دلفیا: د پنسیلوانیا د پوهنتون چاپ ، ۲۰۰۶.

نجیب الله فرنګیس. د کرزي مخالیفینو د سترې محکمې فیصله د اساسي قانون مغایره وګڼله او شدید انتقاد یې پرې کړی دی. ازادی راډیو،

مارچ ۳۰، ۲۰۰۹. مخ ۸۰

پېج، ادوارډ. د شمبر له مخې حکومت کول: فرمایشي قانون او ورځنۍ پالیسي جوړونه. اکسفورډ- پورټ لینډ: هارټ د مطبعې چاپ، ۲۰۰۱.

د تعلیمي سندونو د ارزیابۍ قواعد ، رسمي جریده ، ګڼه ۱۰۶۲ (۲۰۱۱).

د سیاسي ګوندونو د تاسیس او ثبتونې قواعد ، رسمي جریده ، ګڼه ۱۰۲۲ (۲۰۱۰).

د تقنیني سندونو برابرولو او پروسیس کولو قواعد ، رسمي جریده ۱۰۸۱ (۲۰۱۲).

روریرز، کریستین. "د زیان مخنیوی د اوس لپاره ؟ له ښځو پر علیه خشونت د قانون په اړه یوه لنډه مناقشه."

د افغانستان د تحلیل ګرانو شبکه ، می ۱۸، ۲۰۱۳. مخ ۸۰

روبین بارنیت آر. "د افغانستان لپاره د اساسي قانون جوړونه." د دیموکراسي ژورنال ۱۵، ګڼه ۳( ۲۰۰۴).

د قضا سالنامه ( قضاییي کلنی ): د قضاییي قوې برياوې او فعالیتونه. جلد ۱ ، کابل: د افغانستان ستره محکمه ، ۲۰۱۴.

شوسول، میشایل. "په خطر کې د دولت د رسمي بنسټونو سره د نړیوال قانوني چوکاټ نښلونه: د جګړو په وروسته افغانستان کې د اساسي قانون

جوړونه او نړیوال قانون." واندر بیلت د بین المللي قانون ژورنال ۳۹، ګڼه ۸۱۹(۲۰۰۶).

شوارتځ، هرمن. "د اساسي قانون محکمې او د بشري حقونو تطبیق." مشروطه حکومتونه او د انتقال دوره: افریقا او شرقي اروپا، ایډیټ:

میشایلا سربن روزن، وارسا : د بشري حقونو لپاره د هلسنکي بنیاد ، ۲۰۰۳.

سکاټ ګورډون. د دولت کنټرولول: مشروطه حکومت له لرغوني قانون څخه تر نن ورځې پورې د هارورډ د پوهنتون چاپ ۱۹۹۹.

شا مالکولم این. بین المللي قانون ، ۵ چاپ، کامبریج او نیویارک : کامبریج پوهنتون چاپ، ۲۰۰۳.

سټون سویټ، ایس . قاضیان او حکومتولي: په اروپا کې د مشروطه حکومت سیاست. اکسفورډ ، نیویارک: د اکسفورډ پوهنتون چاپ، ۲۰۰۰.

"اروپا ولي امریکایي قضایي بیا کتنه مسترده کړه – او ولي به اثر ونلري .؟" د میشیګان قانوني بیا کتنه ۱۰۱ ( ۲۰۰۳-۲۰۰۲).

سټرانګ ایس ای. "د معقولو فیصلو او نظریو لیکل : د نویو تجربه کارو او بهرنیو قاضیانو لپاره لارښود ." د مخالفتونو د رفع کولو ژورنال ۱۰۱۵، ګڼه ۱ (۲۰۱۵).

د افغانستان اساسي قانون ( ۱۹۸۷).

توشنیت مارک. "د قضایي بیا کتنې نوي شکلونه او په حقوقو ټینګار – او د دیموکراسي پر بنسټ اندېښنې. " د ویک فارسټ لا بیا کتنه ۳۸ (۲۰۰۳): ۸۱۳-۱۴

د معاهدو د قانون په هکله د ویانا تړون (۱۹۲۱).

وینټر بوتمن – ایمیلی. په افغانستان کې د انتقالي عدالت وضعیت: فعالین ، روشونه او ننګونې

کابل: د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد ، ۲۰۱۰.

# د غبرګون او نظرونو غوښتنه

د AREU اداره ډېره لېواله ده چې د دغې څېړنې د کاروونکو نظرونه واوري. که تاسو زموږ د خپرونو یو دوامداره لوستونکي یاست، د AREU لیکچر یا ورکشاپ کې مو ګډون کړی، کتابتون یې کاروئ، یا یوازې په دې وروستیو کې له دغه ادارې سره بلد شوي یاست، ستاسو نظرونه او غبرګون زموږ لپاره ارزښت لري. دغه نظرونه موږ سره مرسته کولی شي چې خپلې موخې په لا ښه ډول لاسته راوړو او د څېړنې په اړه خپلې تګلارې او د پایلو د شریکولو طریقې و ارزوو. د نظرونو شریکولو تر ټولو اسانه لار موږ ته ایمیل کول دي: areu@areu.org.af

یا کولی شئ موږ ته زنګ ووهئ: ۰۰۹۳۷۹۹۲۰۸۵۴۸. تاسو چې هر څه غواړئ موږ ته یې ویلی شئ، خو په ممکنه ډول یو څه ګټور مالومات دا دي:

- تاسو له AREU سره څنګه اړیکه نیسئ (یعنې د خپرونو، غونډو یا نورو لارو)؟
- تاسو د AREU له څېړنو څخه د څه لپاره کار اخلئ؟
- تاسو د AREU خپرونې څنګه لاسته راوړئ؟
- تاسو د څېړنو بریښنایي که چاپ شوی ښه کاروئ؟
- خپرونې څنګه کولی شي تاسو ته مالومات په لا ښه ډول وړاندې کړي؟
- زموږ د څېړنې د بهیرونو یا پایلو په اړه ستاسو نظرونه؟
- هغه برخې یا موضوع ګانې چې تاسو یې په اړه د څېړنو ترسره کېدو سپارښتنه کوئ؟
- د AREU هغه خپرونې یا فعالیتونه/غونډې چې ستاسو ډېرې خوښېږي؟
- ستاسو په اند موږ په کومو برخو کې خپل کار ښه کولی شو؟
- ستاسو د خوښې یا لېوالتیا ډګر، دنده یا څېړنه، او دغه راز موقعیت؟

# د AREU وروستۍ خپرونې

ټولې خپرونې له www.areu.org.af وېبپاڼې ډاونلوډولی شئ، او ډېرې یې په چاپ شوی یا هارډکاپي بڼه په کابل کې د AREU له دفتره هم لاسته راوړلی شئ.

| نیټه | د خپرونې نوم | لیکونکي | په دري ژبه لاس ته راتلونکي | په پښتو ژبه لاس ته راتلونکي | د څېړنې موضوع | د خپرونې ډول |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د۲۹۳۱ کال د لړم میاشت | په افغانستان کې د کوچی - بزګر ترمینځ د شخړو څېړنه | داکتر انتونیو ګیستوزي | | | ټولنیز ملاتړ او معیشت | لنډیز |
| د۲۹۳۱ کال د زمری میاشت | په افغانستان کې قضایي بیا کتنه | غزال حارس | √ | √ | اساسي قانون | د پالیسۍ نوټ |
| د۲۹۳۱ کال د زمری میاشت | په افغانستان کې د اجرائیه قوې تکامل: تیر ته کتنه او راتلونکې لپاره وړاندیزونه | کاوون کاکړ، توماس کریمر، همایون رئوفی | √ | √ | اساسي قانون | د پالیسۍ نوټ |
| د۲۹۳۱ کال دغبرګولیمیاشت | په افغانستان کېښاري حکومتولۍ: د ښارونو د پراختیایي پروګرام ارزونه | دتلیف کامیر، ذبیح الله عیسی | √ | √ | حکومتولۍ او سیاسي اقتصاد | د پالیسۍ نوټ |
| د۲۹۳۱ کال دغبرګولی میاشت | د کانونو حکومتولۍ: داستخراجی صنعتونو د مالیو اغیزناک مدیریت | جاوید نورانی، نجیب الله زیار | √ | √ | حکومتولۍ او سیاسي اقتصاد | د پالیسۍ نوټ |
| د۲۹۳۱ کال دغبرګولی میاشت | دکډوالۍحکومتولۍ: په افغانستان کی د مفاهیمو او نهادونو کاری چوکات وده | ولی محمد کنډیوال، هلن سی سی | √ | √ | حکومتولۍ او سیاسي اقتصاد | د پالیسۍ نوټ |
| د ۲۰۱۲ کال د جولای میاشت | په افغانستان کې د ښې حکومتولۍ په اړه د مدني ټولنې ونډه | اورځلا اشرف نعمت او کارن ورنر | √ | √ | مدني ټولنه او حکومتولي | څېړنپاڼه |
| د ۲۰۱۲ کال د جولای میاشت | په افغانستان کې سیمه ییزه حکومتولي | آریا نجات؛ کریستوف ګوستانۍ بصیرفدا او جان کویهلر | | | سیمه ایزه حکومتولي | څېړنپاڼه |
| د ۲۰۱۲ کال د جولای میاشت | خلکوته د حکومت نږدې کول: په افغانستان کې د پلان او بودجې جوړولو غیر متمرکز کول | نعمت الله بیژن؛ فرحت امیل او هارون نایب خیل | | | ولایتی پلان او بودجه جوړول او حکومتولي | څېړنپاڼه |
| د ۲۰۱۲ کال د مې میاشت | د استخراجي سکتور لپاره د حکومتولۍ انډولیز اقدام | جاوید نوراني او لیین دی بروکییر | | | د کانونو کیندنه او حکومتولي | څېړنپاڼه |
| د ۲۰۱۲ کال د مي میاشت | له سرحد څخه پورې خوا د اوبو د سرچینو انکشاف: د افغانستان، ایران او پاکستان ترمنځ د همکارۍ لیدونه کوم دي؟ | وینسنت توماس، مجیب احمد عزیزي او خالد بهزاد | | | د طبیعی منابعو مدیریت | څېړنپاڼه |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د ۲۰۱۲ کال د مې میاشت | نارینه او «نارینتوب» ته نږدې کتنه: د جنسیت په برابروالي کې د هغوی فعاله ونډه اخیستنه | لیبه ویلفریدا ار ای پیلا نگو، چونه آر ایچاوز، پرویز (طفیل)؟ سید مهدي موسوي | √ | √ | جنسیت | د پالیسۍ یادډښت |
| د ۲۰۱۲ کال د اپریل میاشت | د شگو پربنسټ جوړ شوی دولت: ترياکو افغانستان څنگه کمزوری کړ | دیوید مانسفیلد | | | د طبیعي منابعو مدیریت | کتاب |
| د ۲۰۱۲ کال د اپریل میاشت | د کندهار په ولایت کې د ساحوي کار لنډ یادښت، د ۲۰۱۵ کال له ډسمبر څخه د ۲۰۱۲ کال تر جنوري پورې: ترياک او په کليو کې معيشيت | پاول فیشتین | √ | √ | د طبیعي منابعو مدیریت | لنډیز |
| د ۲۰۱۲ کال د مارچ میاشت | له آیساف څخه وروسته د افغانستان ملي اردو | انتونیو جیوستوزي او علی محمد علی | | | حکومتولي | معلوماتي سند |
| د ۲۰۱۲ کال د فبروري میاشت | شیطان په جزئیاتو کې ده: په ننگرهار کې یاغیتوب، تاوتریخوالی او په پراخه کچه د مخدره توکو د تولید پرله پسې کمښت | دیوید مانسفیلد | √ | √ | د طبیعي منابعو مدیریت | لنډیز |
| د ۲۰۱۲ کال د فبروري میاشت | په افغانستان کې د زده کړې او روغتیائي خدمتونو د وړاندې کولو سیاسي اقتصاد | AREU | | | حکومتولي او سیاسي اقتصاد | څیړنپاڼه |
| د ۲۰۱۲ کال د جنوري میاشت | په کورنیو کې د اوبو نه خوندیتوب: په افغانستان کې د ښې کرنې لپاره د ځنبلو اوبو ته د پایښت لرونکي لاسرسي بدلون | توماس وینسنت | √ | √ | پایښت لرونکی معیشیت | د بحث لپاره لیکنه |
| د ۲۰۱۲ کال د جنوري میاشت | د جنسیتي نا برابرۍ بل اړخ: په افغانستان کې نارینه او نارینتوب | چونا ار. ایچاویز؛ سید مهدي موسوي، او لیبه ویلفریدا آر ای پیلانگو | √ | √ | جنسیت | څیړنپاڼه |

AREU

څېړنې د ښه افغانستان لپاره

ټولی خپروني په دغه پاڼه کې د راښکته کولو لپاره www.areu.org.af لاس ته راوړی شی.

په کابل کې ددغه ادارې په دفتر کې چاپ شوی کاپیانې هم موجودی دی.


**د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره**

لسمه ناحیه، لومړی سړک، نوی ښار،
کابل، افغانستان

تیلفون: ۵۴۸ ۲۰۸ ۷۹۹(۰)۹۳+

بریښنالیک:publications@areu.org.af

ویب پاڼه:www.areu.org.af



ISBN 978-9936-628-88-5